


# د اسلام اعجاز

## دوهم ټوک

ليکوال:جندالله الخراساني

کتاب د جوړېدو تاريخ:۵/۳/۱۴۰۴

## لړلیک

سریزه ........ 6
کن فیکون ........ 16
په دښته کې یوه ګوتمۍ ........ 20
د معاصر ساینس وعده الله کړې وه ........ 32
آسماني برجونه او کهکشانونه ........ 37
د ګڼو کائناتونو تصور(Multiverses) ........ 41
د کائناتو عظمت ........ 45
د کاینات عمر ........ 48
قطبونه ........ 59
شعور لرونکي کائنات ........ 61
ډیر لمرونه او سپوږمۍ ........ 68
د لمر رڼا او د فرضي لمنځونو منعاتو وختونه ........ 72
د سره ګل غوندې اسمان ........ 76
ولې په قرآن کریم کې لومړی د ځمکې پیدایښت ذکر شوی او بیا د اوو آسمانونو؟ ........ 80
د ځمکې څخه ترټولو ځلیدونکی اسماني اجرام او د سپوږمۍ فزیکي حالت ........ 83
سپوږمۍ پخوا یو سوځېدونکی سیاره وه، بیا یې رڼا ختمه شوه ........ 90
د نجوم او کوکب ترمنځ تفکیک ........ 99
د لمر سجده ........ 103
لمر یو ستوری او د لمر محوري دوران ........ 108
د اسماني اجرامو د عبادت رد ........ 113
د ستورو د ځایونو اعجاز ........ 118
د GPS بدیل ........ 123
د جنت مقامونه او د سیارو په څېر لوړوالی ........ 125
د لمر او د اسمان حقیقي رنګونه ........ 131
د ځمکې او اسمانونو تسخیر ........ 135
د فلکیاتو سجده ........ 141
لمر د ښکرونو ترمنځ راختل ........ 144
ولې اسمان ساتل شوی چت دی؟ ........ 148
د سترګو تسحیر ........ 152
الله جل جلاله او د زمان خالقیت ........ 155
ولې حج یوازې په ټاکلو میاشتو کې فرض شوی دی؟ ........ 163

ایا ځمکه د شپې پوښل کیږي؟............................................................ 171
د کائنات د عمر په رڼا کې د قیامت نږدېوالی.................................................. 177
د اوسپنې باران.................................................................................... 178
د سړه او ګرمی سرچینه ........................................................................... 180
د بحر لاندې اور او د اور لاندې بحر .......................................................... 185
خوټېدونکي چیني.................................................................................. 190
د انسان خلقت د اوبو او خاورې ................................................................. 194
د رحم نریوالی او پرسپدنه......................................................................... 197
د رحم د دېوال سره ځوړند حالت................................................................... 200
د انسان کروموزوم شمېر ........................................................................... 201
د غرونو او بېړیو جوړښت ......................................................................... 203
مقناطیسي احساس.................................................................................. 206
خیواناتو ژبې........................................................................................ 208
تیز ځښونکي خیوانات............................................................................... 211
د بریښنا د ځواک ................................................................................... 213
شپني خیوانات....................................................................................... 216
د پیغمبرانو د نومونو معناګانې ................................................................... 219
.................................................................................................... 227
د غرونو په شان څپې.............................................................................. 227
د جنین وده او د څېرې جوړښت .................................................................. 230
ځمکه له پولو کمیږي................................................................................ 232
میوزس او د حجرو وېش ........................................................................... 235
د خړوب شوې غوښې ټوټه" ....................................................................... 237
د رحم خوندیتوب..................................................................................... 240
د هډوکو جوړښت او د هډوکو پر میسرو غوښو پوښل........................................... 243
په دریو تیارو کې تخلیق ............................................................................ 246
منی – یو ترکیبي مرکب............................................................................. 249
د انسان د تناسلي غړو (تولیدي اعضاؤ) ربښنی ................................................. 252
د ماشوم د زیږون لپاره د لارې اسانه کول........................................................ 254
او تغذیوي معجزه ................................................................................... 256
دا نړۍ د رحم په څېر ده .......................................................................... 260
د انساني بدن تر ټولو کره پیښنتی.................................................................. 262
د شیطان او د وینې جریان ......................................................................... 266

د ښځینه خشراتو یادونه........................................................................................................ 268
د قرآن کریم او د اسلام ضد تعصب........................................................................................... 277
د قرآن کریم د خلقت د معجزو په اړه غور ................................................................................. 279
د شکار کوونکو مرغانو (Raptors) په اړه ..................................................................................... 281
د باغونو روغتیایي ګټې........................................................................................................ 283
ښځینه عنکبوت ................................................................................................................... 285
د باد او وریځو موقیعت ......................................................................................................... 288
د بادونو د باروری ځانګړتیاوې ................................................................................................ 290
سجیّل (پومیس) ډبرې ........................................................................................................... 292
د ځمکې درزونه .................................................................................................................. 296
ځمکنۍ درزونه(Sinkholes) ...................................................................................................... 298
مېچایل هارټ ولې محمد صلی الله علیه وسلم د نړۍ تر ټولو اغېزناک انسان وباله؟ ........................... 300
تر ټولو نازک کور د عنکبوت دی ............................................................................................... 303
د غرونو پیدایښت................................................................................................................. 305
ټکټونیکي تختې(Tectonic Plates) ............................................................................................ 307
..د غرونو لاندې څه دي؟......................................................................................................... 309
د مرغانو الوتنه.................................................................................................................... 312
د ځمکې نه بهر ژوند(Extraterrestrial Life) ................................................................................. 314
د ځمکې کرویت د فجر په سپین تار کې ...................................................................................... 316
د کهف د اصحابو خوب.......................................................................................................... 319
د عدت د ۱۳۰ ورځو علمي اعجاز ............................................................................................. 321
د دروغو پرمهال د سترګو توره برخه ......................................................................................... 326
_انسان ته ترټولو نیژدې رګ .................................................................................................... 328
د انسان د پوستکي د حافظې علمي نښه...................................................................................... 331
ولې یواځې اورېدنه (سمع) له ایمان سره تړل شوې ده.................................................................... 333
د اوبو تسبیح........................................................................................................................ 337
د غوږ کاسې(Eardrum) ........................................................................................................... 339
ژبه او انسان ........................................................................................................................ 342
زړونو زنګ کیدل ................................................................................................................... 347
ویژوال ورډ فورم ایریا(VWFA) "............................................................................................... 350
د زیتون د تېلو ربا – پرته له اوره............................................................................................... 352
د هډوکو کمزوري کېدل........................................................................................................... 354
بدلون ورکول........................................................................................................................ 356

ویره ـــ له زړه سره تړاو ........................................................................ 358
د برېښنا له امله لندمهاله فلج........................................................................ 360
د اسلام نه ختمېدونکی آواز........................................................................ 362
د اذان عددي اعجاز........................................................................ 366
د سورة النساء آیت ۱۲ اعجاز او د موروثاتو د ۱۲ وارثانو عددي رابطه ........................................ 369
ښکاره او پټ عددي اعجاز ........................................................................ 374
د حضرت نوح علیه السلام د ۹۵۰ کلونو د پاتې کېدو او د آیت ۱۴ ترمنځ عددي اړیکه ........................ 376
سورة مریم د قرآن کریم........................................................................ 379
د الله ج په خلقت کې د بدلون هڅې........................................................................ 382
قلم به ښکاره شي :د قیامت له نښو څخه ........................................................................ 390
د فحشا بربنډتوب........................................................................ 391
سړي به د ښځو په څېر شي او ښځې به د سړیو........................................................................ 395
د انسان شکل بدلول ........................................................................ 400
شرابو مختلف نومونه ........................................................................ 402
د وخت تیز تیریدل ........................................................................ 404
د ټیکنالوجۍ اړوند ........................................................................ 406
عجیب اختراعات،او د نبي کریم ص اعجاز........................................................................ 409
اعمال به د قیامت په ورځ حاضر وي........................................................................ 412
د ګوګل سمارټ بوټان او ګرځنده موبایل........................................................................ 414
مخبراتي ټیکنالوجی........................................................................ 419
په DNA کې د الله تسبیح........................................................................ 420
امام مبین اوDNA ........................................................................ 424
د کتابونو خپریدل........................................................................ 428
ډیجیټل کتابونه........................................................................ 431
فخشا او بربنډتوب ........................................................................ 436
د نیالګي ژړا........................................................................ 440
د اسلام اعجاز په زوبولوژي کې ........................................................................ 442
د نباتاتو انټرنېټي شبکه – (Wood Wide Web)........................................................................ 446
د الله ج کلمات ...او د ونو DNA ........................................................................ 448
د خیواناتو ژوبڼونه ........................................................................ 451
پیرامېډونه او سیندونه ........................................................................ 453
پومپۍ ښار........................................................................ 456
د جنّاتو د تسخیر معجزه او د لېنه (لِینَة) سیمې ابهامناک کوهي........................................................................ 458

ولي فرشتې (ملائکه) د سحر او مازديګر پر مهال ځمکې ته راکوزيږي او ډيرې راټوليږي؟......................... 461
د انسان له خوا تر ټولو ژور سوري (کولا سوپرډيپ هول) ............................................................. 467
بينايي او د زاړه عمر د نظر کمزوري................................................................................................ 470
د سمندرونو تياره ....................................................................................................................... 472
MANTLE (مانټل) ........................................................................................................................ 476
د hemochromatosis نومي ناروغي ............................................................................................... 481
د غواړو شحوم حراموالي................................................................................................................ 486
محيض يوه طبّی ضررناک مرحله ده................................................................................................. 491
د نبوي سنت د حکمت اعجاز او د ميو کلينيک تأييد ......................................................................... 494
څنګه الله تعالی د بنی آدم نسلونه د ځان شاهدان کړل؟ او دا د هغوی له ظهور (شا) سره څه تړاو لري؟......... 503
ولې ښځو ته د سرو زرو اغوستل روا دي، خو نارينه وو ته حرام؟ .......................................................... 511
بادرنګ او کجورې.......................................................................................................................... 516
د اسلامي ذبحې اعجاز.................................................................................................................... 521
.............................................................................................................................................. 525
د غصې کنټرول علمي او نبوي نسخه ............................................................................................. 525
ولې الله ج" ظلمات "(تيارې) جمع راوړي، خو" رعد "او" برق "مفرد؟ ................................................. 528
د ښځې مني رنګ.......................................................................................................................... 532
يوه مطالعه چې د داروين نظريه تر پوښتنې لاندې راولي.................................................................... 534
زيت الزيتون او د بهاق درملنه ....................................................................................................... 536
سجده او" العصب الحائر(Vagus Nerve) " .......................................................................................... 540
د"بلوغي سن "اعجاز او د دماغ د ودې علمي کشف .......................................................................... 544
قرآن نُور دی ................................................................................................................................. 547
رحم د ژوند ونه............................................................................................................................. 551

# سريزه:

## د کتاب ځانګړنې:

د کتاب نوم: د اسلام اعجاز "دوهم کتاب"

د لیکوال نوم: قدرت الله درمان

کمپوز او ډیراین : قدرت الله درمان

د کتاب د جوړیدو کال: ۲۰۲۵

د چاپ شمیر: ناچاپ

د کتاب اړوند نظریات مو په دې پته ولیږی:

ایمیل ادرس:quratullahdarman895@gmail.com

د واټساف شمیره:۰۷۶۶۳۱۵۴۳۳

**د مؤلف اوړوند:** قدرت الله ولد یي نسیم الله د هغه مستعار نوم ”جندالله الخراساني” دی هغه په کال ۱۳۸۲ د اسد په ۱۵ د افغانستان په خوست ولایت کې زیږیدلی دی او په ۱۴۰۱کال یي د محمد صدیق روهي لیسي څخه د دولسم سند ترلاسه کړي او لا هم د زده کړو په جریان کې دی د نوموړي یوازینی هیله همدا وه چې د اسلام معجزات ټول د قران او د حدیثو څخه یوه مجموعه کړي که څه هم د قرآن اعجازات لا مخدود دي خو بیا هم خراساني وروړ تر خپله وسه خپله هڅه خاص د الله ج د رضا په خاطر کړي د دې کتاب لیکلو هدف او هیله یي دا ده چې مسلمانان دې قران کریم او حدیثو معجزاتو څخه د ایمان په لوړوالي کې ګټه پورته کړي او د الحاد رد پرې وکړي او د اسلام اعجازات د نورو سره هم شریک کړي تر څو د الحاد تیارې پرې رڼا کړي باذن الله تعالی.

په همدې هیله ستاسو کشرى وروړ

جندالله الخراساني

علمي الهامونه او مراجع:

په دې کتاب کې، د شخصي څېړنو او تحليلونو ترڅنګ، د نامتو ترکی عالم او څېړونکي ډاکټر نورالدين ايرم اورنک (Nurettin Irem Örnek, MD) له ارزښتناکو علمي تحقيقاتو څخه هم استفاده شوې ده .ډاکټر اورنک د ترکيې د استانبول پوهنتون د Cerrahpaşa طبي پوهنځي له فزيکي طب او بيا رغونې څانګې سره تړلی Post-Doctoral Researcher دی .نوموړی په ځانګړي ډول د فزيکي درملنې، عصبي بيا رغونې، او د عضلاتي-هډوکي سيستم د ناروغيو په برخه کې ژورې څېړنې لري.

د هغه زيات شمېر علمي مقالې او تحليلي نظريات دا ثابتوي چې د انسان فزيکي جوړښت، د هغه روغتيايي نظام، او د بدن د غړو تعامل د قرآن کريم له اعجازی پيغامونو سره ژوره اړيکه لري .هغه د طب، فزيولوژۍ، او قرآني اشاراتو ترمنځ داسې علمي اړيکې روښانه کړي، چې هم د قرآني اعجاز حقيقت ته نوې علمي ژورنه ببښي، او هم د معاصر انسان د درک او پوهې افق پراخوي.

په همدې بنسټ، د" اسلام اعجاز "کتاب ځينې برخې د ډاکټر اورنک له څېړنو او علمي ليدلوري څخه الهام اخيستی، تر څو لوستونکي د اسلام د علمي اعجازونو د لا ښه درک امکان ومومي.

Nurettin Irem Örnek:

https://www.facebook.com/nurettin.ornek

دوکتور محمد غلوش:

دوکتور محمد غلوش د عصري اسلامي علومو له وتلو څېړونکو او مفسرینو څخه دی، چې د قرآن کریم د اعجاز، تعبیر، او تفسیر په برخه کې یې ډېر مهم علمي خدمتونه کړي دي .نوموړی د قرآن د علمي اعجاز د توضیح، تحلیل، او بیان په برخه کې ځانګړې مهارت لري او د ده لیکنې په علمي، ساده، او تأثیري انداز لیکل شوي، چې لوستونکي ته هم عقلي قناعت ورکوي او هم ایماني انګیزه.

د دوکتور محمد غلوش ډېرې لیکنې د قرآن کریم د علمي اعجاز موضوعات رانغاړي، چې زموږ د کتاب" د اسلام اعجاز "لپاره یې مهم معلومات او لیدلوري برابر کړي دي .د هغه لیکنې موږ سره دا مرسته کوي چې د قرآن کریم حقانیت د ساینس له اړخه هم ښه ثابت کړو.

https://www.facebook.com/profile.php?id=10006441200
1067

https://www.facebook.com/IslamicMiraclesIIN

**نظر کتنه:**

د «د اسلام اعجاز » د لومړي او دوهم کتاب څخه د درونند او محترم شیخ الحدیث، مفسر قرآن، مولانا خیرالله شاه صاحب ( حفظه الله تعالی) نظر کتنه کړي. الله جل جلاله دې د دوی دا علمي خدمت قبول کړي، د دوی په علم،

اخلاص، عمر او عمل کې برکت واچوي، او دا ښکلي هڅه دې د قیامت په ورځ د دوی د نجات د رب رضا او اجر سبب وګرځي.

موږ له الله تعالی نه دعا کوو چې دا کتاب د مسلمانانو لپاره د پوهې او بصیرت سبب وګرځې، او د غیر مسلمانانو لپاره د هدایت، حقیقتپېژندنې او د حق لوري ته د رجوع وسیله شي.

د الله (ج) په خلقت کې د تدابر بلنه:

الله تعالی د خپل خلقت په اړوند موږ ته په قرآن کریم کې په بې شمېره آیتونو کې د تدبر بلنه راکړې .د خدای ج د کایناتو هر جز، لکه اسمانونه، ځمکه، او د شپې او ورځې بدلونونه، د هغه د لایتناهي حکمت نښې دي .قرآن کریم موږ ته لارښوونه کوي چې په دې ټولو پدیدو کې فکر وکړو، ترڅو د الله د قدرت او عظمت درک وکړو

**[سُوْرَةُ البَقَرَة]164 :**

إِنَّ فِى خَلْقِ السَّمَٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَٰفِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَالْفُلْكِ الَّتِى تَجْرِى فِى الْبَحْرِ بِمَا يَنفَعُ النَّاسَ وَمَآ أَنزَلَ اللَّهُ مِنَ السَّمَآءِ مِن مَّآءٍ فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيهَا مِن كُلِّ دَآبَّةٍ وَتَصْرِيفِ الرِّيٰحِ وَالسَّحَابِ الْمُسَخَّرِ بَيْنَ السَّمَآءِ وَالْأَرْضِ لَءَايٰتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ

"په تحقیق سره د اسمانونو او ځمکي په جوړښت کي، او پرله پسي د شپې او ورځي په راتګ کښي، په هغو بېړېو کښي چي د انسانانو د ګټي وړ شیانو د وړلو راوړلو لپاره په سیندونو او سمندرونو کښي ګرځي راګرځي، د باران په هغو اوبو کښي چي الله يې له پاسه څخه را اورو‌ي او د هغو په وسیله ځمکه ژوندۍ کوي او په خپل دغه انتظام سره يې په ځمکه کښي هر راز ساه کښان خواره کړيدي، د بادونو په لګېدو کښي او په هغو وريځو کښي چي د اسمان او ځمکي په منځ کښي د امر ښکیل دي؛ د هغو خلکو لپاره بې شمېره نښانې دي چي د پوهي څخه کار اخلي".

سُوۡرَةُ آل عِمرَان[190 ]:

إِنَّ فِى خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلٰفِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَءَايٰتٍ لِّأُولِى الْأَلْبٰبِ

بې له شکه د اسمانونو او ځمکي په پیدايښت او د شپې او ورځي په مخلفت کښي د هغو پوهانو لپاره ډيري نښانې دي:

سُوۡرَةُ آل عِمرَان[191] :

الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللَّهَ قِيٰمًا وَقُعُودًا وَعَلٰى جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِى خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هٰذَا بٰطِلًا سُبْحٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ

چي په ولاړي، ناستي او ملاستي، هر حالت کښي خدای یادوي .او د اسمانونو او ځمکي په پیدايښت کښي غور او فکر کوي (هغوی په غیر ارادي توګه غږ

کوي چي:)" آې زموږ ربه) !دا ټول شیان تا بابیزه او بې مقصده نه دي پیدا کړي، ته له دې څخه پاك یې چې عبث كار وكړې؛ نو اې ربه !موږ د دوږخ له عذاب څخه وژغوره؛

په دې کتاب" اسلام اعجاز "کې د قرآن کریم د معجزاتو په اړه هغه تدبر او پوهه وړاندې شوې چې الله تعالی یې موږ ته په خپلو آیتونو کې بلنه راکړي . موږ باید د هغه په ټولو خلقاتو کې د حکمت نښې وګورو او د الله تعالی د حکمت په اړه ژور فکر وکړو.

د قرآن حقانیت او زموږ مسؤولیت

قرآن کریم د بشریت لپاره یو الهي معجزه ده، چې د هر دور انسانان یې حیران کړي .دا کتاب د الله پاک یو روښانه دلیل دی، چې هیڅ انسان نشي کولی د دې په څېر کتاب راوړي .دا د علم، معرفت، حکمت، او حقیقت سرچینه ده، او زموږ مسؤولیت دا دی، چې دا کتاب زده کړو، وربāندې عمل وکړو، او د نړۍ نورو خلکو ته یې حقیقت ورسوو.

د قرآن کریم د خقنیت وعده:

له ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی :رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل :هر پیغمبر ته معجزې ورکړل شوې چې خلک یې ایمان راوړي،

مګر هغه څه چې ما ته راکړل شوي دي هغه الهي الهام دی چې الله تعالی ماته نازل کړی دی، نو زه امید لرم چې زما پیروان به د نورو انبیاوو له پیروانو څخه ډېر وي .د قیامت".۶ ټوک، ۶۱ کتاب، ۵۰۴ ګڼه

رسول الله(ص) فرمايي :د قرآن عجائبات به هیڅکله نه ختمیږي او هیڅکله به يې د لوستونکو د ستړیا سبب نه ګرځي .نو، دا ولولئ ".الترمذي فصل، فضل القرآن، مخ .۱۴۳

الله سبخان وتعالی فرمايي:

**" سَنُرِيهِمْ آياتِنا فِي الْآفاقِ وَفِي أَنْفُسِهِمْ حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ الْحَقُّ"...**

۵۳:۴۱ ژر ده چې وبابنیو دوی ته دلایل دقدرت خپل چې په کايناتو کې دي او په نفسونو ددوی کې دي تر هغه پورې چې ښکاره شي دوی ته چې بیشکه دغه قران حق دی<...

**الله تعالی فرمايي:**

اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ ۝

وَلَتَعْلَمُنَّ نَبَاَهٗ بَعْدَ حِيْنٍ

۸۷-۸۸:۳۸ <دغه(قران)مګر پند دئ لپاره د علمیانو او خامخه علمیان باشي هرومرو په خبر(په ریښتیوالی)ددې(قران) لږ وروسته<

**الله تعالی فرمايي:**

وَمَا هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ

**۶۸:۵۲**<او حال دا چې ندی دغه (قران) مګر خو ذکر د ټولو عالميانو لره.

الله تعالی فرمايي

**:**وَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ سَيُرِيْكُمْ اٰيٰتِهٖ فَتَعْرِفُوْنَهَا ۭ وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ۝

**27-93** او ته ووايه **:**ټول د کمال صفتونه خاص د الله لپاره دي، هغه به عنقريب په تاسو خپل دليلونه (نښې )ووينې، نو تاسو به هغه وپېژنئ <سورت النمل ۹۳

وَسَخَّرَ لَكُم مَّا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا مِّنْهُ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ

سورة الجاثية **13** – آيت

**۴۳:۱۳**<او مسخر کړی يي دئ تاسو ته هر هغه شئ چې په اسمانونو کې دئ او ځمکه کې دئ ټول له طرفه د الله دغه خامخه لوی ايت{ دلايل }لپاره د هغه قوم چې فکر کوي<

بَلْ كَذَّبُوْا بِمَا لَمْ يُحِيْطُوْا بِعِلْمِهٖ وَلَمَّا يَاْتِهِمْ تَاْوِيْلُهٗ ۭ

يونس۳۹》 **:**بلکې نسبت د دروغو کوي دوی هغه قرآن ته چه چاپيره نه دی دوی په علم د" هغی باندې لا نه ده راغلی دوی ته معنی د هغه

وَلَقَدْ صَرَّفْنَا فِي هَٰذَا الْقُرْآنِ لِلنَّاسِ مِن كُلِّ مَثَلٍ ۚ وَكَانَ الْإِنسَانُ أَكْثَرَ شَيْءٍ جَدَلًا

سورة الكهف **54** – آیت

>او بیا بیا بیان کړی دی مونږه په دغه قران کې له هر قسمه مثال نه او دی انسان له هر څیز نه له جهتا د جګړې <سورت الکهف.

وَلَتَعْلَمُنَّ نَبَأَهُ بَعْدَ حِينٍ

سورة ص **88** – آیت

**۳۹:**۸۸(او خامخا پوه به شئ په خبره ددی باندی پس له مودی نه**).**

الله جل جلاله دې موږ ته د قرآن کریم د سم فهم، ژور تدبر، او په عملي کولو کې توفیق راکړي .آمین**!**



## کن فیکون

هر څه له" صفر "نه پیل شول...

ایا هرڅه له صفره شوروع کیدل د اسلام له نظره سم یا ناسم؟

نه آسمان و، نه ځمکه، نه کهکشانونه، نه ستوري، نه انسان...

یوازې یو خاموشه تشي (vacuum) وه، نه وخت و، نه مکان، او نه هم کومه ماده.

د علم له نظره دا مرحله "singularity" بلل کیږي، یو داسې حالت چې ساینس هم پکې حیران دی!

بیا ناڅاپه، د تصور نه بهر یوه عظیمه چاودنه رامنځته شوه، هغه چې ساینس یې نوم "Big Bang" ایښی دی—

او دا چاودنه د هستۍ د سفر پیل و!

په یو لحظه کې وخت هم پیدا شو، مکان هم، ذرات هم، انرژي هم، او د ټولو موجوداتو د پیدایښت بنسټ کېښودل شو!

خو پوښتنه دا ده:

دا چاودنه ولې وشوه؟ څوک و چې دا بې‌سارې مرحله یې فعاله کړه؟

یوازې طبیعت؟ که یو عاقل ځواک شته و؟

قرآن ځواب راکوي:

أَوَلَيْسَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِقَادِرٍ عَلَىٰ أَن يَخْلُقَ مِثْلَهُم ۚ بَلَىٰ ۚ وَهُوَ الْخَلَّاقُ الْعَلِيمُ(81)

ژباړه : ایا هغه ذات چې اسمانونه او ځمکه یې پیدا کړي، دا توان نه لري چې د دوی په شان نور پیدا کړي؟ هو، هغه ډېر ښه پیدا کوونکی او ښه پوه دی!

"إِنَّمَا أَمْرُهُ إِذَا أَرَادَ شَيْئًا أَنْ يَقُولَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ"

(یٰس :۸۲)

ژباړه : کله چې هغه د یوه شي اراده وکړي، نو یوازې ورته وايي" :شه"!، نو هغه شی کېږي.

"ثُمَّ اسْتَوَىٰ إِلَى السَّمَاءِ وَهِيَ دُخَانٌ فَقَالَ لَهَا وَلِلْأَرْضِ ائْتِيَا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا ۚ قَالَتَا أَتَيْنَا طَائِعِينَ"

(فصلت :۱۱)

ژباړه :بیا هغه د آسمان (په جوړولو) اراده وکړه، او هغه (آسمان) لوګی و، نو اسمان ته او ځمکې ته یې وویل" :راشئ، که په زور وي او که په رضا "!هغو دواړو وویل" :موږ په خوښي سره راغلو"!

له ذرو، له" دخان "(غازونو)، له صفر نه، د کن فیکون په یو امر سره هستي پیدا شوه.

نو دا د Big Bang تر شا" تصادف "نه، بلکې د الله د ارادې امر و—

یوه الهی کلمه" :کن فیکون — "چې له مطلق صفره یې هستي جوړه کړه!

هغه لحظه چې ساینس‌یې "Big Bang" بولي، هماغه لحظه ده چې ایمان یې "کن فیکون "بولي!

د ذرو تنظیم، د اتومونو تناسب، د کائنات د پراخېدو اندازه، د جاذبې قانون، د انرژۍ اندازه — دا ټول تصادفي نه دي، بلکې د یو حکیم ذات سنجول شوې نقشه ده.

نو هر څه له صفر نه پیل شول، خو د خالق د" شه "په یوه کلمه هر څه شول!

ستا او زما، د ځمکې، آسمان، او د دې بې‌پایه کهکشانونو پیل یوازې د یو امر په نتیجه کې و...

کن ...فیکون...

نتیجه:

نو دا د تصادف کیسه نه وه .دا د الله تعالی د امر یوه نتیجه وه" — کن فیکون!"

خو اوس اصلي پوښتنه دا ده:

څنګه ممکنه وه چې څوارلس سوه کاله مخکې، یو بې تعلیمه سړی، د صحرا په منځ کې، د یوې داسې چاودنې یادونه وکړي چې ساینس‌یې یوازې د څو لسیزو مخکې درک ته ورسېد؟

څنګه قرآن وویل چې آسمان" دخان "(ګاز) و، حال دا چې ساینس یوازې وروستیو پېړیو کې دا وموندله؟

څنګه قرآن د" کن فیکون "تصور وړاندې کړ، کوم چې د Big Bang سره یو عیني تطابق لري؟

ایا دا ټول تصادف دي؟ که دا یوه معجزه ده؟

که قرآن د هستۍ د پیدایښت په اړه داسې حقیقتونه وړاندې کړي، نو ایا دا کتاب به د خالق له خوا نه وي؟

ایا دا ممکنه ده چې محمد صلی الله علیه وسلم دا هر څه د خپل ذهن نه ویلي وي؟ که دا یو الهي پیغام دی؟

یوازې یوه منطقي نتیجه پاتې کیږي:

دا کتاب د هغه ذات له خوا دی، چا چې هستي پیدا کړه ـــ الله جل جلاله!

وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ . إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ
(النجم :۳-۴)

ژباړه" :او هغه له خپل زړه نه خبرې نه کوي؛ دا خو یوازې یو وحي دی چې ورته نازله کیږي"!



## په دښته کې یوه ګوتمی

ایا کله مو له خپل ستړي کوونکي ورځني ژوند څخه لږ شیبه ځان ته وقف کړې، فقط دا چې د اسمان پراخ چت لاندې اوږده وغځیږئ، ستوري وشمېرئ او بې‌پایانه ورته وګورئ؟ سوچ مو کړی چې د دې ستورو تر شا څه شی پټ دي؟ او یا دا چې هلته بهر نړۍ څومره پراخه ده؟

{ژر به موږ هغوی ته خپلې نښې/آیاتونه هم د افقونو په غاړو او هم د دوی په ځانونو کې وښیو، تر دې چې هغوی ته روښانه شي چې دا (قرآن) حق دی .ایا ستا رب بس نه دی، حال دا چې پر هر څه ناظر دی؟ !وګوره، ایا هغوی د خپل رب سره د ملاقات په اړه لا هم شک لري؟ حال دا چې همدغه ذات پر هر څه محیط دی}.

-سورة فصلت

زموږ ځمکه – دومره پراخه او باوقاره ده – چې غرونه یې د اسمان د کرښو ښکلا ده، د یو ستر فضایي بېړۍ په څېر په فضا کې سفر کوي .دا هره شېبه د لمر شاوخوا په ساعت کې ۶۷،۰۰۰ میله (۱۰۸،۰۰۰) کیلومتره – ۳۰ کیلومتره فی ثانیه (حرکت کوي؛ دا تقریباً د ګولۍ له سرعت ۶۰ چنده تېز دی ! همداراز، ځمکه او زموږ لمریز نظام ټول په ساعت کې ۷۲۰،۰۰۰ کیلومتره (۲۰۰) کیلومتره فی ثانیه هم مخ پر وړاندې روان دي.

د" بېړۍ ځمکې "کلنی سفر له ۵۷۴ میلیونه میله (۹۲۴) میلیونه کیلومتره څخه زیات دی .حیران پاتې شوئ؟ نه؟ نو راځئ لمر ته نظر وکړو.

لمر لوی دی، او چې زه وایم لوی، نو مطلب مې واقعاً لوی دی !دا د ځمکې څخه تقریباً ۱۰۶ چنده پراخ دی، او شاوخوا ۱،۳۰۰،۰۰۰ ځمکې پکې ځايېږي .د لمر له خوا راوتونکي رڼا یواځ 8.3 دقیقې وخت نیسي تر څو ځمکې ته ورسېږي .د لمر او ځمکې تر منځ واټن ۱۵۰،۰۰۰،۰۰۰ کیلومتره دی .لمر او ټول لمریز نظام زموږ د شیدو لار کهکشان (Milky Way) د مرکز څخه شاوخوا ۲۶،۰۰۰ نوري کلونه لېرې دی.

ستوري دومره لېرې دي چې د هغوی فاصله په کیلومتر یا میله کې اندازه کول دومره ستر شمېرونه جوړوي چې تصور یې ډېر سخت وي .له همدې امله، موږ د هغوی د فاصله د اندازې لپاره" نوري کال "کاروو .نوري کال هغه واټن ته ویل کېږي چې رڼا یې په یوه کال کې وهي، یعنې تقریباً ۹،۵۰۰،۰۰۰،۰۰۰،۰۰۰ کیلومتره – هو، دا ډېر صفرونه دي !خو هو، موږ

پوهېږو چې د دې لیدونکو ستورور پورته اسمانونه دي، نه یوازې یو، بلکې اووه (۷) طبقې.

له ابوهرېره رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

"بیا یې وپوښتل :ایا پوهېږئ چې ستاسې او د اسمان تر منځ څه شی دی؟ " هغوی وویل :الله او د هغه رسول تر ټولو ښه پوهېږي .نو ویې فرمایل : "ستاسې تر منځ او د اسمان تر منځ فاصله د پنځه سوه کلونو ده ".بیا یې وپوښتل" :ایا پوهېږئ چې د هغه پورته څه شی دی؟ "هغوی وویل :الله او د هغه رسول ښه پوهېږي .نو ویې فرمایل" :دوهم آسمان دی، د هماغه پنځه سوه کلونو واټن سره .بیا یې همداسې ادامه ورکړه، تر څو یې اووه آسمانونه وشمېرل، چې د هرو دوه آسمانونو تر منځ واټن د اسمان او ځمکې تر منځ فاصله ده".

بیا یې وپوښتل" :ایا پوهېږئ چې د اووم آسمان پورته څه شی دی؟ "هغوی وویل :الله او د هغه رسول ښه پوهېږي .ویې فرمایل" :د الله عرش دی، او د اووم آسمان او عرش ترمنځ هم هغه پنځه سوه کلنه فاصله ده ۰۰۰او له الله څخه ستاسې هیڅ عمل پټ نه دی".

-جامع الترمذي

د عباس بن عبدالمطلب رضي الله عنه نه روایت دی:

"هر آسمان چې پورته ذکر کېږي، هماغه فاصله لري لکه د لاندې او پورته آسمان تر منځ .او بیا یې فرمایلي :د اووم آسمان نه پورته یو سمندر دی، چې د

هغې د سر او تل تر منځ فاصله هم د دوه آسمانونو ترمنځ فاصله ته ورته ده"...

-سنن أبي داود

او همداراز روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ ته د هغه ملائکې په اړه خبر راکړی، چې د الله عرش یې پر اوږو بار دی .ویې فرمایل:

"د هغه ملک د غوږ لولې او اوږې ترمنځ فاصله د اووه سوه کلن سفر برابر ده".

-سنن أبي داود

راځئ دا هم هېر نه کړو، چې هر ستوری چې موږ د خپلو سترګو، دوربین یا حتا تر ټولو قوي ټیلسکوپ له لارې وینو، دا یواځې د لاندې (لومړي) آسمان یو بل ستوری دی.

ټوله هستي خو لا د هغو اسمانونو دننه هم نه ده !موږ لا د ځمکو په بعدونو (dimensions)کې یو !نو څنګه ایا بیا د الله جل جلاله د عرش ستروالی تصور کولی شی؟ سبحان الله!

خدای (ج) په قرآن شریف کې فرمایي

«تَعْرُجُ الْمَلٰٓىِٕكَةُ وَالرُّوْحُ اِلَيْهِ فِىْ يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهٗ خَمْسِيْنَ اَلْفَ سَنَةٍ ۚ»

70-4«چې د ده په طرف پورته ملايك او روح (جبرائل) ورخېژي، په هغې ورځ کې چې د هغې مقدار پنځوس زره کاله دی»

۱۴ پیړی وړاندې، انسان لا د ځمکې له کرې بهر تګ نه و کړی .نه یې د کهکشانونو، ستورمزلو، او د کایناتو د بې‌پایه وسعت تصور درلود، او نه یې د فرښتو د ماهیت په اړه د عقل وړ تصویر درلود .په داسې یوه زمانه کې، رسول الله صلی الله علیه وسلم جبرائیل علیه السلام ولید، داسې حالت کې چې شپږ سوه وزرونه یې درلودل، او هر وزر یې د ختیځ او لویدیځ ترمنځ فضا نیولې وه.سبحان الله دا یو داسې تصویر و چې د هماغه وخت د انسانانو د عقل او تصور له سرحداتو ډېر لوړ او لا تصور نه‌کېدونکی و.

صحیح بخاري (کتاب بدء الخلق، باب ذکر الملائکة، حدیث3232 ) **:

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ :قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ص

"**رَأَيْتُ جِبْرِيلَ عَلَى سِدْرَةِ الْمُنْتَهَى، وَلَهُ سِتُّ مِائَةِ جَنَاحٍ **".

قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ص" :ما جبرائیل علیه السلام د سدره المنتها په ځای کې ولید، او هغه شپږ سوه (۶۰۰) وزرونه درلودل **".

"** -هر وزر یي د ختیځ او لویدیځ ترمنځ واټن نیولی و **".

بېشکه پیغمبر صلی الله علیه وسلم جبرایل ولید چې شپږ سوه وزرې یې درلودې.

بخاری حدیث شمیره3233:

دا روایت د جبرائیل علیه السلام د عظمت او د هغه د مخلوقاتو د عجیب قدرت څرګندونه کوي

نن ساینس وایي چې کاینات دومره پراخ دي چې تر ټولو تېزه رڼا هم میلیاردونه کاله وخت نیسي ترڅو له یوه سره تر بله کهکشانه ورسېږي .دا موږ ته دا ښيي چې جبرائیل علیه السلام د کومو وسعتونو استازی و؟ هغه کوم عظیم رسالت راووړ؟

دا کلام، وحی، چې له دې عظیم هستي سره نازله شوې، یوازې د لفظونو ټولګه نه ده — دا د الهي علم او کائناتي حکمت یو له وحې ډک راز دی .دا د انسان عقل ته هغه دروازې پرانیزي چې هېڅ وخت، هېڅ فلسفي او هېڅ شاعر یوازې په خپلو فکرونو نشي خلاصولای.

رسول الله ص ۱۴۰۰ کاله دمخا څمکي ته داسې الفاظ کرولي چې په ننی مشاهده شوي کائنات کې یي خقیقي تفسیر وړاندې شوی:

څمکه د مړې ګډې څخه هم بدتره او بې ارزښته ده الله تعالی ته:

صحيح مسلم، حدیث نمبر(2957)

پښتو ژباړه:

جابر بن عبدالله رضی الله عنه روایت کوي :رسول الله ص د ښار له یوې لوړې سیمې نه بازار ته راغی، خلک ور چاپېر شول .ده یوه مړه ګډه چې غوږ یې پرې شوی و، وموندله، هغه یې د غوږ نه ونیوله او ویې فرمایل : «څوک غواړي چې دا د یوه درهم په بدل کې واخلي؟»

هغوی وویل :«موږ دا نه غواړو، حتی که مفت هم وي !موږ به څه کوو له دې سره؟»

رسول الله ص بیا وفرمایل :«ایا تاسو غواړئ چې دا ستاسو شي؟»

هغوی وویل :«قسم په الله !که دا ژوندی وای، نو هم ناقص (عیب لرونکی) وو، نو څه پاتې شوه چې اوس مړ دی!»

نبي ص وفرمایل :«قسم په الله !دنیا د الله په نزد تر دې مړې ګډې هم سپکه او بې ارزښته ده.»

ځمکه د ماشې د وزر څخه هم الله تعالی ته بې ارزښته ده

جامع الترمذي، حدیث نمبر(2320) (او همداراز صحیح ابن ماجه(4110 )

پښتو ژباړه:

سهل بن سعد رضی الله عنه وایي :رسول الله ص وفرمایل :«که دنیا د الله په نزد د یوې مچۍ د وزر په اندازه ارزښت درلودای، کافر ته به یې د هغې نه د اوبو یوه څاڅکی هم نه وای ورکړی.»

یوه ګوته په سمندر کې

صحیح مسلم، حدیث نمبر(2858)

پښتو ژباړه:

مستورد قرشي رضی الله عنه روایت کوي :رسول الله ص وفرمایل:

«دنیا د آخرت په نسبت داسې ده، لکه چې یو څوک خپله ګوته په سمندر کې ډوبه کړي، نو دې وګوري چې څومره اوبه ورسره راځي (یعنې هیڅ هم نه راځي).»

رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ ته د یوه حدیث په واسطه د الله جل جلاله د کرسي او اسمانونو تر منځ د عظمت پرتله داسې یوه بېلګه وړاندې کړې، چې زموږ د محدود فکر ته یو څه درک ور په برخه شي:

د اوو اسمانونو مثال د الله جل جلاله د کرسي (پیړۍ/پړاو) په نسبت داسې دی، لکه یو واړه انګوټۍ چې د ستاسې د ګوتې څخه ایستل شوی وي او د یوې سترې، پراخه دښته کې غورځول شوی وي – یعنې انګوټۍ :اسمانونه، او دښته :د الله کرسي!

-روایت له ابن جریر الطبري وغیره، حسن قول ګڼل شوی

یوه شیبه تصور وکړه، چې ته یو واړه انګوټۍ د صحرا په منځ کې غورځوې، نو د هغه د ښکارېدو امکان څومره دی؟ همدومره کوچنۍ حیثیت لري ټول اسمانونه د الله د کرسي په پرتله!

خو بیا هم، کرسي د عرش په نسبت یوازې هماغه انګوټۍ ده، چې د یوې لویې دښتې په منځ کې غورځېدلې وي

-یعنې :کرسي = انګوټۍ، عرش = دښته!

دا یو ستر تقابل ده چې الله سبحان وتعالی زموږ د پوهې لپاره بیان کړی دی:

لومړی آسمان نسبت دویم ته :لکه انګوټۍ په دښته کې

دویم نسبت دریم ته :لکه انګوټۍ په دښته کې

دریم نسبت څلورم ته :لکه انګوټۍ په دښته کې

څلورم نسبت پنځم ته :لکه انګوټۍ په دښته کې

پنځم نسبت شپږم ته :لکه انګوټۍ په دښته کې

شپږم نسبت اووم ته :لکه انګوټی په دښته کې

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

"اووه اسمانونه د الله د کرسي (پښېرۍ) په نسبت داسې دي لکه یو انګوټی چې په یوه وچ، بې‌اوبه دښته کې وغورځول شي .او د عرش عظمت د کرسي په پرتله داسې دی لکه د دښتې برترې پر هماغه انګوټې".

د الله د رسول صلی الله علیه وسلم په اړه روایت شوی دی چې د الله جل جلاله د ستر عرش په هکله یې وفرمایل:

..."عرش د اوبو پر سر دی، او الله جل جلاله د عرش پورته دی، او هغه هر څه چې تاسې کوئ، پرې خبر دی".

عرش د ټولو هغو مخلوقاتو څخه لوی دی چې الله جل جلاله پیدا کړي دي، او الله جل جلاله د دغه عرش پورته دی، داسې لکه څنګه چې د هغه جلال او عظمت ته لائق وي.

کله چې زموږ ټوله کائینات د تر ټولو ټیټ آسمان په کچه کې راځي، نو آیا ته د کرسي عظمت تصور کولی شې؟

او که د کرسي وسعت د ټوله هستي پر سر خپور شوی وي، نو بیا د عرش عظمت څومره به وي؟

ډېر خلک دا غلط فکر لري چې کرسي یعنې د الله عرش.

خو شیخ السلام امام ابن تیمیه (رح) چې د اسلامي نړۍ له وتلو علماوو څخه یو دی، دا ناسم فکر تصحیح کوي .د هغه په وینا، د الله جل جلاله تخت یعنې "عرش "دی، نه کرسي.

هغه د البقره سورت د ۲۵۵م آیت (آیة الکرسي) په تفسیر کې چې پکې د "کرسي "کلمه یاده شوې، لیکلي دي:

په لغت کې" کرسي "د پښو ځای یا څوکۍ معنا لري، خو ځینې وخت ناسم د "عرش "(تخت) په معنا ژباړل شوی دی .هغه کرسي چې په دې آیت کې ذکر شوې، باید له هغه عرش څخه جلا وپېژندل شي چې په نورو ځایونو کې یاد شوی دی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

"کرسي د عرش په پرتله داسې ده لکه یو انګوټی چې په دښته کې وغورځول شي".

دواړه ډېر لوی دي، دومره لوی چې زموږ عقل یې درک نهشي کولی.

دا نه یوازې حیرانونکی ده بلکې تواضع راوړونکی حالت دی.

اوس، سوال دا دی:

"تاسو څومره لوی یاست؟"

هغه شیان چې نن تاسو خفه کوي،او خفه کړي یاست، څومره لوی دي؟

یوه لحظه تم شه او تصور وکړه – هو، یوازې کوشش وکړه چې د هغو اسمانونو اندازه، د هغوی ترمنځ واټن، او د هغوی تر تېرېدو وخت تصور کړې، خو بیا هم ته یو کوچنی مچ ګورې چې د خپل سر پر شاوخوا د تاوېږي ...(اې، غسل وکړه، ټوکې کوم!)

الله پوهېږي چې د هماغه مچ د وزر لاندې څه شته، څه به خوري!

النعام ۵۹:

وَمَا تَسْقُطُ مِنْ وَّرَقَةٍ اِلَّا يَعْلَمُهَا

6-59او هېڅ یوه پاڼه نه غورځېږي مګر هغه الله پرې عالم دی

بلکې دا هم چې کله به د ملیونونو ونو څخه یوه پاڼه غورځېږي،خو نه غورځیږي مګر د الله په علم -الله پر هغې هم خبر دی!

خو بیا هم موږ د الله عظمت هېروو،

"الله جل جلاله، ذو الجلال والاکرام "یوازې پر ژبه یوه لفظ ګرځېدلی دی...

ایا موږ دا احساس لرو چې د الله ځواک څومره عظیم دی؟

موږ د الله د مخلوقاتو په پرتله څومره کوچني یو، خو بیا هم الله زموږ لپاره تر مور مهربانه دی، بلکې تر هغه هم زیات لکه څنګه چې موږ پر ځان مهربانه یو.

کله چې د الله په واک کې دا پراخه، بې‌پایه سلطنت وي، او بیا هم دا دنیا د الله ج په نظر کې هېڅ ارزښت نه لري، نو څنګه موږ فکر کولی شو چې زموږ ګناهونه یا مشکلات دومره لوی دي چې الله یې ښنلای نه‌شي؟

الملک الملک، د ټولو پادشاهانو پادشاه!

موږ کولای شو چې د دې فاصلو ټول صفرونه ختم کړو،

او الله ته نژدې شو ...څنګه؟

کله چې یو مؤمن په سجده کې وي، الله ته تر ټولو نژدې وي.

نور موږ له الله څه غواړو؟

د کائنات دا نازک توازن وګوره، چې دا ټول نظام څومره دقیق روان دی،

او بیا ځینې خلک دومره جسارت کوي چې وایي:

"دا ټول تصادفي دي، خدای نشته"!

خو بیا وایي" :دا پیچکش خو د یو هوښیار وجود ډیزاین دی"!

او هغه (الله) ذات دی چې ځمکه يې هواره کړه، او پکې يې کلک غرونه او سيندونه جوړ کړل، او د هر ډول مېوو دوه ډوله يې پکې پيدا کړل .شپه يې پر ورځ باندې راخوره کړه .بېشکه چې په دې کې نښې دي د هغو خلکو لپاره چې فکر کوي.

[-سورت الرعد]

هغه څه چې زه يې تر ټولو زيات حيرانکړی يم دا ده:

د اسلام اتلان د الله په نزد کوم مقام درلودا!

کله چې سعد بن معاذ رضی الله عنه وفات شو، د الله عرش ولړزېده!

[ -صحيح مسلم]

زه دا تصور هم نشم کولای، دا بس يو" سبحان الله،تعجبي "!حالت دی!

الله دې موږ ته هم د خپل دين هغه پوهه راکړي لکه څنګه يې خپلو محبوبو بندګانو ته ورکوي.

الله دې موږ په دې ښکلي دين – اسلام – باندې ثابت قدم وساتي،

او الله دې موږ ته توفيق راکړي چې د خپل محبوب پيغمبر محمد صلی الله عليه وسلم پيروي وکړو

په دې فاني دنيا کې،او الله دې موږ د جنت الفردوس اعلی کې د هغه، او نورو نېکانو سره يو ځای راټول کړي !الله امين



د معاصر ساینس وعده الله کړې وه

الله تعالی فرمايي:

سَنُرِيهِمْ آياتِنا فِي الْآفاقِ وَفِي أَنْفُسِهِمْ حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ الْحَقُّ"...

۵۳:۴۱ ژر ده چې وبابنیو دوی ته دلایل {دقدرت} خپل چې په ( کایناتو) کې دي او په نفسونو ددوی کې دي تر هغه پورې چې ښکاره شي دوی ته چې بیشکه دغه قران حق دی...

دغه الهي ژمنه د قرآن د معاصر ساینسي اعجاز بنسټ جوړوي . دا آیت په حقیقت کې د راتلونکې پېړۍ د علمي کشفیاتو اعلان و، چې نن یې بشریت د فزیک، کیمیا، بیولوژي، فلکیاتو او طب په ډګرونو کې د دقیقو مشاهداتو له لارې پوره تحقق وینې.

قرآن د هر وخت لپاره يو ژوندی معجزه ده، او دا آيتونه دا اعلان کوي چې د قرآن حقانيت به نه يوازې د تلاوت او ايمان له لارې، بلکې د تجربې، علم او څېړنې له لارې هم ښکاره کېږي.

قُلِ ٱنظُرُواْ مَاذَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَمَا تُغۡنِي ٱلۡأٓيَٰتُ وَٱلنُّذُرُ عَن قَوۡمٖ لَّا يُؤۡمِنُونَ

ورته ووايه :تاسو وګورئ چې په آسمانونو او ځمکه کې څه دي؟ او هغه کسان چې ايمان نه راوړي، نښانې او د وېروونکو اخطارونه څه ګټه نه ور رسوي.

الله تعالی فرمايي:

اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ ۝

وَلَتَعْلَمُنَّ نَبَاَهٗ بَعْدَ حِيْنٍ

۸۷-۸۸:۳۸ <دغه{قران}مګر پند دئ لپاره د علميانو او خامخه علميان باشي هرومرو په خبر{په ريښتيوالی}ددې{قران }لږ وروسته<

الله تعالی فرمايي:

وَمَا هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ

۵۲:۶۸<او حال دا چې ندی دغه{ قران }مګر خو ذکر د ټولو عالميانو لره.

مَّا فَرَّطۡنَا فِي ٱلۡكِتَٰبِ مِن شَيۡءٖۚ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّهِمۡ يُحۡشَرُونَ

انعام ۳۸:

موږ په کتاب کې هیڅ شی نه دي پرېښي، بیا به ( ټول ) خپل رب لوري ته ورغونډیږي.

وَتَفْصِيلَ كُلِّ شَيْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ
(سُوْرَةُ يُوسُف)111 :

او( قران) د هر شي تفصیل دی، او هدایت او رحمت دی د هغو خلکو لپاره چې ایمان راوړي.

وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ "آیت ته اشاره کوئ .النحل(16:89)

"او موږ پر تا کتاب نازل کړی، چې د هر شي وضاحت ورکونکی دی"...

الله تعالی فرمایي

:وَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ سَيُرِيْكُمْ اٰيٰتِهٖ فَتَعْرِفُوْنَهَا ؕ ـــوَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ۝

27-93او ته ووایه :ټول د کمال صفتونه خاص د الله لپاره دي، هغه به عنقریب په تاسو خپل دلیلونه ( نښې )ووینی، نو تاسو به هغه وپېژنئ او ستا رب له سره غافل نه دی له هغو کارونو نه چې تاسو یې کوئ

<سورت النمل ۹۳

وَسَخَّرَ لَكُم مَّا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا مِّنْهُ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ

سورة الجاثية 13 – آيت

۱۳:۴۳>او مسخر کړی يي دئ تاسو ته هر هغه شئ چې په اسمانونو کې دئ او ځمکه کي دئ ټول له طرفه د الله دغه خامخه لوی ايت{ دلايل} لپاره د هغه قوم چې فکر کوي<

بَلْ كَذَّبُوْا بِمَا لَمْ يُحِيْطُوْا بِعِلْمِهٖ وَلَمَّا يَاْتِهِمْ تَاْوِيْلُهٗ ؕ

۳۹ :يونس :بلکې نسبت د دروغو کوي دوی هغه قرآن ته چه چاپيره نه دی دوی په علم د هغی باندې لا نه ده راغلی دوی ته معنی د هغه.

انسانان په لومړيو زمانو کې د هغو آيتونو معنا نه پوهېدل چې د فضا، د اتوم، د هستی د جوړښت يا د جنين د تکامل په اړه خبرې کوي، خو د علم پرمختګ وروسته يې" تاويل "راغی — يعنې معنا يې معلومه شوه .دا هغه حقيقت دی چې د قرآن معجزه په معاصره ساينس کې پخپله راڅرګنده شوه.

وَلَقَدْ صَرَّفْنَا فِي هَٰذَا الْقُرْآنِ لِلنَّاسِ مِن كُلِّ مَثَلٍ ۚ وَكَانَ الْإِنسَانُ أَكْثَرَ شَيْءٍ جَدَلًا

سورة الكهف 54 – آيت

>او بیا بیا بیان کړی دی مونږه په دغه قران کې له هر قسمه مثال نه او دی انسان له هر څیز نه له جهتا د جګړې <سورت الکهف.

دا آیت څرګندوي چې قرآن یوازې د عبادت کتاب نه دی، بلکې یو جامع نظام دی چې د هستۍ هره څانګه پکې د یو مثال په ډول تشریح شوې ده — له فزیکي نظم څخه تر روحي حقیقت پورې، له کیهاني خوځښت څخه تر انساني شعور پورې.

وَلَتَعْلَمُنَّ نَبَأَهُ بَعْدَ حِينٍ

سورة ص 88 – آیت

۸۸:۳۹(او خامخا پوه به شئ په خبره ددی باندی پس له مودی نه).

هغه څه چې صحابه کرامو رضی الله عنهم ته یوازې د ایمان په کچه معلوم وو، نن یې نسلونه د ذرو، کهکشانونو، او ژوند د رازونو په تجربوي لابراتوارونو کې ویني .دا د قرآن ژمنه ده چې" وروسته "به حقیقت څرګندیږي — او دا "وروسته "همدغه ننی عصر دی :د علم او ټکنالوژۍ زمانه.

له ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی :رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل :هر پیغمبر ته معجزې ورکړل شوې چې خلک یې ایمان راوړي، مګر هغه څه چې ما ته راکړل شوي دي هغه الهي الهام دی چې الله تعالی ماته نازل کړی دی، نو زه امید لرم چې زما پیروان به د نورو انبیاوو له پیروانو څخه ډیر وي .د قیامت".۶ ټوک، ۶۱ کتاب، ۵۰۴ ګڼه

رسول الله(ص ) فرمايي :د قرآن عجائبات به هيڅکله نه ختميږي او هيڅکله به يې د لوستونکو د ستړيا سبب نه ګرځي .نو، دا ولولئ ".الترمذي فصل، فضل القرآن، مخ .۱۴۳.

دا حديثونه څرګندوي چې د قرآن اعجاز يو متحرک اعجاز دی، نه يوازې د الفاظو او بيان په سطحه، بلکې د زمان، علم، او حقيقت په هره دوره کې نوې نښې څرګندوي .دا يو داسې معجزه ده چې له ابدي حکمت نه سرچينه اخلي، او تر قيامت پورې به د هرې نوې علمي څېړنې ترڅنګ يو نوی" آيت "افشا کوي.



## آسماني برجونه او کهکشانونه

قال الله تعالی:

(وَالسَّمَاءِ ذَاتِ الْبُرُوجِ)

(سورة البروج :١)

"قسم دی په آسمان چې خاوند د برجونو دی".

(الحجر)16 :

"وَلَقَدْ جَعَلْنَا فِى السَّمَآءِ بُرُوْجًا وَّزَيَّنّٰهَا لِلنّٰظِرِيْنَ ۙ؛

15-16او يقينًا يقينًا مونږ په اسمان کې برجونه پيدا کړي دي او مونږ هغه د کتونکو لپاره ښايسته کړی دی

تَبٰرَكَ الَّذِىْ جَعَلَ فِى السَّمَآءِ بُرُوْجًا وَّجَعَلَ فِيْهَا سِرٰجًا وَّقَمَرًا مُّنِيْرًا ۝

" 25-61ډېر برکتناك دی هغه ذات چې په اسمان کې يې برجونه پيدا کړي دي او په ده کې يې چراغ ( لمر) او رڼا کوونکې سپوږمی پيدا کړې ده"

د بروج ( الْبُرُوجِ) مفهوم، له ژبني اړخه، د لوړوالي، مشاهده‌ګاه، ساتنې مرکز، او دفاعي ځواک مانا لري .عرب يې د قلعه‌يی ديوالونو هغو لوړو برجونو ته وايي چې هر څه فاصله وروسته جوړ شوي وي، څو ديوالونه يو له بله وتړي، ټينګ يې وساتي، او د څارنې لپاره پرې ځای وي.

خو کله چې دا معنا آسمان ته تطبيق شي، نو سوال پيدا کيږي:

د آسمان بروجونه څه شی دي؟ چيرته دي؟ او کوم راز پکې نغښتی دی؟

بروج او کهکشانونه

فضا له برجونو ډکه ده.

دا برجونه چې ښکلا لري، هماغه کهکشانونه دي چې د خپلو میلیاردونو ستوریو له کبله ځلیږي.

دا برجونه هماغه مجرات/کهکشانونه دي .کهکشانونه عظیمې کتلې دي چې د بېشمېره ستوریو، سیارو، ګازونو، او تورې مادې څخه جوړ شوي دي .دا کهکشانونه د تیز چورلیدا په حالت کې دي، ټول په یو لوري حرکت کوي، او د یو خاص نظم تابع دي.

دغه دورانونه د جاذبې شدید تارونه پیدا کوي .دا تارونه له تورې مادې (dark matter)جوړ دي، او د فضا تر ټولو پیاوړې مقناطیسي او جاذبي شبکه ده .دا شبکه ټول کائنات د یوې عظیمې نسیجي جوړښت (Cosmic Web)په توګه سره نښلوي.

الله تعالی دې معجزاتي شبکې ته اشاره کړې ده، بل ځای فرمایي:

(وَالسَّمَاءِ ذَاتِ الْحُبُكِ)

(الذاریات :٧)

“قسم دی په آسمان چې خاوند د نسیج (محکمو تارونو) دی”.

نو :دا برجونه – کهکشانونه – د دې" نسیج "د تقویې، نظم، او ساتنې بنسټونه دي.

بروج او د جاذبې ځواک :د ژوند تضمین

د بروج (کهکشانونو) نقش دا دی چې:

ټول کائنات په جاذبي شبکو سره وتړي؛

د سيارو، ستوريو، او کهکشانونو مدارونه وساتي؛

د کائنات تنظيم ته دوام ورکړي.

مثلاً :که د ځمکې او لمر تر منځ جاذبه نه وای، نو ځمکه به له لمره تيښتيدلي وی، سارړه به پرې خپاره شوی وای، او ژوند به ورک شوی وای .نو دا برجونه د هستۍ د دوام پټه معجزه ده.

الله تعالی پرې قسم کړی – ځکه چې بروج:

د کائنات تر ټولو ستر او لوړ جوړښتونه دي؛

د نظم او طاقت نخښې دي؛

د هستۍ تر شا د يوه مدبّر خالق موجوديت ثابتوي.

او الله جل جلاله بې د عظيم شي څخه قسم نه اخلي!



## د ګڼو کائناتونو تصور(Multiverses)

د کائناتونو کثرت او د قرآن اعجاز

الله جل جلاله فرمايي:

"أَوَلَمْ يَرَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا أَنَّ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنٰهُمَا ۖ وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ ۖ أَفَلَا يُؤْمِنُوْنَ"

(الأنبياء :٣٠)

او بيا الله تعالى وايي:

"أَوَلَيْسَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِقَادِرٍ عَلَى أَنْ يَخْلُقَ مِثْلَهُمْ ۚ بَلَىٰ وَهُوَ الْخَلَّاقُ الْعَلِيمُ (٨١) إِنَّمَا أَمْرُهُ إِذَا أَرَادَ شَيْئًا أَنْ يَقُولَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ (٨٢)"

(يس : ۸۱–۸۲)

ژباړه:

"ايا هغه (ذات) چې اسمانونه او ځمکه يې پيدا کړي، قادر نه دی چې د دوی غوندې نور پيدا کړي؟ هو ولې نه !(قادر دی)، او دی خو ښه پيدا کوونکی عالم دی .بېشکه چې د هغه حکم يوازې دا دی چې کله د کوم شي اراده وکړي (نو) وايي ورته (چې)" شه "، نو هغه (شی() سملاسي) پيدا شي".

د ګڼو کائناتونو تصور (Multiverses) او د قرآن کريم اعجاز

د ساينس او فزيک د نوي څېړنو پر بنسټ دا تيوري ورځ تر بلې پياوړې کيږي چې زموږ کائنات يوازينی نه دی، بلکې داسې ګڼ شمېر نور کائناتونه هم شته .دا نظريه، چې ورته Multiverse Theory وايي، وايي:

ممکنه ده بې شمېره نور کائناتونه موجود وي.

هر يو کائنات خپل خاص طبيعي قوانين، فزيکي ځانګړتياوې او مادې ولري.

زموږ کائنات يوازې يو کوچنی غوندی جز دی د خدای د مخلوقاتو له پراخه سمندر څخه.

دا ساينسي تيوري د قرآن کريم له عظيمو ارشاداتو سره کاملاً موافقه لري .الله جل جلاله واضحه وايي چې دی د اسمانونو او ځمکې خالق دی، او که اراده وکړي، په آسانۍ سره د دوې غوندې نور مخلوقات پيدا کولی شي.

قرآن او د کائناتو کثرت

قرآن کريم مکرر د" العالمين "کلمه استعمالوي:

"الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ"
(الفاتحة :۲)

"عالمين "يعني بېشمېره عالمونه او مخلوقات —— دا يوازې انسانان يا د ځمکې موجودات نه دي، بلکې د الله د قدرت بې پايانه مظاهر دي.
همداراز، الله تعالی فرمايي:

"وَيَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُونَ"
(النحل :۸)

[ژباړه :]او الله هغه څه پيدا کوي چې تاسې پرې نه پوهېږئ.

د" کن فيکون "اعجاز

په پورته آيت کې، الله جل جلاله د خپل تخليقي قدرت خاص طرز تشريح کړی:

کله چې د څه شي اراده وکړي، صرف وايي" :شه"، او هغه شې جوړېږي.

د دې خبرې مطلب دا دی چې د الله د قدرت لپاره هیڅ محدودیت نشته .لکه څنګه چې یو کائنات یې پیدا کړی، کولای شي میلیونونه نور هم پرته له کوم خنډه پیدا کړي.

علمي تحلیل

Multiverse Theory د کائنات د ابتدايي انفجار (Big Bang) نه وروسته د مختلفو ممکنو" حبابي کائناتونو "د جوړېدو احتمال تاییدوي .دا نظریه، چې د کوانتم فزیک او کاسمولوجی له اصولو څخه راوتلې ده، یوازې د یو ستر کائنات محدود تصور ماتوي او د خدای د بې پایه قدرت یو نوی ابعاد څرګندوي.

نتیجه

د «Multiverse» یا د «ګڼو کائناتونو» نظریه، که څه هم اوس د عصري ساینس له اړخه یوه احتمالي او پرمختللې موضوع ده، خو دا حقیقت پخپله د قرآن کریم د الهي وحې له څرګندونو سره په پوره ډول مطابقت لري .قرآن کریم له ۱۴ پېړیو وړاندې د خدای تعالی هغه قدرت او عظمت بیان کړی چې د اسمانونو، ځمکې، او د هغو په شان د نورو مخلوقاتو د پیدا کولو بشپړ توان لري.



## د کائناتو عظمت

د قرآن اعجاز :د اسمانونو او ځمکې تخليق – د انسان له درک هاخوا

(لَخَلْقُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ أَكْبَرُ مِنْ خَلْقِ النَّاسِ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ)
(سورت غافر :۵۷)

ژباړه" :بېشکه د آسمانونو او ځمکې پيداېښت د خلکو له پيداېښته ډېر لوی دی، مګر د خلکو ډېری نه پوهېږي".

د کائناتو فزيکي لويوالی – د انسان عقل حيرانوي

د معاصر فزيک له مخې، زموږ کهکشان (Milky Way) يوازې يوه کوچنۍ "ذره "ده د لامحدوده هستۍ په سمندر کې .دا کهکشان شاوخوا ۴۰۰ ميلیارده ستوري لري، او د هغې اندازه نږدې ۱۰۰،۰۰۰ نوري کلونه ده .مګر حيرانتيا دلته نه ختمېږي:

ساینسپوهان وايي، چې زموږ د کهکشان په شان ۲۰۰ میلیاردو څخه تر ۲ تریلیونه پورې نور کهکشانونه په مشاهدې کائنات کې شته.

هر کهکشان بیا ځانته بې شمېره سیارې، ستورې، تورې سورى، نیبولې، او انرژی لرونکې پدیدې لري.

د ټول کائنات قطر شاوخوا ۹۳ میلیارد نوري کلونه اټکل شوی، او دا یوازې "مشاهده کېدونکی "برخه ده، اصلي اندازه یې الله ته معلومه ده!

نو کله چې قرآن وايي چې د آسمانونو او ځمکې پیدایښت ډېر لوی دی – نو دا یو ښکلی علمي اعجاز دی، ځکه چې بشر له ۱۴۰۰ کلونو وروسته اوس پوهېږي چې دا یقیناً لوی دی – آن تر تصور پورته.

د کائناتو عمري وسعت – د انسانانو له عمر څخه میلیون چنده

د ساینسپوهانو په وینا، د کائنات عمر شاوخوا ۱۳،۸ میلیارد کاله اټکل شوی.

د ځمکې عمر شاوخوا 4.5 میلیارد کاله دی.

انسان، د آدم علیه السلام له وخته تر نن ورځې، یواځې څو زره کاله دا دنیا ابادوي.

د انسان او کائنات تر منځ نه يوازې فزيکي بلکې زماني واټن هم حيرانوونکی دی.

قرآني حقيقت – ساينس ته د هدايت مشعل

قرآن کريم د کائناتو دا ستر حقيقت هغه وخت بيان کړی، کله چې انسان لا د ځمکې له سرحداتو هم نه و خبر، نو دا خبره چې:

"لَخَلْقُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ أَكْبَرُ مِنْ خَلْقِ النَّاسِ– "

د انسان له پاره بايد د تفکر، تعجب، او باور دليل شي.

ساينس، که څه هم پرمختګ کړی، خو لا هم د کائناتو د سرحداتو، اصل جوړښت، او ژور حقيقت ته نه دی رسېدلی .ساينس يواځې د قرآن تر شا حقيقتونه ثابته وي، ځکه قرآن د مطلق خالق له لوري نازل شوی.

پايله – قرآن رڼا ده، ساينس د هغې سيوری

بايد ووايو:

ساينس د بشر هڅه ده، خو ناکامه، محدوده او د خطا ډکه.

قرآن د خالق کلام دی، کامل، ريښتينی، او د علم سرچينه.

نو، ساينس بايد د قرآن په رڼا کې لار پيدا کړي، نه برعکس .ځکه دا الهي هدايت دی چې موږ ته د فزيک، خلقت، وخت، او هستۍ اصلي حقيقتونه

رابرسېره کوي .دا آیت یو ژوندی معجزه ده چې د هر لوستونکي فکرونه متحرک کوي:

ایا دا تصادف دی؟ یا دا د خالق بېساري اعجاز؟

بېشکه دا د الله ج معجزاتي کلام دی.



## د کاینات عمر

-عصري کیهانپوهنه(Cosmology - Advanced)

د ځمکې عمر د کاینات د عمر درېیمه برخه ده

په عیسوي بایبل کې لیکل شوي چې ځمکه د پیدایښت په لومړۍ ورځ پیدا شوې، یعنې د بایبل له مخې د ځمکې عمر د کاینات له عمر سره برابر ګڼل شوی دی.

دا مفهوم ځيني خلک د قرآن کريم له آيتونو څخه هم اخيستل غواړي، خو حقيقت دا دی چې قرآن وايي:

کاينات په شپږو ورځو کې پيدا شوي، خو ځمکه يوازې په دوو ورځو کې.

يعنې د ځمکې عمر د ټول کاينات له عمر څخه يوازې 1/3 دی.

د شک کوونکو اعتراض:

شک کوونکي وايي:

"هغه څوک چې قرآن يې ليکلی، د بايبل نه يې غلط نقل کړی، او غلطه نسبت يې ورکړې، ځکه يې د ځمکې عمر د کايناتو له عمر څخه لږ ښودلی".

لومړی خو بايد په پوه شو چې په قران کريم کې د ورځې کلمات بيل بيل استعمال شوي يوم کلمه په قران کريم کې تل د لوی ساعت او د پينځوس زرو کالونو او زرو کالونو لپاره راجيح شوی لکه د جبرايل ع او د ملايکو پورته ختل په هغه ورځ يوم کې چې اندازه يی پينځوس زره کاله ده او د ځمکې څلرويشتو ساعتونو لپاره يوازې د ليل او نهار کلمات استعمال شوي دي نه برعکس د يوم ورځ کلمات، دا ډيره مهمه موضوع ده.

خو علمي کشفيات د دوی دا ادعا ردوي.

عصري ساينس څه وايي؟

نن ورځ د کيهانپوهنې (Cosmology) متخصصين وايي چې د کايناتو عمر د ځمکې له عمر څخه تقريباً درې چنده زيات دی!

د کاینات عمر :شاوخوا 13.8میلیارده کاله

د ځمکې عمر :شاوخوا 4.5 میلیارده کاله

یعنې تقریباً:

کاینات × 3 = ځمکه

او دا عیناً هغه څه دي چې قرآن یې ۱۴ پیړۍ مخکې ویلي وو، بې له دې چې تلسکوپ یا ساینس موجود وای.

د وخت نسبي والي –

موږ له آینسټاین څخه دا زده کړل چې:

"ستا ساعت او زما ساعت به ضرور په یو رفتار نه ګرځي، بلکې د وخت رفتار د کشش ثقل (Gravity) او تعجیل (acceleration) پورې اړه لري".

که زما ساعت تعجیل لري، یا زما چاپېریال د قوي کشش ثقل لاندې وي، نو زما ساعت به ستا د ساعت په نسبت ورو ګرځي.

قرآني اعجاز:

مسلمانان باور لري چې:

جنت او دوزخ تر ځمکې ډېر ستر، درانه او قوي دي.

که چیرې جنت یا دوزخ ډېر عظیم جرم ولري، نو د عمومي نسبیت تیوري (General Relativity)له مخې، باید هلته وخت ورو تېرېږي.

او همدا حقیقت قرآن کریم له ۱۴۰۰ کالو مخکې بیان کړی دی:

"وَإِنَّ يَوْمًا عِندَ رَبِّكَ كَأَلْفِ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّونَ"

(سورة الحج :۴۷)

ژباړه :«او بېشکه چې د رب پر وړاندې یو ورځ ستاسو د شمېر له زرو کلونو سره برابر ده.»

یعنې په جنت یا دوزخ کې یو ورځ تېرېږي، خو دلته په ځمکه کې زر کاله تېر شوي وي.

دا عیناً د نسبیت تیوري له مخې د وخت کشش دی.

قرآن – سورة الحج ۲۲:۴۷

وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِالْعَذَابِ وَلَنْ يُخْلِفَ اللَّهُ وَعْدَهُ ۚ وَإِنَّ يَوْمًا عِندَ رَبِّكَ كَأَلْفِ سَنَةٍ مِمَّا تَعُدُّونَ

ترجمه : «او هغوی له تا نه عذاب ژر غواړي، حال دا چې الله به هېڅکله خپل وعده نه ماتوي، او بېشکه د ستا د رب پر وړاندې یو ورځ ستاسو له شمېرل شویو (وختونو) سره د زر کلونو په اندازه ده.»

د آیت علمي اعجاز – د وخت نسبیت

دا آیت هغه خلکو ته خبرداری ورکوي چې د قیامت یا د عذاب پر حقیقت باور نه لري، او له پیغمبر څخه د عذاب راکوزېدو غوښتنه کوي .خو الله جل جلاله وايي چې:

"د الله پر وړاندې یو ورځ ستاسو د زر کلونو برابر ده".

یعني، که یو څوک په جهنم کې یواځې یو ورځ عذاب ووینی، دا به داسې وي لکه زر کاله چې د ده پر روح تېر شوي وي.

دا د نسبیت تیوري ده–

د آینسټاین د عمومي نسبیت تیوري (General Relativity) له مخې:

وخت د فزیکي شرایطو تابع دی، نه یو مطلق شی.

هر څومره چې یوه سیمه قوي کشش ثقل (gravitational field) ولري، هلته وخت ورو تېرېږي.

د ثقیلو جرمونو لکه ستوریو، تور سورو(black holes) ، او کهکشانونو تر ځنګ، ساعتونه ورو ګرځي.

د عیسویانو عقیده:

عیسویان وایي چې:

خدای کاینات په شپږو" ځمکني ورځو "کې پیدا کړل.

او بیا یې په اوومه ورځ استراحت وکړ.

خو مسلمانان وایي:

الله ج په شپږو ورځو کې اسمانونه، ځمکه، او ټول څه چې پکې دي پیدا کړل.

خو دا شپږ ورځې د الله د عرش د وخت مطابق دي، نه د ځمکې.

د قرآن مطابق:

د کایناتو مخلوق (اسمانونه، ځمکه، او منځ کې موجودات) په ۶ ورځو کې شو.

ځمکه ځانګړې په ۲ ورځو کې پیدا شوه.

"قُلْ أَئِنَّكُمْ لَتَكْفُرُونَ بِالَّذِي خَلَقَ الْأَرْضَ فِي يَوْمَيْنِ"
(سورة فصلت ۴۱:۹)

یعنې:
د ځمکې عمر = ۲ ورځې، د کاینات عمر = ۶ ورځې، نو ۲/۶+ 1/3 =

ساینس څه وایي ؟

د کاینات عمر :شاوخوا 13.8 میلیارده کاله

د ځمکې عمر :شاوخوا 4.6 میلیارده کاله

۱/۳ نږدې = ۱۳.۸ ÷ ۴.۶
یعنې، قرآني تناسب عیناً له عصري ساینس سره سمون لري.

د الله عرش – له کایناتو هم پراخ

قرآن وایي:

"وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ"

(سورة البقرة ٢:٢٥٥)

ژباړه" :د الله کرسي اسمانونه او ځمکه تر پوښښ لاندې راوستې ده".

نو که د الله کرسی له کایناتو هم پراخ وي، نو یقیناً باید ډېر ستر، ډېر درووند، او له تصور پورته جرم ولري.

نو که وخت د جرم له مخې ورو تېرېږي، نو د الله په عرش کې وخت باید تر ځمکې ډېر ورو وي.

د محفوظ لوح، د ځمکې د پیدایښت، او د وخت د تناسب اعجاز

د مسلمانانو عقیده:

مسلمانان باور لري چې الله تعالی د ټولو ژوندي موجوداتو روزي تضمین کړې، او دا ټول امرونه یې پر محفوظ لوح لیکلي دي .قرآن کریم بیانوي چې حتی یوه پاڼه هم له ونې نه نه رېږي، مګر دا چې هغه به له مخکې په محفوظ لوح کې ثبت شوې وي.

الله تعالی فرمايي:

"وَقَدَّرَ فِيهَا أَقْوَاتَهَا فِي أَرْبَعَةِ أَيَّامٍ سَوَاءً لِلسَّائِلِينَ"

(سورة فصلت :١٠)

ژباړه" : او د هغې (ځمکې) روزي یې پکې ټاکلې ده، په څلورو ورځو کې، برابر د هغو دپاره چې پوښتنه کوي".

یعنې هره دعا، غوښتنه، او روزي چې موږ نن کوو، الله ج هغه له مخکې، د ځمکې د جوړېدو څخه مخکې، ثبت کړې ده.

د ځمکې او اسمانونو د پيدايښت ترتيب – آيتونه ۹–۱۲

الله تعالى فرمايي:

"قُلْ أَئِنَّكُمْ لَتَكْفُرُونَ بِالَّذِي خَلَقَ الْأَرْضَ فِي يَوْمَيْنِ"...
(فصلت :۹ – ۱۲)

د دې آيتونو ترتيب دا ښيي:

لومړی :الله ځمکه په ۲ ورځو کې پيدا کړه.

بيا :الله تعالى د روزي نظام، تقدير، او هغه څه چې مخلوق ته اړ دي، په ۴ ورځو کې برابر کړل، يعنې دا څلور ورځې ممکنه ده چې د نسبتيت له نظره همدغه ۴ بيليونه کاله د ځمکې د برابری دی چې نن یی ساینس تاییدوي.

دا مرحله د پښتنه کونکو لپاره ده" :سَوَاءً لِلسَّائِلِينَ"

وروسته له دې (ثُمّ) :اسمانونه لا هم دخان (د لوګي يا ګاز) بڼه درلوده.

نو الله امر وکړ :اسمان او ځمکه دې د هغه فرمان ته تسليم شي.

بيا :اسمانونه په ۲ ورځو کې اوه طبقې کړل شول، او هر يوه ته ځانګړی امر (دنده) ورکړل شوه.

د وخت اعجاز – د الله د عرش وخت او د ځمکې وخت

د الله د عرش له نظره:

ځمکه :۲ ورځې عمر لري.

ټول کاينات (اسمانونه، ځمکه، منځني شيان) :۶ ورځې.

نو ۲ ÷ ۶ = ۳/۱

د ساينس له نظره:

د کايناتو عمر 13.8 :ميلیارده کاله.

د ځمکې عمر 4.5 :ميلیارده کاله.

۴.۶ ÷ ۱۳.۸ = ۱/۳

یعنې، د قرآني ورځو تناسب (۶/۲) عیناً له عصري ساینس سره برابر دی!

نسبیت (Relativity) دا څنګه تفسیر کوي؟

د عمومي نسبیت تیوري وايي چې وخت د کشش ثقل له شدت سره بدلیږي.

د الله عرش له ټول کاینات څخه ستر او درووند دی.

نو هلته وخت ورو تېرېږي.

که د الله عرش کې ۶ ورځې تېر شي، دا پر ځمکه د 13.8میلیاردو کلونو برابرېږي.

پایله:

زموږ دعاوې الله ج له مخکې د محفوظ لوح په واسطه ثبت کړې دي.

دا د ځمکې له تشکیل څخه مخکې ثبت شوې وې، کله چې ځمکه لا د لوګي (smoke/gas)بڼه درلوده.

د وخت د تناسب حقيقت، چې قرآن کريم ۱۴۰۰ کاله وړاندې بيان کړی، نن ساينس د نسبيت له تيورۍ سره تاييدوي.

دا ټول د قرآن عظيم الشان يو بېساری اعجاز دی، چې هم د علم، هم د عقيدې، او هم د تقدير حقيقتونه پکې رانغښتي دي.




## قطبونه

د" المشرقين والمغربين "(دوه ختيځونه او دوه لويديځونه) واقعي مانا څه ده؟

کله چې الله تعالی د" مشرق "او" مغرب "يادونه کوي، دا اسانه ده چې پوه شو، ځکه هر ځای يو ختيځ (مشرق) او يو لويديځ (مغرب) لري.

او کله چې الله تعالی د" رب المشارق ورب المغارب "يادونه کوي، هم اسانه ده پوهېدل، ځکه ختيځونه او لويديځونه د ځمکې د بيلابيلو نقطو سره سم، بيلابيل دي ـــ لکه د هر ځای خپل طلوع او غروب لري.

خو کله چې الله تعالی فرمايي" رَبُّ الْمَشْرِقَيْنِ وَرَبُّ الْمَغْرِبَيْنِ"، نو دلته سوال پيدا کيږي :کوم دوه ختيځونه؟ او کوم دوه لويديځونه؟ ځکه ځای ورته نه دی ټاکل شوی، او الله تعالی دلته مشخص شمېر (دوه) ياد کړی دی.

نو، د دې معنا حل هم په قرآن کريم کې دی .الله تعالی فرمايي:

"حَتَّى إِذَا جَاءَنَا قَالَ يَا لَيْتَ بَيْنِي وَبَيْنَكَ بُعْدَ الْمَشْرِقَيْنِ فَبِئْسَ الْقَرِينُ[ "الزخرف : 38]

يعنې :کله چې دا انسان د خپل رب حضور ته راشي، وايي :کاشکي زما او ستا(شيطان) ترمنځ د دوو ختيځونو (المشرقين) دومره فاصله وای ـــ يعنې ډېر زيات واټن.

نو دلته پوهېږو چې دا" المشرقين "د ډېر لرې واټن يو مثال دی .خو کوم ځايونه دومره لرې دي چې د دوو ختيځونو ترمنځ يې دومره فاصله وي؟

پاس يې ځواب شته :يوازينی دوه ځايونه په ځمکه کې چې تر ټولو زيات جلا دي، هغه شمالي قطب او جنوبي قطب دي.

په شمالي قطب کې کله چې لمر خېږي، شپږ مياشتې دوامداره خېژي، او په همدې وخت کې په جنوبي قطب کې شپږ مياشتې لمر غروب وي .بيا لمر په جنوبي قطب کې خېژي، او شمالي قطب ته غروب کيږي ـــ هم شپږ مياشتې.

نو دا المشرقين والمغربين يوازې د ځای فاصله نه ده، بلکې د وخت فاصله هم ده :شپږ مياشتې بشپړ فرق، چې دا يوازې د شمالي او جنوبي قطب ترمنځ پيښيږي.

نو ځکه الله تعالی دا دوه ځايونه له نورو ټولو ختيځونو او لويديځونو جلا ګڼلي، ځکه هلته:

تر ټولو لرې فاصله ده (جغرافيايي بُعد).

تر ټولو لوی وختي توپير شته (زماني بُعد).

دا حالت په بل هيڅ ځای کې نه پيښيږي.

نو دا الهي تفرد او نظم موږ ته ښيي چې قرآن کريم څومره دقيق الفاظ کارولي، او څومره ژور علم پکې نغښتی دی، چې يوازې اوسني علمي کشفونه يې تفسير ته لاره هواروي



## شعور لرونکې کائنات

د اسلام اعجاز او شعور لرونکې کائنات

اسلامي مفکوره، فلسفه او عصري ساینس

اسلامي عقیده له ډېره وخته څرګندوي چې ټول مخلوقات د الله جل جلاله په تسبیح بوخت دي .دا یو ښکاره قرآني حقیقت دی، چې څرګندوي :کائنات یو ډول شعور لري، او د الله ج له امر سره شعوري تعامل کوي.

تُسَبِّحُ لَهُ السَّمَاوَاتُ السَّبْعُ وَالْأَرْضُ وَمَنْ فِيهِنَّ ۚ وَإِن مِّن شَيْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِ وَلَٰكِن لَّا تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ ۗ إِنَّهُ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا

(الإسراء :۴۴)

ژباړه" : او اوه اسمانونه او ځمکه او څوک چې پکې دي، د هغه تسبیح وایي، او هېڅ شی نشته مګر د هغه په ستاینه کې بوخت دی، خو تاسو د هغوی په تسبیح نه پوهېږئ .بېشکه هغه حلیم او بخښونکی دی".

د آسمان او ځمکې شعوري اطاعت

ثُمَّ اسْتَوَىٰ إِلَى السَّمَاءِ وَهِيَ دُخَانٌ فَقَالَ لَهَا وَلِلْأَرْضِ ائْتِيَا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا ۖ قَالَتَا أَتَيْنَا طَائِعِينَ

(فصلت :۱۱)

ژباړه" :بیا یې اسمان ته مخه کړه، پداسې حال کې چې لوګی و، نو اسمان او ځمکې ته یې وویل :په خوښه یا ناخوښه راشئ، هغوی وویل :موږ په خوښه راغلو".

دا آیت څرګندوي چې اسمان او ځمکه د الله ج امر ته په شعوري توګه اطاعت کوي .یعنې دا مخلوقات یوازې فزیکي موجودات نه دي، بلکې یو ډول ادراک، شعور او درک لري.

د جنت او دوزخ خبرې – د شعور ژور اړخ

په احادیثو کې څرګند بیانونه شته چې جنت او جهنم د شعور او خبرو توان لري.

"کله چې الله ج جنت پیدا کړ، نو ورته یې امر وکړ چې خبرې وکړه .جنت وویل :خوشحالي ده پرهیزګارو خلکو لره".

(حديقة الأرواح، ص ۸۳)

بل حدیث:

"جهنم به د قیامت په ورځ ووایي :یا رَبّ !چېرته دي زما اهل؟"

د جنت او دوزخ ترمنځ د خبرې:

"جنت وویل :ما ته عاجزان او نیک کسان راځي، جهنم وویل :ما ته متکبران او ظالمان .نو الله تعالی پرې فیصله وکړه".

(کتاب جنت، مخ ۶۵)

دا روایات دا حقیقت تاییدوي چې حتی جنت او دوزخ شعور، غبرګون، او ادراک لري.

ایا کائنات شعور لري؟ (د ساینس او فلسفې له نظره)

۱ .پین سایکزم – (Panpsychism) د شعور فلسفي بنسټ

"پین سایکزم "یو فلسفي او علمي نظر دی، چې وايي:

شعور یوازې د انسان یا حیوان خاصیت نه دی، بلکې د کائناتو هره ذره (اتوم، الکترون، پروټون) یو ابتدايي شعور لري.

له دې نظره:

لمر، ستوري، کهکشانونه شعوري ځانګړتیاوې لري.

دا شعور ابتدايي دی، خو د درک، احساس او تعامل وړتیا لري.

۲ .شعور د ذرې په کچه

هره ذره یو ساده شعور لري، او کله چې ذرې یو ځای شي او پیچلي جوړښتونه رامنځته شي (لکه مغز یا ستوریز نظام)، نو د شعور کچه لوړیږي . یعنې شعور یوه ارتقايي پروسه لري.

۳ .لمر او کهکشانونه – شعور لرونکي جوړښتونه؟

د" پن سایکزم "له مخې:

لمر :که شعور ولري، نو ممکن د خپل لمریز باد (Solar Winds) او شغلو (Flares)له لارې عکس العمل ښکاره کړي.

کهکشانونه :د ستورو او سیارو همغږي حرکت ښیي چې یو مرکزي شعور ورسره شته.

۴ .روپرټ شیلډریک او مقناطیسي شعور

روپرټ شیلډریک (Rupert Sheldrake) یوه نظریه وړاندې کوي چې د لمر مقناطیسي ساحې لکه د عصبي شبکې (Neural Network) عمل کوي . یعنې:

دا امکان شته چې مقناطیسي څواکونه د شعور نښې وي، او لمر د یو شعوري وجود په څېر چلند کوي.

۵ – IIT .د شعور علمي تیوري

Integrated Information Theory (IIT):

هر سیستم چې معلومات تحلیل او همغږي کوي، شعور لري.

د دې له مخې، حتی لمر، سیارې، یا کهکشانونه کولی شي شعور ولري، که چیرې هغوی معلومات پروسس کوي.

د شعور درې مرحلې – د کاسمیک شعور فلسفه

ریچرډ موریس بک، یو کاناډایي مفکر او طبیب، د خپل مشهور کتاب ( Cosmic Consciousness)"کاسمیک شعور") په ترڅ کې د شعور درې بیلابیل ډولونه معرفي کوي، چې دا نظریه وروسته د فلسفې، ارواپوهنې، او دیني علومو د فکر یوه مهمه برخه ګرځېدلې ده .دا درې درجې یا مرحلې داسې بیان شوي دي:

۱ .ساده شعور:(Simple Consciousness)

دا لومړنی او بنسټیزه مرحله ده چې هم انسانان او هم حیوانات یې لري .پدې مرحله کې یو موجود د خپل فزیکي وجود، احساساتو (لکه لوږه، تنده، درد)، او شاوخوا چاپېریال نه یو ابتدایي درک لري .دا شعور د بقا لپاره ضروري دی، خو پکې تفکر یا ځان پېژندنه نه وي.

۲ .ځانپېژندونکی شعور:(Self-Consciousness)

دا شعور یوازې انسان لري .پدې مرحله کې یو شخص د خپل شخصیت، فکرونو، احساساتو، او اعمالو نه باخبره وي .دا شعور د منطق، تحلیل، تخیل،

فلسفي، او وجدان بنسټ جوړوي .انسان پدې مرحله کې" زه څوک یم؟"،" له کومه راغلی یم؟"، او" هدف مې څه دی؟ "دا ډول ژورې پوښتنې کوي.

٣ .کاسمیک شعور:(Cosmic Consciousness)

دا تر ټولو لوړه او نادره شعوري مرحله ده، چې یوازې ځینې غوره انسانانو ته حاصلیږي .پدې حالت کې یو شخص ناڅاپي یا تدریجي توګه داسې روحاني بیداري تجربه کوي، چې کائنات ورته یو ژوندي، شعور لرونکی، او یووالي لرونکی حقیقت ښکاري .انسان دا درک کوي چې د کائنات هره ذره د خالق سره په شعوري ارتباط کې ده، او خپل ځان د ټول وجود یوه برخه ګڼي، نه جلا مخلوق.

بک دا مرحله د عرفاني تجربو،خصرت عیسی ع او خضرت محمد(ص) او د انبیاء کرامو (علیهم السلام)، او لویو روحاني شخصیتونو سره تړي، او وایي چې دا ډول شعور یوازې هغو کسانو ته حاصل شوی چې له خپل ځان نه پورته فکر ته رسېدلي وي.

نتیجه :قرآن، حدیث، فلسفه او ساینس ټول شعور لرونکي کائنات تایید کوي

کله چې ساینس دا نظر وړاندې کوي چې کائنات یو شعور لري، اسلام له ١۴٠٠ کلونو راهیسې دا حقیقت بیان کړی دی:

"وَإِن مِّن شَيْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِ" – "هیڅ شی نشته مګر د الله تسبیح وایي"!

دا معجزه د اسلام اعجاز دی، چې دا حقیقتونه یې هغه وخت بیان کړي، چې نه فلسفه موجوده وه، نه کوانتم فزیک، نه لابراتوارونه.




ډیر لمرونه او سپوږمۍ

ځینې کسانو ته دا پوښتنه پیدا کیږي، چې د الله تعالی د دې آیت مطلب څه دی:

(وَمِنْ آيَاتِهِ اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ، لَا تَسْجُدُوا لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ، وَاسْجُدُوا لِلَّهِ الَّذِي خَلَقَهُنَّ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ)

(او له هغه( الله )له نښو څخه شپه او ورځ، لمر او سپوږمۍ دي، لمر او سپوږمۍ ته سجده مه کوی، بلکې سجده کوئ الله ته چې دوی یې پیدا کړي دي، که تاسې خاص د همدغه الله عبادت کوئ)

[سورت فصلت :آیت ۳۷]

الله تعالی موږ ته څرګندوي، چې هر څه د هغه فرمان ته تسلیم دي، او همغه ذات لایق د عبادت دی .امام طبري رحمه الله پخپله تفسیر کې وایي» :د الله له نښو څخه دا ده، چې شپه او ورځ یو بل ته تعقیب ورکوي، او همداراز لمر او سپوږمۍ «...دا نښې د الله تعالی د وحدانیت او قدرت ښکاره دلیلونه دي.

ولې الله تعالی فرمايي" :خَلَقَهُنَّ – "د جمع مؤنث صیغه؟

دا آیت یوازې د لمر او سپوږمۍ یادونه کوي، نو د صرف دوه شیانو لپاره خو باید د" خَلَقَهُمَا "صیغه کارېدلې وای، خو قرآن کریم وایي" :خَلَقَهُنَّ – "چې دا د دریو یا زیاترو مؤنثو لپاره کارېږي!

دا یو نه‌پټ اعجاز دی !الله تعالی له هماغه وخت نه موږ ته دا اشاره راکړې، چې لمر او سپوږمۍ یواځې نه دي؛ بلکې د الله له نښو څخه ګڼ شمېر لمرونه او سپوږمۍ هم شته .دا داسې یو راز و، چې ۱۴۰۰ کاله وړاندې څوک نه پوهېدل، مګر نن ساینس دا حقیقتونه کشف کړل!

ساینس څه وایي؟

هر ستوری یو لمر دی – لکه زموږ لمر !ساینسپوهانو کشف کړې ده، چې یوازې زموږ په" شیدو لاره کهکشان "(Milky Way) کې سل میلیارده ستوري( لمرونه )شته !او هر یو ستوری یو مستقل لمر دی .نو که موږ ټولې کهکشانې حساب کړو، چې شاوخوا سل میلیارده کهکشانې دي، نو دا شمېره به بیخي حیرانوونکې شي!

ساينس دا هم ثابته کړې چې يوازې ځمکه نه ده، بلکې زرهاؤ سيارې (Planets)هم شته، چې ځينې ترې د ځمکې غوندې دي، او د هرې سيارې شاوخوا سپوږمۍ(Moons) ګرځي، بالکل لکه زمونږ سپوږمۍ.

دا مانا چې زمونږ کائنات ميلياردونه سپوږمۍ لري!

قرآني اعجاز دلته ښکاره کېږي:

کله چې قرآن فرمايي:

(وَاسْجُدُوا لِلَّهِ الَّذِي خَلَقَهُنَّ)

(سجده وکړئ هغه الله ته، چې دا ټول يې پيدا کړي)

نو دا د جمع مؤنث صيغه ده، چې يوازې دوه شيان نه، بلکې تر دوو زيات شيان ښيي .دا پټه اشاره ده، چې لمرونه زيات دي، سپوږمۍ زياتې دي – او دا حقيقت نن علمي نړۍ کشف کړ.

الله تعالی فرمايي:

(بَلْ هِيَ آيَاتٌ بَيِّنَاتٌ فِي صُدُورِ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ)

(بلکې دا آيتونه ځرګند دي، او د هغو کسانو په زړونو کې دي، چې پوهه ورکړل شوې ده)

[سورت العنکبوت :۴۹]

پايله:

قرآن موږ ته دا وايي چې لمر او سپوږمۍ ته سجده مه کوئ، بلکې الله ته سجده وکړئ.

د کلمې" خَلَقَهُنَّ "کارول د دې حقيقت ښه ده، چې لمرونه او سپوږمۍ يوازې يو نه دي.

ساينس همدا خبره اوس ثابته کړې ده :هر ستوری يو لمر دی، او د سيارو شاوخوا ملياردونه سپوږمۍ ګرځي.

دا يو ژور قرآني اعجاز دی، چې ۱۴ پېړۍ مخکې ويل شوی، خو نن د ساينس له لارې ښه ځرګند شو.

سبحان الله !يوه کلمه په قرآن کې" – خَلَقَهُنَّ – "د يو عظيم علمي حقيقت دروازه پرانيزي.



## د لمر رڼا او د فرضي لمنځونو منعاتو وختونه

ولې د یو لمانځه نه مخکې بل لمونځ کول نه دي روا؟ او دا وخت څومره دی؟

او آیا دا کوم علمي دلیل هم لري؟

په حدیث کې:

عُقْبَةَ بْنَ عَامِرٍ الْجُهَنِيَّ، يَقُولُ ثَلاَثُ سَاعَاتٍ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم يَنْهَانَا أَنْ نُصَلِّيَ فِيهِنَّ أَوْ أَنْ نَقْبُرَ فِيهِنَّ مَوْتَانَا حِينَ تَطْلُعُ الشَّمْسُ بَازِغَةً حَتَّى تَرْتَفِعَ وَحِينَ يَقُومُ قَائِمُ الظَّهِيرَةِ حَتَّى تَمِيلَ الشَّمْسُ وَحِينَ تَضَيَّفُ الشَّمْسُ لِلْغُرُوبِ حَتَّى تَغْرُبَ

چې عقبة بن عامر رضي الله عنه روایت کړی، رسول الله ﷺ وفرمایل:

"درې وختونه داسې دي چې رسول الله ﷺ به مونږ ترې منع کول، چې پکې لمونځ وکړو یا پکې خپل مړي ښخ کړو:

۱ .کله چې لمر راختونکی وي، تر هغې چې پورته شي؛ ۲ .کله چې د غرمې وخت ته نېږدې سیوری ودرېږي، تر هغې چې لمر لږ څه کږ شي؛ ۳ .او کله چې لمر د لوېدو خوا ته شي، تر هغې چې پوره غروب شي".

صحیح مسلم ۸۳۱

اسلام کې د لمانځه لپاره ځینې وختونه منع شوي دي .له دې ټولو نه تر ټولو مهم هغه دی چې یو فرض لمونځ خلاص شي، او تر بل فرض لمانځه لږ وخت پاتې وي.

یعنې :لمونځ کول د راتلونکي لمانځه تر وخت مخکې، په مستقیم ډول مخکې، مکروه دي.

علماوو دا وخت لږ دقیقې ګڼلی دی:

ځینو ویلي :شاوخوا لس دقیقې؛

ځینو ویلي :نیم ساعت؛

او ځینو بیا دا وخت تر دې هم لږ ګڼلی.

خو داکټر غلوش وایي چې دا وخت په دقیق ډول هم معلومولی شو – او دا هم د یو علمي دلیل پر بنسټ!

د لمر رڼا، لمانځه، او علم ترمنځ معجزاتي تړاو

موږ مخکې هم ویلي و چې لمونځ باید پر خپل وخت وشي، او دا وختونه د رڼا له ډولونو، د بدن له نظام، او د طبیعي ساعتونو سره اړیکه لري.

اوس پوښتنه دا ده :ولې له فرض لمانځه مخکې بل لمونځ نه شي کېدلای، مګر که ضروري عذر وي؟

ځواب :هو، دلته یو ډېر مهم علمي دلیل شته، او هغه دا دی:

د" ساعت "معنا

په اسلامي متنونو کې چې ویل کېږي" ساعه"، دا مانا نه کوي چې" ۶۰ دقیقې"، بلکې مانا یې ده :یو ځانګړی لنډ وخت.

رڼا څنګه راځي؟ او موږ لمر څنګه وینو؟

لمر له ځمکې نه ۱۴۹ میلیونه کیلومتره لرې دی.

د لمر رڼا ته شاوخوا ۸ دقیقې وخت پکار دی تر څو موږ ته راورسیږي.

یعنې :موږ اوسنی لمر نه وینو، بلکې د ۸ دقیقو مخکې حالت یې وینو.

د غروب مثال

کله چې موږ د لمر لویدل وینو، لمر په حقیقت کې مخکې له دې نه تېر شوی وي – یعنې ۸ دقیقې مخکې لمر پوره غروب شوی وي، خو موږ یې اوس ګورو.

نو که څوک په دې وروستي ۸ دقیقو کې لمونځ وکړي، هغه لمونځ به:

نه وي د وخت پر خپل وخت،بلکې د وخت له وتلو وروسته ادا شوی وي،که دا نفل وي، سنت وي، یا حتّی فرض.

نو له همدې امله، له بل لمانځه مخکې لمونځ کول مکروه دي، او دا وخت باید لږ تر لږه ۸ دقیقې مخکې بند شي.

اسلام او علم – اعجاز

که موږ دې ته وګورو، نو پوهېږو چې:

دا حکمونه یوازې تش عبادت نه دی،بلکې تر شا یې ژور علمي منطق شته.

داسې حقایق چې شاید نن نه وي درک شوي، خو سبا به ته یا بل څوک پرې پوه شي.

نو دا پوښتنه راپورته کېږي :رسول الله ﷺ څنګه پوه و چې د لمر رڼا ته ۸ دقیقې وخت پکار دی؟ او دا چې موږ لمر نه، بلکې د هغه ماضي وینو؟

ایا دا نه ده معجزه؟

پایله:

هغه وخت چې د راتلونکي لمانځه نه مخکې پکي لمونځ کول مکروه دي، شاوخوا ۸ دقيقي دی.

دا مکروه والی يوازې شرعي نه دی، بلکې علمي دليل هم لري.

اسلام د رڼا، فضا، وخت، او بدن له نظام سره دقيق، متوازن، او معجزاتي همغږي لري.



## د سره ګل غوندې اسمان

– د قرآن اعجاز او د ستوري چاودنه

(فَإِذَا انْشَقَّتِ السَّمَاءُ فَكَانَتْ وَرْدَةً كَالدِّهَانِ)

"کله چې آسمان وچوي، نو هغه به د سور ګل په څېر شي، په شان د څرمنې".
الرحمن – ۳۷

الله په دې آيت کې د قيامت يوه هولناکه شېبه بيانوي :کله چې اسمان به وچوي او د يو سور ګل( وردةً )په څېر به ښکاري، لکه تيل يا رنګين محلول (کالدِّهَانِ )چې روان وي .دا يو ژور تشبيه دی – هم ښکلا لري، هم ويره، هم د رنګونو انفجار!

خو دا يوازې يو تشبيه نه دی – دا يو علمي حقيقت هم دی، چې نن موږ د ناسا د Hubble تلسکوپ له لارې ليدلی شو.

د" پيشو سترګه "دوړو ډکه نړۍCat’s Eye Nebula –

په نږدې ۳۰۰۰ نوري کلومتره فاصله کې، يوه مړه کېدونکې ستوری خپل شاوخوا ته د رنګينو ګازونو قشرونه خوشي کوي .دا منظره "Cat’s Eye Nebula" نومېږي.

ناسا (NASA) دا تصوير د Hubble Space Telescope له لارې ثبت کړی، او دا دومره زړه‌راښکونکې ده، چې انسان ورته ګوري او نه پوهېږي چې دا رنګونه له کومه راغلل.

د دې مشابه يوه بله نيبيولا هم ليدل شوې، چې "Rosette Nebula" نومېږي – يعني د ګل غوندې دوړو بادل.

سور ګل، د آسمان د انشقاق له انفجار سره!

قرآن کريم وايي:

(فَإِذَا انْشَقَّتِ السَّمَاءُ فَكَانَتْ وَرْدَةً كَالدِّهَانِ)

"کله چې آسمان وچوي، نو هغه به د سور ګل په څېر شي، لکه رنګين محلول".

[الرحمن :۳۷ ]

د" الدِّهَانِ "معناوې:

.1رنګين مايع – لکه غوړي، محلول يا مايع رنګ.

.2روان تيل – ځينې مفسرين وايي :دهان هغه تيل دي چې پرې رنګ جوړېږي، يا هغه مايع ده چې پکې انعکاس وي.

.3ځلاکوونکی مواد – داسې څيز ته اشاره کوي چې براق، ځلاکوونکی او ښايسته وي.

.4ځرنګ مايع چې رنګونه پکې ګډ شوي وي – د انفجار پر مهال د ستوري څخه وتلي ګازونه او رنګونه يو ګډ رنګين محلول ته ورته وي.

په ساينسي لحاظ، دا تشبيه د ستوري د چاودېدو پر مهال همغه کېدونکي "Nebula"ته ورته ده – لکه سور ګل غونډې يو براق، دوړو او ګازونو نه جوړ شوی انفجار.

د ساينسي څېړنو له مخې، کله چې يو ستوری مري، نو داسې انفجار کوي چې رنګونه، ګازونه، او تودوخه يې داسې ترکيب جوړ کړي، چې منظر يې واقعاً د يو سور، ژور ګل غونډې ښکاري – عيناً لکه څنګه چې قرآن دا" وردةً " (سور ګل )بللې ده

دا تشبيه دومره دقيقه ده، چې حتی نن ورځ ساينسپوهان ورته "Rosette" يا ګل نما نيبيولا نوم ورکوي – لکه دا:

https://science.nasa.gov/asset/hubble/cats-eye-nebula/

پايله:

۱۴۰۰ کاله وړاندې، قران کريم داسې آسماني صحنه بيان کړه چې انسانان يې لا يوازې اوس ليدلی شي .قرآن دا انځور د يو" سور ګل "په څېر بيان کړی، او نن ساينس هم ورته همدا نوم ورکوي!

دا روښانه اعجاز دی – د هغه ذات له لوري، چې نه يوازې آسمانونه پيدا کړي، بلکې د قيامت منظر يې هم له مخکې انځور کړی دی.

فَسُبْحَانَ اللَّهِ رَبِّ السَّمَاوَاتِ وَرَبِّ الْأَرْضِ رَبِّ الْعَالَمِينَ



**ولې په قرآن کريم کې لومړی د ځمکې پيدايښت ذکر شوی او بيا د اوو آسمانونو؟**

ډېری خلک دا پوښتنه کوي:

"ولې قرآن کريم وايي چې ځمکه تر آسمانونو مخکې پيدا شوې ده؟"

دې پوښتنې ته ځواب ورکولو لپاره، اړينه ده چې د ځمکې د جوړښت پړاوونه وپېژنو:

١ .د ځمکې پيل:

نږدې 4,5 ميلیارده کاله وړاندې، ځمکه د مړو ستوريو (supernova) او ميتيورايټونو له پاتې موادو څخه جوړه شوه .په دې وخت کې ځمکه توده، مذابه( لاندې شوې )او بې له اتمسفيره وه.

٢ .د ميتيورايټونو او عضوي موادو راتګ:

په دې پړاو کې میتیورایټونو، شهابو او د کومیټو ذرو د ځمکې پر مخ اوبه، ګازونه او عضوي مواد( لکه امینو اسیدونه )راوړل .دا مواد د ژوند د پیل لپاره مهم بنسټونه وو.

۳ .د ساده ژوند پیل( سیانوبکتریا:)

نږدې ۳،۸ میلیارده کاله وړاندې، لومړنۍ سیانوبکتریا( یو حجروي موجودات )پیدا شول .دوی د لمر رڼا د فوتوسنتېز له لارې کاروله او د اوبو او کاربن ډای اکساید څخه یې خواړه او اکسیجن تولیدوله .دا اکسیجن بیا د ځمکې اتمسفیر ته خپور شو.

۴ .د اتمسفیر جوړېدل:

د ځمکې پخوانی اتمسفیر د کاربن ډای اکساید، نایټروجن، او د اوبو بخار څخه جوړ و .د سیانوبکتریا له برکته، اکسیجن ورو ورو زیات شو، او دا بدلونونه د پرمختللي ژوند لپاره چاپېریال برابر کړ.

۵ .د اتمسفیر طبقې( لایه بندي:)

د میلیونونو کلونو په اوږدو کې، د ځمکې اتمسفیر په بیلابیلو طبقو وویشل شو، چې نن ورځ یې ساینس اووه طبقې ګڼي:

تروپوسفیر(Troposphere)

استراتوسفیر(Stratosphere)

میسوسفیر(Mesosphere)

ترموسفیر(Thermosphere)

ایکسوسفیر(Exosphere)

ایونوسفیر(Ionosphere)

مقناطیسي ساحه/مقناطوسفیر(Magnetosphere)

د قرآن کریم آیت ته کتنه:

(هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُمْ مَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا ثُمَّ اسْتَوَى إِلَى السَّمَاءِ فَسَوَّاهُنَّ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ)( البقره :۲۹)

ژباړه:

"هغه ذات دی چې ستاسو لپاره یې هر څه پیدا کړل کوم چې په ځمکه کې دي، بیا یې د اسمان لور ته توجه وکړه، او هغوی یې اووه آسمانه کړل؛ او هغه په هر شي باندې پوه دی".

نتیجه:

نو له دې آیت او علمي حقایقو څخه دا ښکاره کېږي چې قرآن کریم تر هر چا مخکې دا حقیقت بیان کړی و چې:

لومړی ځمکه جوړه شوه

بیا پرې ژوند ته مناسب مواد راوړل شول

او ورو ورو اووه اسماني طبقې( یعني اتمسفیر )جوړې شوې

دا یو ښکاره علمي اعجاز دی، چې څومره ژور تفصیل لري، هغومره د الله تعالی د کلام عظمت څرګندېږي.




## د ځمکې څخه ترټولو ځلیدونکی اسماني اجرام او د سپوږمۍ فزیکي حالت

د ځمکې څخه ترټولو ځلیدونکی اسماني اجرام او د سپوږمۍ فزیکي حالت

د جنتیانو رڼا او د کوکب اعجاز – د حدیث نبوي ﷺ او عصري فزیک ترمنځ معجزاتي همغږي

حدیث شریف:

وَعَن أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ :قَالَ رَسُولُ اللَّهِ:ﷺ

»إِنَّ أَوَّلَ زُمْرَةٍ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ عَلَى صُورَةِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ كَأَشَدِّ كَوْكَبٍ دُرِّيٍّ فِي السَّمَاءِ إِضَاءَةً«...

د ابوهریره( رضي الله عنه )نه روایت دی چې رسول الله صلى الله علیه وسلم وفرمایل:

" <هغه لومړنۍ ډله چې جنت ته داخلېږي، د بدر(مکملې )شپې د سپوږمۍ په شان به ځلېدونکي وي؛

او ورپسې راتلونکې ډله به د آسمان تر ټولو روڼ کوکب ( سیارې )په شان روښانه وي.

[بخاري، مسلم، مشکاة المصابیح]5619 :

١ – د" کوکب "کلمه او مفرد تعبیر

په حديث کې رسول الله ﷺ د جنت د داخلېدونکو زُمرو تشبيه د اسماني اجرامو له مخې وکړه:

لومړۍ ډله د سپوږمۍ ( قمر )په مثال تشبيه شوه چې د بدري شپه کې بشپړه، روښانه، او کامل ښکاري.

دوهمه ډله د" أشدِّ كوكبٍ دُرِّيٍّ "په مثال ياده شوې ده — يعني تر ټولو ځلېدونکی مفرد کوکب، نه جمع .دا واحد کلمه د ځانګړي يو جرم ښکارندويي کوي، نه د ستورو يوه ډله.

دا ځانګړی کوکب، که له فزيکي ليدلوري تحليل شي، له ټولو طبيعي اجرامو څخه:

نه ستوری دی ( لکه نجم)، ځکه ستوري رڼا له ځان څخه توليدوي،

نه سپوږمۍ ده، ځکه سپوږمۍ مخکې تشبيه شوې ده،

نو تر ټولو مناسب تطبيق يې په سياره زهره (Venus) کيږي.

۲ – ولې" کوکب درّي = "زهره(Venus) ؟

که د ځمکې څخه د لرې والي يا نزدې والي له نظره وګورو، د سپوږمۍ (Moon)وروسته تر ټولو نږدې اجرام ځمکې ته په لاندينې ډول دي:

1: سپوږمۍ – (Moon) د ځمکې تر ټولو نږدې طبيعي قمر دی، فاصله يې شاوخوا ۳۸۴۴۰۰ کيلومتره ده.

.2: زهره – (Venus) د ځمکې څخه کله چې نږدې شي، فاصله يې شاوخوا ۴۰–۴۱ ميليون کيلومتره ده .زهره هم د خپلو انعکاسي ځانګړتياوو له مخې تر ټولو روښانه سياره ګڼل کيږي، ځکه چې دا د ځمکې په آسمان کې د شپې په وخت کې په ډېر روښانه توګه ليدل کيږي .نو د" أشدِّ کوکب دُرِّيّ "تشبيه ورته تطبيق کېدای شي.

.3: مرکز لمريز سياره – (Mercury) کله چې د ځمکې سره نږدې شي، فاصله يې شاوخوا ۵۰–۹۰ ميليون کيلومتره ده، چې اکثره وخت د زهرې وروسته راځي.

.4: مريخ – (Mars) کله چې نږدې شي، فاصله يې شاوخوا ۵۶ ميليون کيلومتره ده، خو دا فاصله يوازې د اپوزيسيون په وخت کې د ځمکې سره نږدې کېږي.

نو که په حديث کې د لومړۍ ډلې تشبيه سپوږمۍ ته شوې، او دويمه ډله د" أشدِّ کوکب دُرِّيّ – "يعنې تر ټولو روښانه اجرامو څخه تشبيه شوې، نو زهره (Venus)د فزيکي لحاظه هم د ځمکې څخه دويم نږدې او تر ټولو روښانه انعکاسي جرم دی.

زهره هغه سیاره ده چې له ځمکې څخه تر ټولو روښانه ښکاري، دومره چې کله کله د ورځې پر مهال هم لیدل کېږي.

زهره د خپل لوړ ( albedo رڼا انعکاسي ظرفیت )له امله دومره ځلېږي، ځکه یې سطحه ضخیمه وریځپوښ لري چې لمر ته انعکاس ورکوي.

دا سیاره ستوري ته ورته ښکاري، مګر حقیقت کې ستوری نه دی، بلکې یو عکاسي جرم دی — سیاره ده.

که د ساینس له نظره د ځمکې څخه د لید له مخې

(apparent brightness)تر ټولو روښانه اسماني اجرام ترتیب کړو، نو دا به داسې وي:

لمر – (Sun) تر ټولو زیات روښانه او د ذاتي رڼا سرچینه ده.

سپوږمۍ – (Moon) دوهم روښانه، چې د لمر رڼا انعکاس کوي.

زهره یا وینوس – (Venus) تر ټولو ځلېدونکې سیاره، د لمر وروسته او د سپوږمۍ نه وروسته تر ټولو ډېره ښکارنده ده.

مشتري یا جوپیټر – (Jupiter) کله ناکله له وینوس وروسته راځي، خو اکثر وخت وینوس ترې روښانه وي.

سیروس – (Sirius) تر ټولو ځلېدونکی نجم/ستوری ( په ذاتي ډول روښانه)، د شپې تر ټولو واضح ستوری.

مهم تفکیک:

( Sunلمر = ) ذاتي رڼا، ستوری(Star)

( Moonسپوږمۍ =) انعکاسي رڼا، طبیعي قمر

( Venusزهره = )انعکاسي رڼا، سیاره(Planet)

( Sirius سیروس = ) ذاتي رڼا، تر ټولو روښانه ستوری

نو که حدیث شریف د رڼا انعکاس ته اشاره کوي، نو د لمر ذکر نه کول ( چې ذاتي سرچینه ده ) دقیقاً د همدې لپاره دی چې جنتیانو نور انعکاسي دی، نه ذاتي، لکه سپوږمۍ او زهره.

نو د کوکب د مفرد شکل کارول دا ښیي چې رسول الله ﷺ یو ځانګړی، روښانه او واحد جرم یادوي، چې له سپوږمۍ وروسته دویم ځلېدونکی جرم دی .دا ترتیب دقیقا هغه دی چې عصري فزیک یې هم تأییدوي:

۳ – د اسماني اجرامو د ځلېدو فزيکي ترتيب:

۴ – نو ولې په حديث کې" نجم "نه دی ياد شوی؟

دا هم معجزاتي اشاره ده!

نجم( ستوری )ذاتي رڼا لري — له ځان نه انرژي خارجوي.

خو کوکب( لکه زهره )د رڼا انعکاس کوونکی جرم دی.

د جنتيانو رڼا، د الله نور څخه انعکاس ده، نه باطني توليد .ځکه هم حديث شريف د انعکاسي اجرامو تشبيه کوي، نه د انرژي توليدوونکو اجرامو.

(نُورٌ عَلَى نُورٍ)[ – النور :۳۵]

د جنتيانو دا رڼا د اخلاص، صفا او الهی تجلي له وجې ده – نه فزيکي احتراق.

۵ – معجزاتي ترتيب:

1:قمر( سپوږمۍ :)د لومړۍ ډلې تشبيه

2:کوکب درّي( زهره :)د دويمې ډلې تشبيه

3:نجم( نه دی ذکر شوی :)ځکه هغه ذاتي رڼا لري، نه انعکاسي

پایله:

حدیث شریف یو معجزاتي نظم وړاندې کوي، چې له سپوږمۍ نه تر تر ټولو درخشانه سیارې پورې تشبیهات بیانوي .د" کوکب دُرِّيّ "تعبیر:

د سیارې زهره (Venus) ته اشاره کوي،

د انعکاسي نور حقیقت څرګندوي،

د جنتیانو د اخلاص، پاکوالي او یووالي ښکارندویي کوي،

او د قرآني نظم سره همغږي لري.

چې د رسول الله ﷺ له خوا د حیرانوونکي دقیقوالي سره بیان شوې ده.




**سپوږمۍ پخوا یو سوځېدونکی سیاره وه، بیا یې رڼا ختمه شوه.**

"سپوږمۍ اور اخیستي وه، بیا مړه شوه".

معجزه لرونکي آیتونه:

قرآن کریم فرمایي:

"أَلَمْ تَرَ إِلَىٰ رَبِّكَ كَيْفَ مَدَّ الظِّلَّ وَلَوْ شَاءَ لَجَعَلَهُ سَاكِنًا ثُمَّ جَعَلْنَا الشَّمْسَ عَلَيْهِ دَلِيلًا"

(الفرقان :۴۵)

ژباړه" :ایا ته نه وینې چې ستا رب څنګه سیورى پراخوي؟ که هغه غوښتل، هغه به یې ثابت کړی وای .بیا مو لمر د هغه لپاره اشاره وګرځاوه".

الله تعالی فرمایي:

**(وَجَعَلْنَا ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ ءَايَتَيْنِ ۖ فَمَحَوْنَآ ءَايَةَ ٱلَّيْلِ وَجَعَلْنَآ ءَايَةَ ٱلنَّهَارِ مُبْصِرَةً لِّتَبْتَغُوا۟ فَضْلًا مِّن رَّبِّكُمْ وَلِتَعْلَمُوا۟ عَدَدَ ٱلسِّنِينَ وَٱلْحِسَابَ ۚ وَكُلَّ شَىْءٍ فَصَّلْنَٰهُ تَفْصِيلًا)

(الاسراء :۱۲)

ژباړه:

او مونږ شپه او ورځ دوه نښې وګرځولې، بیا مو د شپې نښه محوا کړه، او د ورځې نښه مو روښانه کړه، تر څو تاسو د خپل رب فضل ولټوئ او د کلونو شمېر او حساب وپېژنئ، او مونږ هر څه په تفصیل سره بیان کړي دي.

د مفسرینو فهم:

د الله تعالی صحابه کرامو شاوخوا ۱۴ پېړۍ وړاندې دا استنباط کړی و چې سپوږمۍ پخپله روښانه وه، بیا الله تعالی یې رڼا واخیسته او ختمه یې کړه.

امام ابن کثیر د خپل تفسیر کې د عبدالله ابن عباس( رضی الله عنهما )له قوله روایت کوي چې د پورته آیت په تفسیر کې یې ویلي:

سپوږمۍ د لمر غوندې ځلېدله، کومه چې د شپې نښه ده، نو الله تعالی دا( محو کړه)، نو پر سپوږمۍ باندې توروالی د همدې محو کولو اثر دی.

ماخذ :روح المعاني، علامه آلوسي( :۲۴/۱۰۴)

ابن عساکر روایت کړی ابو جعفر طبري له ځو قوي اسنادو سره روایت کړی دی:

ابن الکوّاء له حضرت علي بن ابی طالب( رضي الله عنه )وپوښتل:

"اې امیرالمؤمنین !دا د سپوږمۍ پر مخ دا ټپونه( تور داغونه )څه شی دي؟"

حضرت علي وویل" :هلاکت دې وي !آیا ته قرآن نه لولې؟

(فمحونا آیة اللیل) دا هغه محو دی چې دلته بیان شوی".

▪ماخذ :ابن عساکر، نقل له الدر المنثور :۴۰/۱۶۶ - ۱۶۷

ابن جریر او ابن منذر د ابن عباس( رض )نه روایت کوي چې د آیت په تفسیر کې ویلي:

"او مونږ شپه او ورځ دوه نښې وګرځولې"

یعنې سپوږمۍ د لمر په څېر ځلېدله.

"بیا مو د شپې نښه له منځه یووړه، او د ورځې نښه مو روښانه کړه".

یعنې لمر د ورځې نښه ده، او سپوږمۍ د شپې نښه ده.

او د الله دا قول" :فَمَحَوْنَآ ءَايَةَ ٱلَّيْلِ "یعنې په سپوږمۍ کې توروالی همدا محو کول دي.

دویم :علمي حقیقت

ناسا د قرآن یو علمي حقیقت ته رسیږي

قرآن دقیقا هغه څه بیان کړي چې ناسا ورته رسېدلې ده، او هغه دا چې : سپوږمۍ پخوا یو سوځېدونکی سیاره وه، بیا یې رڼا ختمه شوه.

د سپوږمۍ ارتقا دا تشریح کوي چې ولې سپوږمۍ همېشه د نن په څېر نه وه.

سپوږمۍ غالبا د یو لوی اوریز توپ (magmatic ball) په څېر وه، چې د ځمکې سره د یوې مریخ-اندازې سیارې له ټکر وروسته جوړه شوه، شاوخوا څلور نیم میلیارده کاله مخکې .کله چې دغه اور (magma) یخ شو، د سپوږمۍ سطحه یا قشر جوړ شو.

د ناسا راپور:

ناسا وایي :وروستي تحقیقات چې د انسان د سپوږمۍ ته د تګ وروسته ترسره شول، دا وښوده چې سپوږمۍ یو وخت مشتعله( اورینه )وه، بیا مړه شوه، او پر هغې چې کوم توروالی دی، دا د همدې اور بندېدو نښه ده.

https://science.nasa.gov/moon/formation/

https://www.nasa.gov/mission_pages/LRO/news/vid-tour.html

د سپوږمۍ اوسنی وضعیت:

سپوږمۍ اوس یوازې لږ زلزله لري، او دننه یې ډېر لږ حرارتي حرکت شته، چې دا ښیي دننه فعالیت یې له ډېر پخوا راهیسې بند شوی دی.

▪ماخذ:

http://www.britannica.com/EBchecked/topic/391266/Moon

ساینسپوهان اوس دا باور لري

شاوخوا له څلور میلیاردو کلونو نه وړاندې، سپوږمۍ سخت تودوخه تجربه کړه، دا تودوخه غالبا د سپوږمۍ د جوړېدو پر مهال وه، چې پایله یې دا شوه چې سپوږمۍ کیمیاوي جلاوالې تجربه کړه :یوه لږ وزنه سطحه (crust) او یوه درنه دننۍ برخه (mantle) یې جوړه شوه

دا د سلګونو میلیونو کلونو وروسته یوه بله مرحله وه د تودوخې، دا ځل د داخلي راډیو اکتیفیت له امله، چې د لاوې د اورېدلو لامل شوه .د سپوږمۍ منځنۍ کثافت 3,34 ګرامه په هر مکعب سانتي متر کې دی، چې د ځمکې د مینځنۍ برخې (mantle) سره ورته دی.

د سپوږمۍ د کوچني حجم او وزن له امله، د هغې د سطحې جاذبه یوازې د ځمکې شپږمه برخه ده؛ دا دومره لږه فضا ساتي چې د موجودو ګازونو ذرې د سطحې پر سر پرته له کومې بندېدل تګ کوي.

سرچینه( :هماغه )
http://www.britannica.com/EBchecked/topic/391266/Moon

نور د ناسا یا علمي ویډیوګانې وګورئ:

https://youtu.be/X-dy4KEuso8

https://youtu.be/6SrsZVdU740

تفصیل:

ناسا کشف کړه چې سپوږمۍ یو ځل یو سوځېدونکی سیاره وه، خو هغه بنده شوه او رڼا یې مړه شوه.

قرآني آیت یو علمي حقیقت ته اشاره کوي چې تر شلمې پېړۍ پورې نه و څرګند شوی، او هغه دا چې:

سپوږمۍ پخوا یو سوځېدونکی سیاره وه، بیا مړه شوه او رڼا یې ختمه شوه.

دا قول د یوه لوی صحابي له لوري و، چې دا یې د قرآن له الفاظو څخه زر کاله وړاندې استنباط کړی و.

ستوری پيژندونکي څه وايي؟

نجوم بالاخره څرګنده کړه چې سپوږمۍ پخوا سوځېدله، بيا يې رڼا کمېده او مړه شوه.

پرمختللي رصدخونې او لومړني سپوږمکي وسايلو د سپوږمۍ تفصيلي انځورونه راوړل، چې پکې د آتشفشاني سوراخونو، لوړيو او ټيټو کاسې نښې ښودل شوې وې( ماريا پديده.)

دا د ساينسپوهانو لپاره ممکنه نه وه چې د سپوږمۍ طبيعت په بشپړ ډول درک کړي، مګر د دقيقو نجومي مشاهداتو او د سطحې له جيولوجيکي مطالعې وروسته، او د هغې خاوري د تجزيې له لارې، ستورپوهان دې پايلې ته ورسېدل:

د امريکا د فضايي ادارې( ناسا )له قوله:

سپوږمۍ شاوخوا 4,6 ميلیارده کاله وړاندې جوړه شوه، او د جوړېدو پر مهال له سترو او زوروړو اسماني کاڼو سره ټکرونه وشول، او شديدو تودوخې د هغې د طبقو د سوځېدو لامل شوه، چې په پايله کې يې ماريا نومې ژورې کاسې جوړې شوې، او آتشفشاني فوارهګانې پرې راغلې.

وروسته سپوږمۍ يخه شوه، آتشفشانونه بند شول، او لاوه بنده شوه، او په دې توګه د سپوږمۍ فطري روښانه رڼا مړه شوه او ختمه شوه، که څه هم پخوا سوځېدله.

کله چې موږ قرآني آيت ته ور وګرځو، نو ګورو چې د" محونا( "محونا القمر )کلمه کارول شوې، چې د لغوي معنا له مخې" محو کول او ورکول " ده .دا معنا لري چې الله تعالی د سپوږمۍ رڼا ليرې او ورکه کړه، خو موخه له منځه وړل نه دي.

سپوږمۍ لا هم شته، خو رڼا او سيوري يې ختم شوي، او دا خبره د قرآني عبارت څخه ښکاري .د شپې نښه سپوږمۍ ده، او د ورځې نښه لمر" .محونا

آيت الليل "يعني د شپې نښې رڼا مو ختمه کړه .خو د ورځې نښه" مبصرة " يعني روښانه پاتې ده.

سپوږمۍ اوس لږه زلزلهيي فعاليت لري او لږه تودوخه لري، چې ښيي داخلي فعاليتونه يې ډېر پخوا بند شوي دي .دا هم معلومه شوې چې څو ميلیارده کاله وړاندې سپوږمۍ سخت سوځېدلې وه، او دا د سطحې د وېش او لاوې د تويېدو سبب شوې وه .وروسته چې د لاوې تويېدل کم شول، د اور سرچينې بندې شوې.

او د تېرو ميلياردونو کلونو راهيسې سپوږمۍ تقريباً آرامه پاتې ده، جيولوجيکي فعاله نه ده، مګر کله کله پرې اسماني کاڼي لويږي.

د سپوږمۍ جوړېدو ته، دا نتيجه د ځمکې او د Yin سيارې تر منځ له ټکره راوتلې ده شاوخوا 4,6 ميليارد کاله وړاندې، او دا لوی ټکر د بخار شويو موادو يوه حلقه خپره کړه چې د ځمکې شاوخوا تاوېده .دا بخار وروسته يخ شو او د اوبو څاڅکو ته واوښت، چې بيا سره يوځای شول او سپوږمۍ يې جوړه کړه.

شاوخوا ۴ ميليارد کاله وړاندې دا چاودنې پيښې شوې، او سترې کاسې يې جوړې کړې، دا ځايونه اوس هغه کاسې دي چې ماريا نومېږي، لکه ايمبريم حوض او سر اينيټانس .د ۴ او 5,2 ميليارد کلونو تر منځ دوره کې آتشفشاني فعاليتونو دا حوضونه له لاوې ډک کړل، دا توره لاوه" بازالت "نومېږي.

د آتشفشانونو له پای ته رسېدو وروسته، سپوږمۍ سړه شوه او نسبتا غير فعاله پاتې شوه، پرته له ځينو د ستورو او اسماني کاڼو د ټکرونو څخه.

د LiveScience دا هم خپره کړې:

د سپوږمۍ مرموزه ورکېدنه ۹۰۰ کاله مخکې بالاخره يو وضاحت وموند

لیکوال :براندون سپیکټر

د خپرېدو نېټه :د ۲۰۲۰ مي ۱۵

یو لړ" هېر شوي "آتشفشاني چاودنې کولای شي د سپوږمۍ د ورکېدو هغه روایتونه تشریح کړي چې د میلادي ۱۱۱۰ کال پورې اړه لري.

هیڅ اړتیا نشته چې دا خبره ښکلي کړو :د منځنیو پېړیو د انګلستان د یوه لیکوال په وینا، ۱۱۱۰ میلادي کال یو" بې ساری ناورین "و .سخت بارانونه یې فصلونه خراب کړل، قحطي خپره شوه — او د دې ټولو سربېره، د مې میاشتې پر یوه تیاره شپه، سپوږمۍ ناڅاپه له اسمانه ورکه شوه!

نامعلوم لیکوال د پیټربورو کرونیکل (Peterborough Chronicle) په نوم انګلو-ساکسوني لاس‌لیکلي تاریخ کې داسې ولیکل:

"د مې په پنځمه شپه، سپوږمۍ د ماښام له خوا روښانه وځلېده، خو ورو ورو یې رڼا کمه شوه .کله چې شپه راغله، نو دا دومره پوره مړه شوه چې نه یې رڼا، نه یې شکل، نه هم څه بله نښه پاتې شوه .همداسې نادید شوه تر څو چې ورځ شوه، بیا روښانه راڅرګنده شوه".

د یخو قطبي لایې (ice cores) له دقیقو څېړنو دا څرګنده شوې چې له ۱۱۰۸ څخه تر ۱۱۱۰ میلادي کلونو پورې، په اروپا یا آسیا کې ممکن څو پر له‌پسې آتشفشاني چاودنې شوي وي، کومو چې دا اثرات راپارولي دي.

که څه هم دا تشریح پر" غیر مستقیمو "شواهدو ولاړه ده، څېړونکي وایي دا تر ټولو ښه حل دی چې تر اوسه د سپوږمۍ د ناڅاپي ورکېدو د پېښې لپاره موندل شوی.

سرچینه:

https://www.livescience.com/disappearing-moon-caused-by-forgotten-volcano.html

قرآني معجزه:

د قرآن کريم يوه اعجازي نښه دا ده چې سپوږمۍ ته يې د" شپې نښه "ويلي، کوم چې الله ج محوه کړې ده .دا خبره يوازې وروستی ساينس تأييد کړه چې سپوږمۍ پخوا رڼا لرله، خو دا رڼا ختمه شوه.

الله تعالی فرمايي:

(وَجَعَلْنَا ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ ءَايَتَيْنِ فَمَحَوْنَآ ءَايَةَ ٱلَّيْلِ)

(سورة الإسراء :١٢)

ژباړه:

"او موږ شپه او ورځ دوه نښې کړې، نو د شپې نښه مو محوه کړه".

د شپې نښه يعنې سپوږمۍ، چې د شلمې پېړۍ د سپوږميزو مطالعو او جيولوجيکي تحليلونو له لارې دا ثابته شوه چې پخوا فعاله( روښانه )وه، او وروسته رڼا يې مړه شوه.



## د نجوم او کوکب ترمنځ تفکیک

په اووه مه پېړۍ کې داسې علمي معلومات بیانول چې بشر یې تر لسو پېړیو وروسته درک کوي، دا یو ستر اعجاز دی .د رسول الله ص له خولې د "نجوم( "ستورو )او" کوکب( "سیارو )ترمنځ توپیر یوه داسې علمي جمله ده چې د عصري ستورپوهنې له معیارونو سره پوره مطابقت لري.

.1د حدیث شریف الفاظ:

دا حدیث د امام مسلم په صحیح کې روایت شوی:

عن أبي ذر قال قلتُ يا رسولَ اللهِ، ما آنيةُ الحوضِ؟ قال" :والذي نفسُ محمدٍ بيدِهِ، لآنيتُه أكثرُ من عددِ نجومِ السماءِ وكواكبِها، ألا في الليلةِ المظلمةِ المصحيةِ( "...صحيح مسلم، حديث)2300 :

ژباړه :ابوذر رضي الله عنه روایت کوي، وايي :ما وویل :یا رسول الله !د حوض کوثر لوښي څومره دي؟ هغه وفرمایل" :قسم دی پر هغه ذات چې د

محمد ص روح يې په لاس کې دی !د حوض کوثر لوښي د آسمان د ستورو او سيارو له شمېر نه زيات دي، د تياره او روڼې شپې په آسمان کې"...

.2د عربي لغت علمي معجزه:

په عربي ژبه کې:

نجم( نجوم :)هغه آسماني جسم دی چې له ځان نه رڼا خپروي( يعني ستوری.)

کوکب( کواکب :)هغه جسم دی چې خپله رڼا نه لري، بلکې د نورو له رڼا نه ځلیږي( يعني سياره.)

په دې حديث کې د دواړو نوم اخيستل علمي تفکيک دی، ځکه:

ستوري – خپل رڼا خپروي( لکه لمر)

سيارې – د ستورو رڼا منعکسوي( لکه زهره، مريخ، مشتري)

دا توپير رسول الله ص د وحې له لارې بيان کړی، نه د مشاهدې يا علمي وسايلو له لارې، ځکه هغه وخت نه ټېلسکوپ و، نه ستورپوهني مرکزونه.

.3د علم له نظره اعجاز:

ګاليليو ګالیلي – (Galileo Galilei) ۱۶۱۰م:

د دوربین( تلسکوپ )په مرسته یې وینس سیارې مرحلې وکتلې.

مشتري سپوږمۍ یې کشف کړې.

ثابته یې کړه چې سیارې ځمکې ته ورته اجرام دي، خو ستوري لمر ته ورته خپل رڼا لرونکي اجسام دي.

نن ورځ ساینس وايي چې زموږ د شیدو لاره (Milky Way) کې سل ملیارده ستوري دي.

د شمسي نظام سیارې ۸ دي، خو له هغې ور اخوا زرګونه نور سیارې (Exoplanets)هم پېژندل شوي دي.

ب :د پخوانیو تمدنونو ناپوهي:

پخواني یونانیان، رومیان او هندي ستورپوهان ټول چمکېدونکي شیان "ستوري "بلل.

اصل خبره دغه ده چې که چیرته رسول الله ص یوازې د کوکب ذکر کړی وی، نو به یوازې د سیارو لپاره کرول شوی وی،او که یوازې یی د نجم ذکر کړی وی، نو به یوازې د ستورو لپاره کرول شوی وی په داسې حال کی چی

په اسمان کی سیاری او ستوري دواړه دي چې په هيڅ ډول د ټيليسکوپ څخه پرته يی پرک شونی نه و، خو دا لفظ وحي وه نو ځکه يي هم کوکب او هم نجم ذکر کړو

سیارې او ستوري يې سره نه تفکيکول.

نو دا علمي تفکيک په ۷مې پيړۍ کې بيانول، یوه نه تکرارېدونکی معجزه ده.

.4قرآني تأييد:

د قرآن کريم په څو ځايونو کې هم" نجم "او" کواکب "جدا ذکر شوي دي:

وَلَقَدْ زَيَّنَّا السَّمَاءَ الدُّنْيَا بِزِينَةٍ الْكَوَاكِبِ( الصافات)6 :

ژباړه" :او يقيناً موږ نږدې آسمان د کواکبو( سيارو )په زينت سره ښکلی کړی دی".

قرآن هم د ستورو او سيارو ترمنځ علمي توپیر بيان کړی دی ددغه ايات اړوند د سيارو ښکله د اسلام اعجاز لومړي کتاب کی بيان شوي.

.5عددي اعجاز:

پيغمبر ص د لوښو شمېر د" نجوم "او" کواکب "له شمېر نه زيات وباله، چې د مليارده و څخه زيات دي، او دا هغه وخت کې وويل شو چې خلک شايد د ۱۰۰ يا ۱۰۰۰ ستورو تصور هم نشو کولی.

پایله:

دا حدیث شریف نه یوازې د قیامت پر ورځ د حوض کوثر د کرامت یو عجیب تصویر وړاندې کوي، بلکې د علمي معجزې یو ښکلی مثال هم دی . رسول الله د نجوم او کواکب یادونه وکړه، او دا تفکیک داسې مهال بیان شو چې بشر یې تصور هم نشو کولی.

دا د وحی اعجاز دی




## د لمر سجده

د فلکي حرکتونو، قرآني اعجاز، او حدیثي اسرارو یو ژور تحلیل

د مقدمه خبرې

ملحدین اعتراض کوي، وایي لمر، سپوږمۍ او سیارې فزیکي اجرام دي، سجده نه کوي !خو که د" سجده "معنا یوازې فزیکي ټیټیدو ته محدوده نه کړو، نو دا ممکنه ده چې سجده د فطرت تابعیت، امرپذیري، انحناء، اطاعت، ذلت او خشوع هر ډول حالت ته وویل شي.

قرآن کریم فرمايي:

(أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يَسۡجُدُۚ لَهُۥ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ وَٱلشَّمۡسُ وَٱلۡقَمَرُ وَٱلنُّجُومُ...

ايا ته نه وينې، هغه ټول مخلوقات د الله په وړاندې سر په سجده دي چې په اسمانونو او ځمکه کښې دي :لمر، سپوږمۍ، ستوري...

سورت الحج ۱۸

او رسول الله ص فرمايي:

«إن الشمس تذهب حتى تسجد تحت العرش...»

بېشکه لمر ځي تر دې چې د عرش لاندې سجده وکړي.

(صحيح البخاري3199 :، صحيح مسلم)159 :

ساينس هم نن دا خبره تاييدوي :لمر د کايناتو په نظام کې داسې حرکتونه لري چې له فزيکي اړخه هم د سجدهنما حالت سره داقيق سمون لري.

د لمر د سجدهنما خوځښتونه

- Axial Tilt د سجده خُضوع

لمر، ځمکه، او سپوږمۍ د خپل محور (axis) په وړاندې انحنا لري.

دا انحنا په علمي اصطلاح Axial Tilt نومیږي.

لمر تقریباً 7,25 درجې انحنا لري.

دا انحنا داسې ده لکه چې سر یې د یوه مرکز پر وړاندې ټیټ شوی وي — سجدې په ورته شکل.

– Galactic Oscillation ځپه‌نما حرکت

لمر یوازې د منظومې شمسي مرکز نه دی، بلکې دا خپله د شیدې لارې کهکشان (Milky Way) په مدار کې پورته – ښکته ځپه‌نما حرکت لري.

لکه څرنګه چې مسلمان د الله ج پر وړاندې سجده کې سر ښکته کوي، او پورته کوي لکه جلسې ته چې سر پورته کړي او سجدې ته یې ښکته کړي، همداسې لمر د کهکشان د مرکز په وړاندې د جاذبې تابع خوځیږي.

دا خوځښت د سجده معنوي خوځښت ته ورته دی.

– Space-time Curvature د انحناء په ټوکر کې

انشتین په خپل نسبیت کې وویل :فزیکي اجرام د وخت او مکان-(space-time)ټوکر ته انحنا ورکوي.

لمر د خپل عظیم وزن له امله د فضا-وخت په ټوکر کې انحنا پیدا کوي، لکه یو ځوک چې د واکمن پر وړاندې خم شي.

دا یو داسې مفهوم دی چې د" سجده "د علمي، مقناطیسي او جاذبي تمثیل څرګندوی دی.

طواف‌نما حرکت – سبحه کیهاني

(وَكُلٌّ فِي فَلَكٍ يَسْبَحُونَ)[ الأنبياء :٣٣]

(او ټول د خپل مدار په لور لامبو وهي)

لمر د کهکشان شاوخوا داسې حرکت لري، لکه څنګه چې حاجیان د کعبې شاوخوا طواف کوي.

دا طواف یو" سجده-نما "خضوعي سیستم دی، د الله جل جلاله د امر تابع.

د لمر سجده تر عرش لاندې

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

"اووه اسمانونه د الله د کرسي( پیړۍ )په نسبت داسې دي لکه یو انګوټۍ چې په یوه وچه، بېاوبو دښته کې وغورځول شي .او د عرش عظمت د کرسي په پرتله داسې دی لکه د دښتې برتري پر هماغه انګوټي".

عرش تر ټولو لوی مخلوق دی → او که موږ عرش د مخلوقاتو د ماوراء وخت-مکان مرکز وبولو، نو لمر هر ډول خشوع د همدغه عرش تابعیت دی.

د سجده کلمې هم فزیکي، هم فطري، هم معنوي بعد لري.

پایله

سجده یوازې یو فزیکي حرکت نه دی، دا د الله ج د امر اطاعت، خضوع، نظم او تسلیمۍ نښه ده .لمر د خپل وجود په هره برخه کې سجده کوي — که دا د:

اکسیال انحناء(axial tilt) ،

څپه‌نما ګلاکتیک خوځښت،

د فضا-وخت انحناء،

یا د مدار سبحه له لارې وي—

نو دا ټول د همدې حقيقت اعلان کوي چې:

"کائنات ټول اطاعت کوونکي دي".

د قرآن، ساينس، او حديث ترمنځ دا يو ښکلی، ژور او د الله ج د قدرت بېمثاله اعجاز دی.



## لمر يو ستورئ او د لمر محوري دوران

(إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ وَإِذَا النُّجُومُ انكَدَرَتْ)[ – التکوير :١–٢]

ژباړه:

"هر کله چې لمر ونغښتل شي( یا بی نوره شی)، او هر کله چې ستوري بې نوره شي".

(وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ۖ كُلٌّ فِي فَلَكٍ يَسْبَحُونَ) – [الأنبياء :٣٣]

ژباړه:

"او هغه( الله )هماغه ذات دی چې شپه او ورځ، لمر او سپوږمۍ یې پیدا کړي؛ دا ټول( اجرام )هر یو په خپل مدار کې لامبي".

لمر – د یو ستوري حقیقت او قرآني تشخیص

قرآن کریم لمر ته په ښکاره ډول د یو ستوري ځانګړنې نسبت ورکړې دي .دا چې آیت شریف د لمر او ستورو ذکر جوخت کوي، دا پخپله دا معنا لري چې لمر هم د ستورو له نوعې دی، نه یو بل بېروښنايي جسم لکه سیاره( کوکب .) دا د قرآن هغه لطیف اعجاز دی چې لمر یې په هغه کټګورۍ کې شامل کړی کومه چې دا واقعاً دی :یو فعال، بډایه، او خودسوخته ستوری.

علمي حقیقت:

لمر یو main-sequence star دی چې د هستوي فیوژن له لارې د هایدروجن څخه هیلیم جوړوي .دا پروسه د میلیاردونو کلونو لپاره انرژي تولیدوي، تر هغو چې د هایدروجن ذخیره یې ختمه شي.

فلک – د دوران مدار ته اشاره

ابن عباس( رض )وایی فلک څرخیدونکي ارغړی ته وايي

د يسبحون چې له سباحه نه اخيستل شوې ده لغوي مانا يې حرکت څلورو خواووته ګام( قدم ) واهل او وضعي حرکت دئ

دا بيان ښکاره کوي چې لمر، سپوږمۍ او نور اجرام نه يوازې محوري دوران کوي، بلکې متحرک هم دي، پر خپل مدار روان دي .يعنې لمر يو داسې حرکت لري چې له دوو اړخونو ښکاره دی:

د کهکشان په مدار کې حرکت( په سرعت سره.)

خپل محوري دوران – چې همدا د علمي اعجاز اصل ټکی دی.

د التکوير سورت اعجاز – د قيامت يا د ستوريز مرګ اشاره

کله چې الله تعالی وايي:

"إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ وَإِذَا النُّجُومُ انکَدَرَتْ"

دا د دوو ستوريزو مرحلو ته اشاره ده:

د لمر او د ستورو سونګ توکي ختمېږي – د هستوي فيوژن له پاره نور هايدروجن نه پاتېږي، نو رڼا نه توليدوي.

او لمر ریډ جاینټ مرحلې ته داخلیږي – دا مرحله هغه ده چې لمر خپل خارجي طبقات توسع کوي، غټ شي، روښنایي یې کمزورې شي.

په دې مرحله کې، د لمر محوري دوران به مهم رول ولوبوي، ځکه چې:

دا دوران کولی شي خپلې داخلي سیارې په ځان کې راونغاړی.

ځینې سیارې( لکه عطارد، زهره، او آن ځمکه )ښایي د لمر په بطن کې جذب شي.

دا به د یو" تاوېدونکي ستوري "تصویر رامنځته کړي، یعنې هماغه" کُوِّرَت."

له همدې ځایه یو بل تفسیر راولاړېږي:

"کوّرت "دا هم ښیي چې لمر به داسې مرحله ته داخلیږي چې رڼا به نه تولیدوي، خپله جاذبه او محوري حرکت به ترکیب شي، او شاوخوا سیارې به په ځان کې رانغاړي .دا که د قیامت پیل وي، یا د لمر" مرګ – "دا هر حالت د قرآن د ژبې اعجاز څرګندوي.

ټولې معناوې سمې دي – قرآن موږ ته دا امکان راکوي چې تدبر وکړو

د قرآن اعجاز دا نه دی چې یوازې یو مفهوم ولري، بلکې دا دی چې هره مانا يې پر علمي اساس ولاړه وي:

"کوّرت = "د لمر روښنايي ختمېدل.

"کوّرت = "د لمر محوري دوران.

"کوّرت = "د لمر د (Red gaint) او ورسره د محوري له امله د لمریز نظام سيارو نغښتل په ځان کې.

"کوّرت = "د لمر د مرګ فزيکي تحول.

دا ټولې معناوې نه یوازې ممکن دي، بلکې د یو ستوري د ژوند له علمي تسلسل سره هم سمون خوري.

نتيجه :

په داسې حال کې چې انسانيت د لمر محوري دوران يوازې په ۱۹م او ۲۰م پېړۍ کې وپېژانده، قرآن دا اشاره له ۱۴ پېړيو مخکې کړې ده – نه یوازې د دوران یادونه کوي، بلکې دا هم بيانوي چې لمر به یو وخت خپله انرژي له لاسه ورکړي، او دا به د يوې ستوريزې فاجعې سبب شي.



## د اسماني اجرامو د عبادت رد

د ستورو سره د انسان د مرګ، رزق او ژوند تړاو – يو معجزاتي رد

معجزاتي حديث شريف:

عن قَتَادَة، عن الرَّبِيعِ بْنِ زِيَادٍ قَالَ:

"أُقْسِمُ بِاللَّهِ، مَا وَضَعَ اللَّهُ فِي نَجْمٍ أَجَلَ أَحَدٍ، وَلَا رِزْقًا، وَلَا مَوْتًا، وَإِنَّهُمْ لَيَكْذِبُونَ عَلَى اللَّهِ، وَيَجْعَلُونَ مَا يَقُولُونَ عَلَى النُّجُومِ".

مشكاة المصابيح :۴۶۰۲-۴۶۰۳ / تعليق البخاري

ژباړه:

زه پر الله قسم کوم **!**الله تعالی د هېڅ انسان اجل، روزي او مرګ په کوم ستوري کې نه دی ایښی .دوی پر الله دروغ وايي، او هغه څه چې ستورو ته منسوبوي، دا ټول باطل، افتراء او شرک دی**!**

د اسماني اجرامو عبادت او قرآن کریم رد

قوله تعالی – سورة فصلت :۳۷:

وَمِنْ آيَاتِهِ اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ ۚ لَا تَسْجُدُوا لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ وَاسْجُدُوا لِلَّهِ الَّذِي خَلَقَهُنَّ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ

ژباړه:

او د هغه له نښو يې شپه او ورځ ده، او لمر او سپوږمۍ .لمر او سپوږمۍ ته سجده مه کوئ، بلکې الله ته سجده وکړئ، هغه چې دا ټول يې پيدا کړي دي، که تاسې هم یوازې همدغه ته عبادت کوئ

.

په انساني تاریخ کې، د لمر، سپوږمۍ او ستورو عبادت یو پراخ خرافاتي باور و .خو دا آیت د توحید بنسټ له آسمان نه راکوز کړ —— داسې بنسټ چې عقل، علم او فطرت يې ټول تاییدوي.

رسول الله ص د ستورپالنې رد څنګه وکړ؟

کله چې د رسول الله ص زوی ابراهیم وفات شو، لمر تندرېدلی و .خلکو دا د مرګ نښه وبلله .خو رسول الله ص دا عقیده داسې رد کړه:

"إِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ آيَتَانِ مِنْ آيَاتِ اللَّهِ، لَا يَنْخَسِفَانِ لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلَا لِحَيَاتِهِ"...
(بخاري ۱۰۴۴، مسلم ۹۰۱)

ژباړه:
"لمر او سپوږمۍ د الله له نښو څخه دي، نه د چا د مرګ او نه د چا د ژوند لپاره تندرېږي".
دا د نبوت هغه رڼا وه چې له خلکو يې د شرک او افسانې پردې پورته کړلې.

څوک چې دا ستوري د تقدير، روزي يا مرګ سبب ګڼي، هغه د الله پر ضد افتراء کوي .دا نه يوازې د دين له نظره خطا ده، بلکې ساينس هم دا خبره تاييدوي.

د باران او تقدير نسبت ستورو ته؟ نبوي رد

..."رسول الله ص فرمايي :چې الله فرمايی :څوک چې ووايي :موږ ته باران د الله په رحمت راغلی، هغه په الله ايمان لري، او څوک چې ووايي :دا باران د فلانکي ستوري له امله دی، هغه په ستوري ايمان لري او پر ما کافر دی".
(بخاري ۴۱۴۷)

دا حدیث شریف هم د تقدیر په باب د ستورپالنې عقیده له ریشه پرې کوي .دا یو عقیدوي انقلاب و — د باران سبب طبیعي او الهي دی، نه افلاکي.

دا ساینسي حقایق نن ثابت دي .خو ۱۴۰۰ کاله وړاندې، یو بې تعلیمه شخص دا خبره له کومه کړه؟ ځکه چې دا:

"وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ، إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ"
(النجم :۳–۴)

ساینس د ستورپوهنې (Astrology) څه ردوي؟

ستوري د انسان پر شخصیت، عمر، رزق یا مرګ هېڅ اغېز نه لري

ساینس دا څرګنده کړې چې ستوري یوازې د انرژۍ سرچینې (nuclear fusion stars)دي چې د هایډروجن او هیلیم په تعامل سره روښانه کیږي . دا اسماني اجرام له انسان سره نه کوم شعوري تړاو لري، نه یې د ژوند، مرګ یا رزق واک لري.

Astrology یا د ستورو تاثیرات علم نه، بلکې pseudoscience ده په علمي نړۍ کې،( Astrology نجوم )د باطلو عقایدو برخه ګڼل کیږي، ځکه:

دا نه تجربوي ده

نه يې پيشګويي ثابته شوې

نه يې نظريات علمي اساس لري

او نه يې ميتودولوژي علمي اصولو سره مطابقت لري

استرانومۍ دا ډول  عقيده رد کړې چې ستوري دې د انسان قسمت بدل کړي..

همدا د رسول الله ص نبوت اعجاز دی

رسول الله ص داسې حقايق بيان کړل:

چې علم يې سلګونه کاله وروسته کشف کړ

چې عقل، فطرت، او وحی یوځای تصديقوي

چې د شرک، جهل او خرافاتو بنيادونه ړنګ کړل

نو دا عقلي، فطري، او علمي ثبوت دی چې محمد ص د الله رښتينی پيغمبر دی.

د ستورپالنې رد – د جاهلیت افکارو پای

د توحید تفسیر – عبادت یوائې د خالق لپاره

علمي مطابقت – ساینس، عقل او دین یو مسیر لري
نبوت اعجاز



## د ستورو د ځایونو اعجاز

الله تعالی فرمایي:

(فَلَا أُقْسِمُ بِمَوَاقِعِ النُّجُومِ) – الواقعة :۷۵

"نو زه قسم خورم د ستورو په موقیعتونو باندې"!

(وَإِنَّهُ لَقَسَمٌ لَوْ تَعْلَمُونَ عَظِيمٌ)

"او دا خامخا یو لوی قسم دی، که تاسو پوه شئ"!

دا یو علمي حقیقت دی .دا یو خالص اعجاز دی، چې د انسان عقل یې ۱۴۰۰ کاله وروسته درک کړ.

نن ورځ ساینس موږ ته څه وايي؟

د "Sky At Night Magazine" د ۲۰۲۴م کال د مقالې له مخې:

"هر ځل چې موږ اسمان ته ګورو، موږ ستوري هغه شان وینو لکه څنګه چې هغوی پخوا وو، ځکه چې د هغوی رڼا زموږ سترګو ته په ډېرو کلونو، پېړیو یا زرګونو کلونو کې را رسیږي".

(سرچینه) Sky At Night Magazine, 2024 :

https://www.skyatnightmagazine.com/space-science/space-night-sky-look-back-in-time

یعنې موږ ستوري نه وینو، بلکې د هغوی پخواني عکسونه رڼا وینو !دا ستوري ښایي اوس هلته نه وي، یا یې ځایونه بدل کړی وي، یا یې ژوند ختم شوی وي – خو موږ یې پخوانۍ رڼا وینو، ځکه چې رڼا وخت نیسي.

مثال:

که یو ستوری له موږه ۵۰۰ نوري کلونه لرې وي، نو موږ یې هماغه حالت وینو چې ۵۰۰ کاله مخکې یې درلود.

نو دا څه معنا لري؟

معنا دا چې:

موږ نه د ستورو حقیقت وینو، نه د هغوی اوسنی ځای – بلکې موږ یواځې د هغوی د پخوانیو ځایونو شعاعې وینو.

قرآن څه وایي؟

قرآن د ستورو" ځایونو "قسم خوري – نه د ستورو خپل ځان.

(فَلَا أُقْسِمُ بِمَوَاقِعِ النُّجُومِ)

"زه قسم خورم د ستورو په موقیعتونو باندې"!

دا ولې مهم دی؟ ځکه که قرآن وایې" :قسم په ستورو"، دا به یوه عمومي خبره وای .خو قرآن وایي:

"قسم د ستورو په ځایونو"!

او همدا د ساینسي اعجاز ټکی دی!

قرآن اشاره کوي چې مهم شی د ستورو موقعیتونه دي – نه خپله ستوري، ځکه چې تاسو چې څه وینئ، هغه ستوري هلته نه دي!

دا معلومات رسول الله ص ته چا ورکړل؟

یو انسان چې:

لیک لوست یې نه شو کولی،

نه یې دوربین درلود،

نه یې د رڼا د سرعت علم درلود،

او نه هم د ستورپوهنې علمي وسایل،

هغه څنګه داسې ژور علمي حقیقت بیانولی شو؟

ځواب واضح دی:

دا علم هغه ته د الله لخوا ورکړل شوی و.

(إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَى)

(النجم :۴)

"دا خو یوازې وحې ده چې نازلیږي".

دا آیت یو بېساری مثال دی چې څنګه ساینس، قرآن ته سر ټیټوي .دا هماغه قرآن دی چې وايي:

(سَنُرِيهِمْ آيَاتِنَا فِي الْآفَاقِ وَفِي أَنْفُسِهِمْ...)

(فصلت :۵۳)

"ژر به موږ دوی ته خپلې نښې په آسمانونو او په خپلو نفسونو کې وښیو"...

نتیجه:

کله چې موږ اسمان ته ګورو، موږ وخت ته ګورو – ماضي ته.

الله ج ۱۴ پیړۍ مخکې دا حقیقت په دومره دقت سره بیان کړی.

دا یو ساینسي معجزه ده، چې هیڅ شک پکې نشته – بلکې د خالق کاینات له لوري حقیقت دی.

(إِنَّهُ لَقُرْآنٌ كَرِيمٌ)

(الواقعة :۷۷)

"بېشکه دا یو عزتمند قرآن دی"!




## د GPS بدیل

الله تعالی فرمایي:

"او نښې، او دوی خپلې لارې له ستوریو اخلي".

(سورت النحل :۱۶)

(وَعَلَامَاتٍ ۚ وَبِالنَّجْمِ هُمْ يَهْتَدُونَ)

د شککوونکو دعوه دا ده چې" :قرآن کې ویل شوي چې انسانان به د ستوریو له لارې هدایت ترلاسه کوي، خو دا اشتباه ده، ځکه ستوري خو تل حرکت کوي او یوه خاصه لاره نه ښیي".

خو نن ساینس دا حقیقت کشف کړی چې انسانان کولی شي د پلسارونو (Pulsars)له طبیعي سیګنالو نه د GPS په څېر دقیق موقعیت معلوم کړي.

پلسارونه څه دي؟

پلسارونه یو ډول مقناطیسي ستوري دي چې شدید چورلي، او منظم راډیویي یا ایکس-رې (X-ray) شعاعګانې خپروي.

نن انسانان د مصنوعي سپوږمکیو پر ځای له همدې طبیعي پلسارونو نه دقیق ناوبري ترلاسه کولی شي، حتی د خلا په ژورو کې هم.

X-ray Pulsar Navigation (XNAV):

ساینسپوهانو په ۲۰۱۸م کال کې دا تجربه وکړه چې د پلسارونو له اشعاعاتو سره، د موقعیت معلومول ممکن دي، حتی± ۵ کیلومتر دقت سره.

دا طریقه تر GPS ډېره محفوظ، ارزانه او پرلپسې فعاله ده، ځکه پلسارونه نه شنډېږي، نه بندېږي، او نه هم دوی ته توغندي وررسېږي.

https://en.wikipedia.org/wiki/Pulsar-based_navigation

د قرآن اعجاز

۱۴۰۰ کاله وړاندې قرآن وویل:

"او دوی د ستوریو له لارې هدایت ترلاسه کوي".

د دې آیت دقیق تعبیري علمي مثال نن ساینس راکوي، چې همدغه پلسارونه دي.

نو قرآن د ستوريو د هدايت يوه نه شنډېدونکې، علمي، او تلپاتې نښه ګڼلې،
کومه چې نن د انسان عصري ساينس تاييدوي.



## د جنت مقامونه او د سيارو په څېر لوړوالی

يو اعجازي تحليل

بسم الله الرحمن الرحيم

📖 قرآني اعجاز – سورة النجم(53:1-4)

وَالنَّجْمِ إِذَا هَوَىٰ(1)
مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَمَا غَوَىٰ(2)
وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ(3)
إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ(4)

ژباړه:

قسم دی پر ستوري، کله چې ډوب شي!

ستاسې ملګرى( محمد )ﷺ نه ګمراه شوى او نه بې‌لارې شوى دى.

نه دى خبرې کوى له خپل هوى( شخصي غوښتنې ) څخه.

دا خو نه بلکې يوه وحې ده چې ده ته ورلېږل شوې ده.

دا آيتونه اعلان کوي چې نبي کريم ﷺ هېڅ خبره له خپل ذهن نه کوي، بلکې دا ټول الهى الهام دى .دا موږ ته لاره هواروي چې د هغه ﷺ احاديث هم د الهي اعجاز برخه دي.

📜تورات(Deuteronomy 18:18)

"زه به هغوى ته له دوى د ورونو نه يو پېغمبر پورته کړم، ستا په شان، او خپل کلام به يې په خوله کې واچوم، او هغه به دوى ته هر څه ووايي چې زه ورته امر وکړم".

دا هم د رسول الله ﷺ نبوت ته يو زوړ او باستاني توراتي بشارت دى، او دا حقيقت لري چې هغه به يوازې د الله حکمونه بيانوي، نه د خپل عقل خبرې.

احادیث او د جنت د لوړ مقامونو اعجاز

حَدَّثَنَا عَبْدُ العَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ :حَدَّثَنِي مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنْ صَفْوَانَ بْنِ سُلَيْمٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ :«إِنَّ أَهْلَ الجَنَّةِ يَتَرَاءَوْنَ أَهْلَ الغُرَفِ مِنْ فَوْقِهِمْ، كَمَا يَتَرَاءَوْنَ الكَوْكَبَ الدُّرِّيَّ الغَابِرَ فِي الأُفُقِ، مِنَ المَشْرِقِ أَوِ المَغْرِبِ، لِتَفَاضُلِ مَا بَيْنَهُمْ» قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ تِلْكَ مَنَازِلُ الأَنْبِيَاءِ لاَ يَبْلُغُهَا غَيْرُهُمْ، قَالَ :«بَلَى وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، رِجَالٌ آمَنُوا بِاللَّهِ وَصَدَّقُوا المُرْسَلِينَ»

حدیث - سحیح بخاري3256

ابوسعید خدري رضي الله عنه وایي:

رسول الله ﷺ وفرمایل:

«د جنت خلک به د لوړ مقام لرونکو جنتیانو لور ته داسې ګوري، لکه څنګه چې له تاسو څخه یو کس ځلانده سیارې په ختیځ یا لویدیځ کې ویني، دا د هغوی د مرتبې له امله ده.»

خلکو وپوښتل :«ای د الله رسوله !دا لوړې مقامات( مقامات ) خو خاص انبیاءو ته دي، نور څوک به ورته نه رسیږي؟»

رسول الله ﷺ وفرمایل:

«نه !قسم پر هغه ذات چې زما نفس یې په لاس کې دی، دا به هغو خلکو ته هم وي چې پر الله او د هغه پر پیغمبرانو یې ایمان راوړی وي.»

دا حدیث د جنت روحاني فاصله تشریح کوي، چیرته چې یو شخص بل ته د ستوري په څېر لرې ښکاري – دا یوازې مجازي نه ده، بلکې ریښتینې کیهاني فاصله ده، چې نن ساینس یې تائیدوي.

سیارې د استوګنې مسقانات دي، لکه ځمکه، مریخ، زهره، زحل ...خو ستوري برعکس دي، یعنې د اوسیدو مسقانات نشو ورته ویلی.

په عربي ژبه کې ستوري ته نجم او سیارې ته کوکب ویل کیږي، نو په همدې دالیل د جنت بالاخانې سیارو ته مشابه شوي، او دا ممکنه ده چې جنتي مقامات یا درجات سیارو ته ورته جوړښت لري.

د لاندې حدیث ته په کتو سره:

حدیث – سحیح مسلم461

عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

«زه هغه وروستی کس پیژنم چې له اور څخه به راوباسل شي، او وروستی کس چې جنت ته به ننوځي.

هغه به خبړي، بیا الله ورته ووایي' :ورشه جنت ته'!

خو جنت به ورته ډک ښکاري .څو وارې به بیرته راشي...

تر هغه چې الله ورته ووایي:

'ستا لپاره د دې دنیا په اندازه، بلکې لس چنده جنت دی'!

او دا به د جنت تر ټولو ټیټه درجه وي.»

دلته واضح خبره ده چې د جنت تر ټولو کم رتبه شخص ته هم، د دنیا لس چنده غټه جنت ورکړل کیږي !ساینس وایي چې یوازې زمکه د شمسي نظام یو کوچنی سیاره ده، خو لمر 1.3 میلیون ځله له ځمکې لوی دی !او ستوري، سیارې، کهکشانونه تر دې میلیاردونه ځله لوی دي.

سایني اعجاز

زموږ شمسي نظام یوازې د یوه ستوري (Sun) شاوخوا دی.

شاوخوا ۵۰۰ میلیارد ستوري یوازې په Milky Way کهکشان کې شته.

شاوخوا ۲۰۰ میلیارد کهکشانونه نور شته، چې ځینې تر Milky Way هم لوی دي.

یو رڼا کال 9.46 = ټریلیون کیلومتره

رڼا کولی شي په یوه ثانیه کې 7 ځله زمکه تاو کړي.

دا ښیي چې" د ستوري په فاصله "یو مجازي تشبیه نه ده؛ دا ریښتینی، کیهاني فاصله ده، او احادیث دا فاصله قبل له ساینسه بیانوي.

قرآن کریم – سورت فصلت:(41:53)

سَنُرِيهِمْ آيَاتِنَا فِي الْآفَاقِ وَفِي أَنفُسِهِمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ الْحَقُّ ۗ

ژباړه:

ژر به موږ هغوی ته خپلې نښې په هستی( آفاقو )کې وښیو، او همداراز په خپله( د هغوی )نفسونو کې، ترڅو هغوی ته دا څرګنده شي چې دا( قرآن )حق دی.

دا یو اعجازي وعده ده، چې د ساینس پرمختګ به د قرآن حقانیت ثابت کړي .
دا مثالونه( جنتي فاصلې، د ستوري تشبیه، او د دنیا لس چنده جنت )ټول د همدې وعدې ثبوتونه دي.

پایله

حدیثونه د ستوري په څېر د جنت رتبه بیانوي – دا ساینس ثابته کړې ده.

د تورات، قرآن او حدیث نه دا معلومیږي چې رسول الله ﷺ د خپل فکر نه خبرې نه کوي، بلکې دا الهی وحی ده.

د جنت تر ټولو کم مقام هم د دنیا لس چنده لوی دی – دا د کایناتو عظمت بیانوي.

ساینس د حدیثونو تعبیر ته نن قانع شوی، چې پخوا خلک ورته حیران وو.



## د لمر او د اسمان حقيقي رنګونه

بسم الله الرحمن الرحيم

د فجر سپين تار او د لمر رنګ اعجاز

او د اسمان تور توريدل او د اسمان رنګ اعجاز

د آسمان تور رنګ – قيامت ورځ کې

<(إِذَا ٱلسَّمَآءُ ٱنشَقَّتْ)

"کله چې آسمان څيرې شي"

(الانشقاق)1 :

وَيَوْمَ تَشَقَّقُ السَّمَآءُ بِالْغَمَامِ وَنُزِّلَ الْمَلَٰٓئِكَةُ تَنْزِيْلًا

او هغه ورځ چې آسمان له وريځې سره څيرې شي او پرېښتې پرله پسې راکوزې شي.

الفرقان ٢٥

یو کس د رسول الله ص څخه وپوښتل:کله چې اسمانونه او ځمکه بدل شي نو انسانان به چیرته وي؟

رسول الله ص وفرمایل :په تیارو کې د پلي صراط ترڅنګ.

(يَوْمَ تَكُونُ السَّمَاءُ كَالْمُهْلِ)

"هغه ورځ چې آسمان به د مُهل په څېر شي".

(المعارج :۸)

" مُهْل "لغت معنا:

تور، سوځېدونکی، چپک ماده.

وېلې شوی فلز یا قطران.

د فلزاتو یا تېلو له سوځېدو نه پاتې شوی تور رنګ.

په لومړیو ایاتونو کې د اسمان ځیریکیدل په وریځو سره شاید د ځمکې اتومسفیر ته شاره شوي وي یا کوسمیک تارونو ته، له هغې وروسته د اسمان بدلون ته اشاره شوي چې په تور رنګ به واوړي، یعنی د ټولو ستورو د سون موادو د سواځیدو او پای ته رسیدو څخه وروسته به اسمان په مهل او قطران بدل شوي وي دا نن ورځ ساینس هم ورته پایلې ته رسیدلی.

علمي حقيقت:

نن ساینس وايي چې آسمان اصلاً تور دی، او شين رنګ يوازې د Rayleigh scatteringله امله ښکاري.

په فضا کې آسمان تور ښکاري، او لمر سپين وي.

د فجر سپين تار او تور تار

(...حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَكُمُ ٱلْخَيْطُ ٱلْأَبْيَضُ مِنَ ٱلْخَيْطِ ٱلْأَسْوَدِ مِنَ ٱلْفَجْرِ...)

(البقره :۱۸۷)

..."تر هغه وخته چې تاسو ته د فجر سپين تار د تور تار نه جلا څرګند شي".

لغوي تحليل:

علمي حقيقت:

کله چې لمر راختو ته نږدې شي، خو لا نه وي راختلی، نو د آسمان په ختيځه برخه کې يو سپين رڼاوی تار ښکاري.

دا هغه وخت دی چې لمر لا تر افق لاندې وي، خو د ځمکې اتمسفير رڼا ماتوي او خپروي.

د دې حالت علمي نوم "astronomical twilight" دی.

د لمر رنګ – سپین یا ژېړ؟

لمر اصلاً سپین دی.

کله چې موږ له ځمکې وګورو، د اتمسفیر له امله یې رڼا ژېړ یا نارنجي ښکاري.

خو که له فضا وګورئ، سپین دی.

Astrophysics for Physicists (Cambridge Univ. Press):

"The sun appears white in space, and yellow or red near the horizon due to atmospheric scattering."

دواړه آیتونه د نور (Light) د حرکت، خپرېدو، او تاثیراتو یوه اعجازي منظره تشریح کوي.

دواړه آیتونه له ۱۴ پېړۍ وړاندې د" رنګونو د حقیقت "نښې بیانوي، داسې چې نن علمي فزیک او اپټکس یې تصدیقوي.

پایله:

آسمان تور دی – دا قرآن کریم بیان کړی، ساینس تایید کړی.

د فجر سپین تار – دا د نور( رڼا )د راتګ لومړی لحظه ده، نه يوازې ظاهري کرښه.

د" مُهْل "تور رنګ او د" الخَيط الأبيض "سپين تار، دواړه د" نور او تيارو "د حرکت تر شا ژور علمي مفاهيم لري.



## د ځمکې او اسمانونو تسخير

الجاثيه – آيت ١٣

وَسَخَّرَ لَكُمْ مَّا فِى السَّمٰوٰتِ وَمَا فِى الْاَرْضِ جَمِيْعًا مِّنْهُ ؕ اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ۝

13-45او تاسو لپاره يې مسخره کړي دي هر هغه څه چې په اسمانونو کې دي او هر هغه څه چې په ځمکه کې دي، په داسې حال کې چې دا ټول د هغه له جانبه( مسخر )دي، بېشکه په دغو کې د هغه قوم لپاره يقينًا ډېرې نښې دي چې غور فکر کوي.

د انسان د ګټې لپاره د کايناتو تخليق، چې ځمکه، دهغې اجزا، او د فضاء محيطي نړۍ پکې شامله ده

د ځمکې اجزا او د هغو منشاء له فضاء نه:

علمي څېړنې څرګندوي چې ټول درانه کيمياوي عناصر، لکه اوسپنه او سرو زرو، د سترو ستوريو (giant stars) د چاودنو (supernova) پر مهال د هغو په زړونو کې پيدا کيږي.

دا ثابته شوې چې د ځمکې اصل او محتويات له هماغه مادي موادو سره تړلي دي چې د کايناتو په ژورو برخو کې جوړ شوي.

حتى اوبه، چې د ژوند اساس بلل کيږي، هم باور کيږي چې د ځمکې د جوړېدو په لومړيو پړاوونو کې د يخني لرونکو ستوريو (comets) او سيارچو (asteroids) له ټکرونو سره له فضا څخه راغلي دي.

د شمسي نظام د سيارو خدمتونه:

سیارې لکه مشتري (Jupiter) او زحل (Saturn) د ځمکې ساتنه کوي، او د ستورو او سیارچو له خطرناکو ټکرونو نه يې ژغوري؛ دوی لکه یوه "جذبي ساحه "عمل کوي چې د کایناتو اجسام جذبوي.

سپوږمۍ هم د ځمکې د محور ثبات کې مرسته کوي، چې د فصلونو مدیریت او د تودوخې وېش یقیني کوي.

د ځمکې او فضا ترمنځ متقابل تعامل:

د ځمکې اتموسفیر (atmosphere) دا له کائناتي وړانګو او خطرناکو اشعاعو نه ساتي.

لمر ځمکه ته د ژوند لپاره ضروري انرژي( رڼا او تودوخه )ورکوي.

د ځمکې مقناطیسي ساحه (magnetic field) دا له ضرر رسوونکو لمریزو بادونو (solar winds) څخه ژغوري.

د آیت د مفهوم توضیح:

د قرآن کریم دا مبارک آیت د ځمکې او اسمان ترمنځ ژوره رابطه څرګندوي، چې د ژوند د امکان لپاره یو منظم توازن رامنځته کوي.

دا ګټه یوازې مادي اړخ نه لري، بلکې تر هغې هاخوا، هغه علمي معرفت هم رانغاړي چې انسان د کائناتو د مطالعې له لارې تر لاسه کوي، او دا د بشریت په پرمختګ کې لوی رول لري.

نو له دې نظره، دا آیت موږ ته دا ښيي چې ځمکه او اسمان د انسان په چوپړ کې دي، او دا خبره ژوره تفکر او علمي تأمل غواړي، تر څو دا حیرانوونکې رابطه سمه درک شي.

د ځمکې او فضا ترمنځ متقابل تعامل – ځمکه له اسمانه فلزات څنګه ترلاسه کوي؟

ځمکه له اسمانه په بېلابېلو طریقو فلزات تر لاسه کوي، چې تر ټولو مهمې یې دا دي:

١ .میټیورایټونه او اسټرویډونه:(Meteorites and Asteroids)

میټیورایټونه هغه اسماني تیږې دي چې د ځمکې اتموسفیر ته داخلیږي او د سطحې سره ټکر کوي.

دا تیږې د فلزاتو، لکه اوسپنې او نکل، لوړ مقدار لري.

ځینې میټیورایټونه چې له نادره عناصرو( لکه سرو زرو او پلاتینیم )نه غني وي، د ځمکې پوټکي (crust) ته دا عناصر وړاندې کړي، په ځانګړي ډول د ځمکې د ابتدایي پړاوونو کې.

٢ .کاسمیک دوړې:(Cosmic Dust)

ځمکه هره ورځ له فضا څخه زرګونه ټنه دوړې ترلاسه کوي، چې د ستوریو او سیارچو د ماتېدو پایله ده.

دا دوړې د فلزاتو نازک ذرې لري، لکه سیلیکټ او اوسپنیز مواد.

۳ .دم دار ستوري:(Comets)

دا ستوري له یخ، دوړو او فلزاتو نه جوړ شوي وي او کله نا کله د ځمکې سره نږدې تېرېږي یا پرې لوېږي.

دا عمل د نویو کیمیاوي موادو او فلزاتو د اضافه کېدو سبب ګرځي.

۴ .سوپرنوا:(Supernova)

ګڼ شمېر درانه فلزات لکه سره زر، یورانیم او نور د سوپرنوا په چاودنو کې رامنځته کېږي.

دا عناصر بیا په فضا کې خپرېږي او له میتیورایټونو یا سیارچو سره ځمکې ته رسیږي.

علمي دلایل او قرآني اعجاز:

پوهان وايي چې اوسپنه د ځمکې اصلي عنصر نه دی، بلکې دا له فضا نه راغلې ده د درنو کائناتي ټکرونو په نتیجه کې.

د قرآن کریم آیت:

"وَأَنزَلْنَا الْحَدِيدَ فِيهِ بَأْسٌ شَدِيدٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ( "الحدید :۲۵)

یعنې" :او موږ اوسپنه نازله کړه، پکې سخت قوت او د خلکو لپاره ګټې دي"

دا آیت یو دقیق اشاره ده چې اوسپنه له فضا څخه نازله شوې، او" نازله کړه " د آسمان څخه د مادې د راتګ معنی لري.

د دې تعامل ارزښت:

له فضا نه راتلونکي فلزات د ځمکې د قشر په جوړېدو او د ژوند په پرمختګ کې مرسته کوي.

د دې پدیدې څېړنه پوهانو ته د ځمکې د جوړښت اصول څرګندوي، او د انسان د عظمت او د کائناتي نظام پر وراندې ایمان پیاوړی کوي.

دا تعامل د ځمکې او کائنات ترمنځ یو دقیق، متوازن نظام ثابتوي، چې ژوند ممکن کوي .همدارنګه دا د قرآن کریم پر عظمت او د نبوي سنتو پر علمي معناوو د تأمل بلنه ورکوي.




## د فلکیاتو سجده

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

[النجم ۵۳ :۱-۴]

وَالنَّجْمِ إِذَا هَوَىٰ ۝

قسم دی په ستوریو باندي هر کله چې پرېوځي!

مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَمَا غَوَىٰ ۝

ستاسو ملګری( محمد ص )نه ګمراه شوی دی، نه بېلارې شوی.

وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ ۝

او نه دی خبرې کوي د خپلې خوښې له مخې.

إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ ۝

دا خو یوائې یو وحي دی چې ده ته نازله کېږي.

تورات – تثنیه ۱۸:۱۸

"زه به د دوی د ورونو له منځه د هغوی لپاره یو پیغمبر راپاځوم، ستا په شان، او زه به خپلې خبرې د هغه په خوله کې واچوم؛ او هغه به د هغه هر څه خبرې وکړي کوم چې زه ورته امر وکړم".

دا نبوت د حضرت محمد ص د بعثت زیری دی، لکه څنګه چې د قرآن آیتونه هم وحي دي، نه د ده خپله خبره.

قرآن د ساینس کتاب نه دی، بلکې دا د" نښو "کتاب دی، لکه څنګه چې الله تعالی فرمايي:

[فصّلت ۴۱:۵۳]

"ژر به موږ دوی ته خپلې نښې وښیو په هستۍ کې او په خپله نفسونو کې، ترڅو چې دوی ته دا خبره څرګنده شي چې دا( قرآن )حق دی".

ساینس او ناسم فهم

د قرآن کریم دا آیت ډېر وخت خلکو ته عجیبه ښکارېده:

[الحج ۲۲:۱۸]

"ایا ته نه وینې چې الله ته سجده کوي هر څوک چې په آسمانونو کې دي او هر څوک چې په ځمکه کې دي، او لمر، او سپوږمۍ، او ستوري، او غرونه، او ونې، او حیوانات، او ډېر خلک"...

شک لرونکو ویل :څنګه لمر، سپوږمۍ او ځمکه سجده کوي؟

ساینس اوس ثابته کړې چې دا اسماني جسام ټول" مائل حرکت "لري.

ساینس دا څنګه ثابتوي؟

د ځمکې، لمر او سپوږمۍ محورونه مستقیم نه دي .دا ټول یوه ځانګړې "خمېدلې "وضعه لري چې Axial Tilt بلل کیږي.

ځمکه د خپل مدار سره ۱. ۲۲ تر ۵. ۲۴ °.پورې خم لري.

سپوږمۍ هم داسې خم لري.

لمر شاوخوا ۲۵ .۷° خم لري.

دا حالت، سجده کولو ته داقیقا ورته دی – د حرکت یو خضوعي حالت.

ساینس دا څه بولي؟

Axial Tiltدا معنا لري چې د یو جسم د حرکت لاره د هغه د محور سره مساوي نه وي .دا حالت د“ سجده ”مفهوم ته فزیکي ورته والی لري.

سرچینه(Axial tilt (2022 – Wikipedia :

قرآن کریم د انسان عقل ته نښې ورکوي، نه فرضي فورمولونه.

ساینس دا نښې ورو ورو ثابتوي.



**لمر د ښکرونو ترمنځ راختل ۔**

(د شیطان د ښکرونو وخت او د لمر د راختو اعجاز)

آیت شریف:

وَمِنْ آيَاتِهِ اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ ۚ لَا تَسْجُدُوا لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ وَاسْجُدُوا لِلَّهِ الَّذِي خَلَقَهُنَّ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ

ژباړه:

له نښو يې شپه او ورځ ده، او لمر او سپوږمۍ .لمر او سپوږمۍ ته سجده مه کوئ، بلکې الله ته سجده وکړئ، هغه چې دا ټول يې پيدا کړي دي، که تاسې هم یوازې همدغه ته عبادت کوئ.

(سورة فصلت :۳۷)

نبوي اعجازي وینا:

رسول الله ص فرمايي:

«کله چې د لمر څنډه راپورته شي، لمونځ مه کوئ تر څو پوره وخيژي؛ او کله چې د لمر څنډه راښکته شي، لمونځ مه کوئ تر څو پوره پرېوځي، ځکه چې دا لمر د شیطان د ښکرونو ترمنځ راخیژي او پرېوځي.»

(رواه البخاري و مسلم)

ساینسي توضیح:

په ۲۰۲۵م کال کې، د رمضان المبارک په سهار، د امریکا یو نامتو عکاس د یو نادر لمرګېرځي عکس واخیست، چې پکې لمر د سپوږمۍ تر ډېره پوښل شوی و، او د سهار پر مهال داسې ښکارېده لکه دوه اوږد وهونکي ښکرونه چې له افقه راپورته کېږي .دا عکس د نړۍ له ډېرو مسلم او غیر مسلمو خلکو پام ځان ته واړاوه.

دا یوه ساینسي پدیده ده چې «devil's horns phenomenon» بلل کېږي، کله چې سپوږمۍ د لمر تر ډېره برخه پټوي، او یوازې دوه برخې د افق نه د سره ښکرونو په بڼه راښکاري .دا صحنه معمولا د ورځني لمرګېرځي (solar eclipse) پر وخت راښکاري.

اوس، راځئ حیرانوونکي نقطې ته!

نبي کریم ص، چې نه یې فلکیات لوستي، نه یې عکسونه اخیستي، نه یې تلسکوپ درلود، څوارلس سوه کاله وړاندې وویل چې" :دا لمر د شیطان د ښکرونو ترمنځ راخیژي".

یعنې، هغه شیبه چې نن ساینسپوهان یې د «د ښکرونو لمر» بولي، نبي ص یې لا دمخه بیان کړی و!

روانی او عقلي اعجاز:

دا وختونه ـ د لمر راختو او پرېوتو ـ د وسوسو، روحاني ضعف، او شعوري تېروتنو وختونه دي .ساینس هم وايي چې د سهار او ماښام پر مهال د انسان مغز ډېر حساس، او د بېثباتۍ ښکار وي .دا وختونه ډېر کلتونه د شرک، جادو او طالعبینۍ لپاره غوره ګڼي .اسلام دا وختونه د عبادت لپاره نامناسب اعلان کړي .ولې؟ ځکه چې:

فزيکي او نوري انحرافات انسان خطا کوي.

دا وختونه پخوا د خورشيد پرستۍ وختونه وو.

روحاني وسوسې پياوړې وي.

خو اسلام، د نبوت د علم له لارې، دا ټول خطرونه بند کړي، او ويلي يې دي چې دا وختونه مه ځان ته د عبادت لپاره غوره کوئ.

د اعجاز پايله:

حديث د «ښکرونو» يادونه کوي، عکسونه نن ورځ هماغه ښکاروي.

ساينسي تعريف همدا وايي.devil’s horns/eclipse phenomenon :

ساينس هم دا وختونه خطرناک ګڼي، اسلام له ۱۴ پېړيو وړاندې منع کړي.

دا ښيي چې دا دين د علم، فطرت او حقيقت دين دی.

پايله:

دا حدیث، چې یو" غیبي لید "څرګندوي، د نبوت یوه روښانه نښه ده، چې د علم او عقل په تله کې هم درنه ده .دا موږ ته ښیي چې قرآن او حدیث یوازې د عبادت لارښوونې نه دي، بلکې د فطرت د رازونو تفسیر هم دي.



## ولې اسمان ساتل شوی چت دی؟

ولې الله تعالی وویل(:وَجَعَلْنَا السَّمَاءَ سَقْفًا مَحْفُوظًا)

او نه یې وویل :سقفا حافظا؟

اول :د آیت شریف ترجمه:

الأنبياء :۳۲

وَجَعَلْنَا السَّمَاءَ سَقْفًا مَحْفُوظًا ۖ وَهُمْ عَنْ آيَاتِهَا مُعْرِضُونَ

او موږ آسمان یو ساتل شوی چت ګرځولی دی، خو هغوی د هغې له نښو نه مخ اړوي.

ولې" محفوظا"؟ او نه" حافظا"؟

په عربي ژبه کې:

"محفوظ "یو مفعول دی، یعنې دا شی دی چې ساتل شوی، پداسې حال کې چې

"حافظ "یو فاعل دی، یعنې دا شی دی چې خپل حفاظت کوي یا نور ساتي.

نو که وای:
"سقفًا حافظًا "نو دا به معنی دا وه چې آسمان خپله نور شیان ساتي،
او که وای:
"سقفًا محفوظًا "دا معنی لري چې آسمان په خپله ساتل شوی دی.

دلته خو موږ پوهیږو چې آسمان( یعنې اتمسفیر )موږ ساتي، نو ولې وویل شول" محفوظ"؟

ځواب دا دی:

دا ځکه چې د آسمان دا حفاظت لومړی خپله د الله له خوا ساتل شوی دی!

یعنې که آسمان خپله محفوظ نه وای، نو دا به هیڅکله هم نور نه ساتلای.

له علمي اړخه :څه ته اشاره ده؟

الله تعالی دا آسمان( یعنې اتمسفیر، مقناطیسي ډال، او د وان آلن کمربندونه ) داسې یو محفوظ سیستم جوړ کړی چې:

له سورج نه راتلونکي قاتل الکترونونه (Killer electrons) بندوي.

له الټرا وایلېټ شعاعو او سورج بادونو نه موږ ساتي.

شهابونه او نیزکونه د داخلېدو پر وخت سوځوي.

د جاذبې قوې او خلاء فشار ترمنځ یوه عجیبه تعادل ساتي.

دا ټول سیستم دومره نازک دی چې که حتی لږ هم تغیر پکې راشي، نو یا به ټول غلاف پر ځمکه راولوېږي، یا به په فضا کې تیت شي.

نو ځکه الله تعالی دا غلاف( او ټول آسماني نظام" )محفوظ "ګرځولی، یعنې:

دا چت( اتمسفیر )له زوال، تشتت، یا فنا نه الله ساتلی دی.

او دا چې دا محفوظ دی، همدا وجه ده چې دا نور هم ساتي.

قرآني اعجاز :یوه بله آیه هم ورته اشاره کوي

(وَيُمْسِكُ السَّمَاءَ أَن تَقَعَ عَلَى الْأَرْضِ إِلَّا بِإِذْنِهِ)[ الحج]65 :

او الله آسمان نیولی دی، چې پر ځمکه رانشي، مګر که د هغه حکم وي.

یعنې دا ساتنه یو فعلي الهي عمل دی، نه فقط یو طبیعي خاصیت.

پایله:

"سقفًا محفوظًا = "دا آسماني چت، له زوال نه ساتل شوی دی

→ځکه چې که دا خپله محفوظ نه وای، نو نور هم نشوای ساتلای.

→او دا حفاظت یوازې د الله تعالی په تدبیر او قدرت سره ممکن دی.



## د سترګو تسحير

الله تعالی فرمايی:

وَلَوْ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَابًا مِّنَ السَّمَآءِ فَظَلُّوْا فِيْهِ يَعْرُجُوْنَ ۙ

14-15او که مونږ په دوی باندې له اسمان نه کومه دروازه پرانستلې وی، بيا دوی په هغې کې تل ختلی

لَقَالُوْا اِنَّمَا سُكِّرَتْ اَبْصَارُنَا بَلْ نَحْنُ قَوْمٌ مَّسْحُوْرُوْنَ ۝

بيا به يې هم همدا ويل چې زمونږ سترګې غولول کيږي، بلکې پر مونږ کوډې شوې دي.

القرآن، سورت الحجر، آيتونه ۱۴–۱۵

د قرآن کريم علمي نښې

ليد( بينايي)

فضا ته تللي انسانان( فضانوردان )د ليد د خرابوالي تجربه کوي

په قرآن کريم کې يادونه شوې چې که چيرې يو انسان اسمان ته پورته شي، نو ليد يې ګډوډيږي او سترګې يې مستې کيږي .شک کوونکي ادعا کوي چې ګواکې دا يوه تېروتنه ده، ځکه دوی وايي چې خلا يا ويکيوم د انسان پر

سترګو اغېز نه کوي .خو نن سبا ساینسپوهان دا خبره تائیدوي چې فضانوردان واقعاً د لید د خرابوالي، سر ګرځېدو او سترګو د تیاره کېدلو سره مخ کیږي.

"فضا کیدای شي انسان ړوند کړي — ساینسپوهانو یي بالاخره علت معلوم کړ"

یوه ناآشنا ناروغي د نړیوال فضایي مرکز (ISS) فضانوردان له شدیدې لید ستونزې سره مخ کړې ده، داسې چې سترګې یې کمزورې شوي، او دا ستونزه حتی تر ځمکې ته راکوزېدو وروسته هم څو میاشتې پاتې وي .دا ستونزه دومره جدي ده، چې له درې نه دوه برخې فضانوردان وایي د مدار سفر نه وروسته یې سترګې خرابې شوې .اوس ساینسپوهان وایي چې بالاخره یې د دې علت وموند، او دا د انسان د مریخ ته د رسېدو لپاره بد زیری دی.

ډوریت دونووېل، د امریکا د ملي فضایي بیومېډیکل څېړنیز انستیتیوت یو کارپوه، وویل:

"تر اوسه هیڅ انسان دوه کاله په پرلپسې ډول د دې اغېزو لاندې نه دی پاتې شوی، خو ویره دا ده چې د سترګو دائمي خرابوالی به رامنځته شي .دا د یو فضانورد لپاره فاجعه ده".

د ناسا یو راپور وایي چې یو څه داسې شیان په فضا کې شته چې د فضانوردانو طبیعي بینایي خرابوي.

سکاټ کیلي، چې د امریکا له هغو فضانوردانو څخه و چې د ښه بینایي له امله یې د یو کال لپاره د فضا ماموریت ته غوره شوی و، وایي چې له فضا څخه د راګرځېدو وروسته اړ شو چې د مطالعه کولو لپاره عینکې واغوندي.

جان فیلیپس، چې په ۲۰۰۵ کې په نړیوال فضایي مرکز کې پاتې شوی و، هم له ناڅاپي تیاره لید سره راستون شو، او ناسا تایید کړه چې د هغه بینایي له 20/20نه 20/100 ته راکمه شوې وه — یوازې په شپږو میاشتو کې .ناسا شک درلود چې دا ناروغي — چې ورته وایي:

Visual Impairment Intracranial Pressure Syndrome (VIIP)د فضا په بېثقله محیط کې د دماغي فشار د بدلون له امله — رامنځته کېږي.

سرچینه Science Alert, 2016 – Space Could Leave You : Blind

ډېری فضانوردان د فضا په لومړیو ورځو کې د سر ګرځېدو، زړه بدوالي او سترګو ګډوډي تجربه کوي، خو د سترګو د تیاره کېدو ستونزه اوږدمهاله ده . دا خبره اوس ساینس تایید کړې، خو قرآن کریم دا واقعیت تر ۱۴۰۰ کاله وړاندې بیان کړی و.

د قرآن کریم اعجاز

مستي، سرګرځي، زړه بدوالی او تیاره لید هغه عامې نښې دي چې د الکولو له نشې سره تړلې دي — او دا ټول دقیقاً هغه نښې دي چې فضانوردان یې د فضا په ماحول کې تجربه کوي.

نو هغه څه چې نن یې ساینس تاییدوي، قرآن کریم ۱۴ پیړۍ وړاندې اشاره ورته کړې وه .دا یو روښانه اعجاز دی.



## الله جل جلاله او د زمان خالقیت

د دهر حقیقت د قرآن او ساینس په رڼا کې"

د الله تعالی" دهر "کېدو مطلب څه دی؟

او کوم دلیلونه د خدای پر وجود باندې شته، چې حتا د الحاد پوهانو هم پرې اعتراف کړی دی؟

الله تعالی فرمایي:

"وَوَصِّلْ فِي الْأَرْضِ فَانْظُرُوا كَيْفَ بَدَأَ الْخَلْقَ ثُمَّ اللَّهُ يُنشِئُ النَّشْأَةَ الْآخِرَةَ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ"

(سورة العنکبوت :۲۰)

ژباړه "": ورته ووایه :په زمکه کې وګرځئ، بیا وګورئ چې پيدايښت يې څرنګه پیل کړی بیا يې وروستی ځل هم پیدا کوي بې شکه الله په هر څه قادر دی .،"

ۚ ـــوَعْدَ اللّٰهِ حَقًّا ۚ ـــاِنَّهٗ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ لِيَجْزِىَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ بِالْقِسْطِ ۚ ـــ

سورت یونس ۴

بې شکه هماغه پيدايښت پیل کوي بیا يې هماغه دوهم ځل پیدا کوي تر څو هغو خلکو ته چې ایمان يې راوړی او سم کارونه يې کړي په عدالت سره بدله ورکړي،

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ـ رضى الله عنه ـ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم " قَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ يُؤْذِينِي ابْنُ آدَمَ، يَسُبُّ الدَّهْرَ وَأَنَا الدَّهْرُ، بِيَدِي الأَمْرُ، أُقَلِّبُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ ".

او بخاري او مسلم له ابوهريرة رضی الله عنه نه روایت کړی، چې رسول الله ص وفرمایل:

"الله تعالی فرمایلي:

"د آدم زوی ماته اذیت را رسوي، څکه چې هغه وخت( دهر )ښکنځي، حال دا چې زه دهر یم) یعنې زه د زمان مالک یم(، هر کار زما په لاس کې دی، زه شپه او ورځ اړوم".

حدیث صحیح بخاري ۴۸۲۶

لا تسبّوا الدّهر فإنّ الله هو الدّهر

او بله روایت کې راغلي :عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ " لاَ تَسُبُّوا الدَّهْرَ فَإِنَّ اللَّهَ هُوَ الدَّهْرُ "

ابوهرېره رضي الله عنه د نبي صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې هغه وفرمایل:

«دهر( وخت )مه ښکنځئ، ځکه چې الله( ج )دی د دهر( یعنې مالک او مدبِّر.)» صحیح مسلم

د زمان او کاینات د پیدایښت حقیقت:

دین وایي :دا کائنات( نړۍ )نه ابدی ده، نه دایمي، بلکې دا مخلوق ده، یوه پېل لري او یوه پای.

علم هم دا تایید کړه :تر ۲۰مې پېړۍ پورې ډېری ساینسپوهان باور لرلو چې کائنات ازلي دی( له اول نه موجود)، خو اوس علمي شواهد، څېړنې، او د راډیو اکټیف موادو نیمایي عمر دا ثابت کړ، چې کائنات یوه خاصه پېل لري ــشاوخوا ۱۵ میلیارد کاله مخکې.

ریاضي دا تایید کړې :د حسابونو له مخې هم کائنات پای لري .که لمر له اوله موجود وای، نو باید انرژي یې له ډېر پخوا خلاصه شوې وای.

د زمان پېل د اجرامو له حرکت سره تړلی دی:

-زمان نشته پرته له حرکته، او حرکت نشته پرته له اجرامو.

-اجرام سماوي( اسماني جسامونه )د" انفجار عظیم "وروسته جوړ شول.

نو پوښتنه دا ده:

"د انفجار عظیم (Big Bang) نه مخکې څه و؟"

دا تل یو اختلاف و:

ایا کائنات پیل لري، یا ازلي دی؟

عمر یې څومره دی؟

د مسلمان مفکرینو ځوابونه:

هغوی د" ازلي ماده "نظریه رد کړې.

الله عزوجل یوازینی ذات دی چې له زمان، مکان او هر محدودیت نه پورته دی.

ابن تیمیه رحمه الله :زمان تابع د حرکت دی، او حرکت باید خالق ولري.

غزالي رحمه الله :کائنات یو حادث( پیل شوې شی )دی، او د زمان پیل هم د کائنات له پیل سره دی .که حرکت ودرېږي، نو زمان هم له منځه ځي.

نسبیت نظریه (Theory of Relativity) هم وایي:

زمان يو څلورم بُعد دی( د اوږدوالي، پلنوالي، ارتفاع ترڅنګ.)

نو که دا بعدونه نه وي، زمان هم نه وي.

دا ټول دلايل تاييدوي چې زمان د کائنات له پيدا کېدو سره پيدا شو، نه مخکې.

د ځمکې او کائنات عمر:

د سمندرونو د مالګينوالي د زياتېدو له مخې د اوبو عمر اټکلېږي.

د راډيو اکټيف موادو تحلل د ځمکې د ټوټکي، ميټيورايټونو، او سپوږميزو ډبرو عمر ښيي.

د کائنات عمر د" هابل ثابت "له مخې اټکلېږي، چې اوسنی محاسبه شوی عمر شاوخوا ۱۰ – ۱۵ ميليارد کاله دی.

فرمول:

عمر = د رڼا سرعت ÷ ثابت هابل × ميليون

د إشعاع کشف – د ازليت رد:

يوازې دا حقيقت چې شمس او نور ستوري اشعاع توليدوي، کافی دی چې دا رد کړي چې دا اجرام ازلي دي، ځکه که له اوله وای، نو انرژي يې بايد پای ته رسيدلې وای.

فزيک او فلکيات – د الحاد پر ضد دلايل:

فزيک د ازلي کائنات نظريه رد کړې.

فلکيات څرګندوي چې کائنات پراخ شوی، چې دا د پيل دليل دی.

فاستو مالفن سليفر( ١٩١٣ :) کشف کړ چې ځينې اسماني اجسام له موږ ١٨٠٠ km/sec واټن اخلي.

ادوين هابل( ١٩٢٩ :) ثابته کړه چې ليرې مجرې له موږ لرې کيږي، چې دا پراخېدونکی کائنات ښيي.

نو که دا افق ته ځي، مانا دا چې يو وخت ټول کائنات يو ځای و – دا" انفجار عظيم "ته اشاره ده.

نظريه الانفجار العظيم:Big Bang –

کائنات د ډېرې غټې چاودنې له امله پيل شو.

حرارت ډېر لوړ و، او له ذرې څخه جوړښت پيل شو.

ګرد، ستوري، مجرې، او سيارې له همدې ماده جوړې شوې.

که فلم بيرته وګرځوو، نو ټول کائنات د يوې نقطې څخه پېل شوی و.

بنزياس او ولسون( ۱۹۶۵ )دا نظريه تاييد کړه، او ناسا( ۱۹۸۹ ) هم اشعاع ومونډله چې د کائنات د پېل لويه تودوخه ښيي.

اعترافات د الحاد مشهورو پوهانو:

ستيفن هاوکينګ :دا واحد پېل د خالق وجود ثابتوي.

الفرد هويل :چاودنه هېڅکله نظم نه راوړي، خو دلته د انفجار عظيم چاودنه يو کامل نظام پيدا کړ.

جورج کرنشتاين( امريکايي فزيکپوه :) هر څومره چې په کائنات غور کوې، دې نتيجې ته رسيږې" :يوه الهي قدرت شته چې دا هر څه پيل کړي دي".

د قرآني إعجاز پای:

قرآن کريم دا ټول حقيقتونه له ۱۴ پېړيو وړاندې ووېل:

"قُلْ سِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانْظُرُوا كَيْفَ بَدَأَ الْخَلْقَ ثُمَّ اللَّهُ يُنشِئُ النَّشْأَةَ الْآخِرَةَ إِنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ"

(سورة العنكبوت :۲۰)

پايله:

د علم، فزيک، نجوم، فلسفې او د دين اجماع دا ده چې:

کائنات پیل لري.

د زمان، مکان، حرکت، او ماده ټولو لپاره يو پيل شته.

دا پيل له ځان نه نه شي راتلای، بلکې يو قادر خالق لري.

دا خالق ازلي دی، نه محدود دی، نه مخلوق دی — او هغه يوائې الله دی.



## ولې حج یوازې په ټاکلو میاشتو کې فرض شوی دی؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي( هر یوه یې جلا حدیث دی:)

کعبه د اوبو پر سر یوه وړه لوړه غونډۍ وه، له هماغه ځایه ځمکه خپره شوه.

د حرم حدود د اوو اسمانونو او اوو ځمکو له خوا حرام ګرځول شوی.

البیت المعمور زموږ له مکې دی، او رسول الله صلی الله علیه وسلم دا داسې تشریح کړ :دا یو کور دی چې د اووم اسمان په سر کې، د کعبې دقیق مخامخ موقعیت لري، حتی که راولوېږي، نو پر کعبه به راولوېږي.

د کعبې جوړښت او د هغې اساسات

کله چې کعبه جوړه شوه، د هغې بنسټونه زموږ پلار ابراهیم او اسماعیل علیه السلام کېښودل، لکه څنګه چې الله تعالی فرمایي:

(وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرَاهِيمُ الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَيْتِ وَإِسْمَاعِيلُ)[ البقرة]127 :

او د بخاري شریف( کتاب الأنبیاء )4/114 روایت دی چې ابراهیم علیه‌السلام خپل زوی اسماعیل ته وویل" :الله ماته امر کړی چې دلته یو کور جوړ کړم"، او یوه جګې غونډۍ ته یې اشاره وکړه .راوي وایي، هلته یې د کور بنسټونه پورته کړل.

ځینو علماوو ویلي چې کعبه د آدم علیه‌السلام له پیدا کیدو دوه زره کاله وړاندې ملایکو جوړه کړې وه، ځینې وایي چې دا بنسټونه آدم علیه‌السلام کېښودلي، او نور وایي چې شیث بن آدم دا بنسټونه ایښي.

خو قرآن شریف دا تصریح کوي چې ابراهیم او اسماعیل علیه‌السلام د کعبې بنسټونه پورته کړل، نو ممکن دا بنسټونه له پخوا موجود وو، او هغوی یې یوازې پورته کړل.

د کعبې د اضلاعو دقیق جهتونه – یو نه انکارېدونکی اعجاز

کعبه د خپلو څلورو دیوالونو له مخې د ځمکې د اصلي څلورو جهتونو( شمال، جنوب، ختیځ، لویدیځ ) سره په نهایت دقت سم تنظیم شوې ده:

شمالي دیوال :د حجر اسماعیل پر لور، د عراقي او شامي رکن ترمنځ.

جنوبي دیوال :د حجر الاسود او رکن یماني ترمنځ.

ختیځی دیوال :دروازه او الملتزم لري، د حجر الاسود او رکن عراقي ترمنځ.

لویدیځی دیوال :د شامي او یماني رکن ترمنځ.

دغه دقیق جهتونه د تصادف نتیجه نه شي کېدلی، دا یو واضح اعجاز دی.

د مغناطیسي انحراف او کعبې ترمنځ نسبت

ځينو خلکو ناسم علمي ادعاوې کړي، وايي چې کعبه په داسې ځای کې ده چې هلته د ځمکې مغناطيسي انحراف (declination) صفر دی .خو حقيقت دا دی چې مغناطيسي انحراف په هر ځای کې شته، او وخت په وخت بدليږي . مثلاً:

په1680 م کې دا انحراف 14 درجې ختيځ ته و.

په1990 م کې دا انحراف شاوخوا 2.5 درجې لويديځ ته و.

په2008 م کې انحراف شاوخوا 2.7 درجې و.

نو، د کعبې موقعيت د مغناطيسي انحراف سره خاص تعلق نه لري.

د کعبې، بيت المعمور، او د آسمانونو ترمنځ عمودي ارتباط

ځمکه ګرځي، نو د کعبې موقعيت د آسمانونو په نسبت بدليږي .بيا څنګه امکان لري چې بيت المعمور – کوم چې د اووم آسمان پر سر دی – دقيقاً د کعبې پر سر وي، او که راولوېږي نو همدلته راولوېږي؟

او رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

"البيت المعمور منا مکة، که چيرې راولوېږي، نو پر کعبه راولوېږي".

او بیا فرمایي:

"الحرم حرم مناء بین السماوات السبع والأرضین السبع – "یعنې دا حرم د آسمانونو او ځمکو ترمنځ په عمودي کرښه واقع دی.

دغسې جوت، هندسي، مستقیم ارتباط د ټول کال په اوږدو کې ممکن نه دی، خو دا ارتباط یوازې د حج په میاشتو کې واقع کیږي!

ولې حج یوازې په معینو میاشتو کې فرض شوی؟

یوازې د حج د معلوماتو میاشتو کې کعبه د بیت المعمور لاندې راځي، او دواړه پر هماغې مستقیمې کرښې قرار لري، چې د آسمانونو او ځمکو مرکزونه نښلوي .دا ځانګړې کیهان‌شناختي پیوستون له همدې امله یوازې په دغو میاشتو کې وي.

د همدې لپاره الله تعالی حج یوازې په دغو میاشتو کې فرض کړی.

(الْحَجُّ أَشْهُرٌ مَّعْلُومَاتٌ)[ البقرة]197 :

د بیت المعمور حقیقت

د طبري روایت :رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

"البیت المعمور مسجدٌ في السماء حِذاء الکعبة، لو خَرَّ لخرَّ علیها، یدخله کل یوم سبعون ألف ملك لا یعودون".

د ابن عباس روایت:

"البیت المعمور بیت د عرش تر شا دی، هره ورځ ۷۰ زره ملایکې پکښې لمونځ کوي، او بیا هیڅکله نه راګرځي".

نو دا روحاني اړیکه د آسماني حاجیانو( ملایکو ) او ځمکني حاجیانو ترمنځ، یوازې په همدغو معینو میاشتو کې ټینګیږي.

دویمه برخه:د کعبې بڼه، د طواف جهت، او د ابعادو نړۍ

۱ .ولې کعبه مکعب بڼه لري؟

د کعبې بڼه یو مکعب( مکعب مستطیل ) ته ورته ده، یعنې د هغې ټولې څلور مخې، چت، او بنسټ یو خاص هندسي جوړښت لري .دا بڼه د زمان، مکان، او جهتونو ترمنځ بشپړ توازن لري.

مکعب، له شپږو مخونو جوړ دی :شمال، جنوب، ختیځ، لویدیځ، چت (پورته)، او بنسټ( لاندې.)

دا بڼه د" درېبعدي (3D) "جهان تر ټولو باثباته، متوازنه او جامع هندسه ده.

د فزیک له نظره، دا بڼه د انرژۍ جذب او انعکاس لپاره تر ټولو مناسب ساخت لري.

او له همدې کبله کعبه د نړۍ د هندسي او روحاني مرکز په توګه ټاکل شوې ده.

۲ .ولې طواف د ساعت ضد لور( عقرب‌الساعه خلاف ) ترسره کېږي؟

که د ځمکې د حرکت، د ذرو د دوران، او د اسماني اجسامو حرکت ته وګورو، نو ټول دا حرکتونه په هماغه لور دي چې مسلمانان پرې طواف کوي:

الکترونونه د اتوم شاوخوا په هماغه جهت ګرځي( ضد ساعت.)

سیارې د لمر شاوخوا همداسې حرکت کوي.

سپوږمۍ د ځمکې شاوخوا همداسې ګرځي.

د طواف جهت د طبیعي کیهاني حرکتونو سره مطابقت لري.

یعنې، طواف یوازې عبادت نه دی، بلکې دا د کیهان، هستۍ او فطرت له حرکت سره یوازینۍ همغږي ده.

۳ .کعبه – د ابعادو ترمنځ دروازه

فزیک پوهان وایي، زموږ کاینات د ۳ بعدونو( طول، عرض، ارتفاع )نه علاوه نور" پټ ابعاد "هم لري .د نظریه ریسمان (String Theory) له مخې، کاینات ۱۰ یا ۱۱ ابعاد لري، چې ځینې یې زموږ له حواسو پټ دي.

کعبه، د دې پټو ابعادو لپاره یوه" دروازه "یا محور ده.

کله چې انسان طواف کوي، د بدن ذرات، ارواه، شعور او روح یې د لوړ ابعادي سطحو سره ارتباط نیسي.

دغه ځای د نوراني، انرژيمحوره، روحاني پېوستونونو یو تمرکز دی، چې یوازې د حج په ټاکلي وخت کې" فعال "کېږي.

۴ .د کعبې او بیتالمعمور ترمنځ شعاعي اړیکه

هماغسې چې یو لېزر شعاع یوازې پر مستقیم کرښه تېرېږي، همداسې:

د بیت المعمور نوراني انوار، چې د اووم آسمان له سر څخه راکوزېږي، د کعبې پر سر راپرېوځي.

دا روحاني شعاع د آسماني ملایکو او ځمکني حاجیانو ترمنځ مستقیم تړاو جوړوي.

خو دا شعاع فقط د حج د میاشتو په ځانګړو ورځو کې د کعبې پر سر رامنځته کیږي .له همدې امله، دا وخت یوازینۍ موقع ده چې انسان کولی شي:

د زمکې له مرکز څخه تر آسمانونو، د ملکوت، جبروت، او نوراني عالمونو سره" مستقیم "اتصال پیدا کړي.

پایله :حج – د ابعادو، آسمانونو، او انسان ترمنځ یوه روحاني شېبه

کعبه د کیهاني نظم مرکز دی.

طواف د هستۍ له حرکتونو سره همغږي ده.

بیت‌المعمور د کعبې سر ته د آسماني دروازې په څېر دی.

او د حج وخت یوازینۍ موقع ده چې دا روحاني کرښه فعاله وي.

له همدې امله، الله تعالی فرمایلي دي:

(الْحَجُّ أَشْهُرٌ مَّعْلُومَاتٌ)[ البقرة]197 :

او دا نه یوازې شرعي حکمت لري، بلکې یو علمي، روحاني او هندسي اعجاز هم دی.



## ايا ځمکه د شپې پوښل کېږي؟

ايا د شپې سفر غوره دی؟

رسول الله ص وفرمايل:

«عليكم بالدُّلْجةِ فإنَّ الأرضَ تُطوى بالليلِ»
يعنې“ :تاسو بايد د شپې سفر وکړئ، ځکه چې ځمکه د شپې پوښل کيږي”.
(رواه أبو داود وغيره – حديث صحيح شوی د شيخ الألباني له خوا په «السلسلة الصحيحة» کې، شمېره)681

علمي تحليل:

ځمکه له لاندې کيمياوي عناصرو جوړه ده:

34.8٪ اکسیجن

29.3٪ سیلیکان

11.3٪ مګنیزیم، سلفر، کلسیم او المونیم

او د ځمکې پوسته( قشره )چې ورته لیتوسفییر (Lithosphere) وایي، له دې عناصر جوړېږي:

45.2٪ اکسیجن

27.8٪ سیلیکا

8.5٪ المونیم

5.8٪ اوسپنه

نور عناصر :کلسیم، مګنیزیم، سوډیم، پوتاشیم

لیتوسفییر څه شی دی؟

لیتوسفییر د ځمکې قشره ده، لکه د هګۍ قشر .دا پوسته د څو برخو څخه جوړه ده، چې هره برخه ته" صفیحه تکتونیه "وایي .دا صفحې درې ډول حرکتونه کوي:

د یو بل نه لیرې کېدل

د یو بل خواته رانږدې کېدل

یو بل ته د پاسه یا خواوو ته سرکیدل

څنګه حرکت کوي؟

دوی د ځمکې داخلي حرارت او د لمر له وړانګو څخه جذبېدونکي حرارت له امله حرکت کوي .دا حرارت د قشرې لاندې" وشاح "ته رسي، چې یوه تر 1800مایلو پورې غځېدلې طبقه ده.

د لمر د حرارت اغېز:

مطالعاتو ښودلې چې:

کله چې د هوا تودوخه لوړه شي( له 37.7°C یا 100°F پورته)، نو تکتوني صفحې پراخیږي او د قشرې پوښ زیاتیږي.

دا حرارت د لمر د وړانګو، او همداراز د داخلي تودوخې له امله د صفحو حرکت سبب ګرځي.

په ورځ کې دا صفحې پراخيږي( ځمکه غتيږي.)

خو د شپې له يخوالي سره دا صفحې بېرته ننوځي، جمع کيږي، او ځمکه تاويږي.

ايا دا ټول د حديث تفسير دی؟

هو .دا علمي مطالعات تاييدوي چې د شپې له يخوالي سره ځمکه جمع کيږي، تکتوني صفحې ننوځي، او ځمکه د شپې" تاويږي "يا" پوښل کيږي – "دا د حديث نبوي عملي حقيقت دی!

د لمر او سپوږمۍ اغيز:

نورې څېړنې وايي:

سپوږمۍ هم د جاذبې له لارې د صفحو په خوځښت اغېز لري، او دا حرکتونه د مد او جزر په څېر دي.

د سپوږمۍ د بدرو(پوراوالي)په وخت کې دا تاثيرات زيات وي.

لمر د سطحې حرکتونه تولیدوي، د زلزلې په څېر وړه ارتعاشات هم پېښېږي.

د اتمسفير زيات تاووالی کولی شي چې د تختهيي خوځښت (plate tectonics)سیستم بند کړي

سرچينه – Rice University :ژورنال Earth and Planetary : Science Letters

يوه نوې څېړنه ښيي چې که د ځمکې سطحه د میلیونونو کلونو لپاره په پرله پسې ډول توده شي( د مثال په توګه د ۱۰۰ درجې فارنهایټ زیاتوالی)، نو دا کار کولی شي چې د ځمکې د تکتونیکي تختو حرکت (plate tectonics) بند کړي، او د ځمکې قشر یا پوسته به" قفل "یا کلک شي.

د دې څېړنې مشري Adrian Lenardic کړې، او موخهيې دا وه چې د اقلیم (climate)او جیوفزیکي حرکتونو تر منځ ممکنه اړیکې وڅېړي، او دا درک کړي چې ولې زهره (Venus) له ځمکې سره توپیر لري.

زهره د ځمکې په شان ده، خو د هغې سطحه ډېر سخته ګرمه ده، ځکه چې د هغې اتمسفير کې د کاربن ډای اکساید کچه نږدې ۱۰۰ چنده زیاته ده، او دا ګازونه لکه کمپله د تودوخې ساتنه کوي.

د ځمکې په طبعي حالت کې، د اقیانوسونو لاندې تختې د ځمکې منټل (mantle)ته ورګرځي، چیرې چې تودوخه، فشار او خوځښتونه شتون لري .خو که د سطحې تودوخه ډېر لوړه شي، نو دا حرارت کولی شي چې منټل تود کړي، د هغې جریان بند کړي، او له دې امله به تکتونیکي تختې خوځېدل بند شي.

يوه مهمه پایله دا ده :دا ډول اقلیمي تودوخه له هغې تودوخې هم کم ده چې د اوبو د بخارېدلو لپاره اړینه ده، یعنې که د سطحې حرارت تر یوې اندازې

زيات پاتې شي، نو د منتل د حرکتي سيستم باثباتي به له منځه ولاړه شي – او دا يوه علمي او مهمه انکشاف دی.

او د سفر توصيه ولې د شپې ده؟

د شپې ځمکه پوښل کيږي، حرکتونه لږ وي، انرژي کم مصرفيږي، او سفر اسانه وي.

همداراز، په استوا کې د ختيځ خواته سفر کول د ځمکې د حرکت له برکته زر تر زر کيږي، دا د يوتفوس قانون سره سم دی، کوم چې د بېړيو کپېتانان يې کاروي.

پايله:

رسول الله ص د شپې د سفر توصيه کړې، او دا خبره اوس علم ثابتوي:

د شپې د تودوخې د کمښت له امله تکتوني صفحې ننوځي.

ځمکه تاوېږي.

سفر اسانه کيږي.



## د کائنات د عمر په رڼا کې د قیامت نږدېوالی

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«زه او د قیامت ورځ داسې یو ځای رالیږل شوي یو لکه دا دواړه ګوتې»

(او هغه صلی الله علیه وسلم د خپلې شهادت او منځنۍ ګوتې سره اشاره وکړه.)

[رواه البخاري]

علمپوهان وايي چې د کائنات عمر شاوخوا 13,5 میلیارد کاله دی، خو د انسانانو عمر تر دې ډېر لږ دی، ځکه چې الله تعالی خپل وروستی پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم یوازې شاوخوا ۱۴۰۰ کاله وړاندې رالیږلی دی.

کله چې موږ ۱۴۰۰ تقسیم کړو پر ۱۳،۵۰۰،۰۰۰،۰۰۰

(یعني د کائنات پر عمر)، نو نتیجه یې دا کېږي:

۰,۰۰۰۰۰۰۱

دا شمېر ښيي چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له راتګ څخه تر قیامت پورې وخت د کائنات د عمر په نسبت ډېر لږ دی – تقریباً هیڅ هم نه ښکاري!

نو ځکه، د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا تشبیه( «زه او قیامت لکه دا دواړه ګوتې یو ځای یو» )یو ډېر دقیق او حیرانوونکی بیان دی، چې علمي واقعیتونه یې تاییدوي .دا څرګندوي چې قیامت زموږ لپاره ډېر نږدې دی – لکه څنګه چې دوې ګوتې یو له بله سره نږدې وي.



## د اوسپنې باران!

ساینس‌پوهانو یو اسماني جسد کشف کړی دی چې نوم یې Luhman 16B دی، او دا له ځمکې څخه شاوخوا ۶۴ تریلیون کیلومتره واټن لري .د دې اسماني جسد ځانګړتیا دا ده چې د هغه اتموسفیر( فضا )د مایع اوسپنې څخه ډک دی!

دا اوسپنه د اوبو د بخار په څېر تبخیرېږي، بیا بیا یخېږي، او د اوسپنې د باران په بڼه راځي!

د دې حیرانوونکي کشف وروسته، دا خبره ثابته شوه چې اوسپنه له اسمانه د باران په څېر ځمکې ته راښکته شوې، بیا یې پر ځمکه استقرار وموند، او دا چاره نن سبا( په ۲۰۱۴م کې )د ساینس‌پوهانو لخوا منل شوې او یو عادي حقیقت بلل کېږي.

خو ځو کاله مخکې دا نظریه ردېدله او د خلکو لپاره منل شوې نه وه.

قرآن کریم په ډېر ساده او روښانه ډول د دې حقیقت یادونه کړې وه، چې اوسپنه له اسمانه راکښته شوې ده، او ډېرو خلکو به دا خبره د تعجب وړ ګڼله او دا به یې د انسانانو خبرې یا د قرآن علمي خطا بلله.

خو الله تعالی فرمايي:

(وَأَنْزَلْنَا الْحَدِيدَ فِيهِ بَأْسٌ شَدِيدٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ)

(او موږ اوسپنه نازل کړه، چې پکې ډېر سخت قوت او د خلکو لپاره ګټې دي).

[سورت الحدید :۲۵]

دا آیت په واضح ډول دا تائیدوي چې اوسپنه له پاسه نازله شوې ده هغه یا په باران شکل یا میټورایټي بڼه!




## د سړه او ګرمی سرچینه

حديث شريف( بخاري، ۵۳۷:)

رسول الله ص فرمايي:

دوزخ خپل رب ته شکايت وکړ او ويې ويل :«ای زما ربه !زما يوې برخې بله خوړلې ده.» نو الله تعالی ورته اجازه ورکړه چې دوه ځله ساه واخلي :يوه په ژمي کې( چې تاسو يې يخوالی احساسوئ ) او بله په اوړي کې( چې تاسو يې ګرمي احساسوئ.)

له ابو ذر رضي الله عنه څخه روايت دی چې يو ځل د نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مؤذن د ماسپښن لپاره غوښتل اذان وکړي، نو نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمايل، يخوالی، يخوالی،( يخوالي ته صبر وکړه ) يا يې دا وويل چې انتظار وکړه انتظار وکړه، او ويې فرمايل :چې سخته ګرمي د جهنم د ړراس څخه وي، نو کله چې سخته ګرمي شي لمونځ په يخ وخت کې کوئ .بيا دومره تأخير وکړل شو تر دې چې مونږ د غونډيو سيوري وليدل.

۵۳۵ بخاری شريف

د ځمکې علمي جوړښت او د بړاس منبع

۲ .د" جهنم د بړاس "او د ځمکې داخلي تودوخې موازي اړیکه

د ځمکې دننه درې اصلي پوړونه شته:

قشر :(Crust) هغه سطحه چې موږ پرې ژوند کوو.

منټل :(Mantle) د ځمکې منځنی طبقه، چې د حرارت درجه يې له 1000°Cتر 3700°C پورې ده.

کور :(Core) د ځمکې مرکز، چې د اوسپنې او نکل له ډېرو جوړ دی، او د حرارت درجه يې تر 6000°C پورې لوړیږي — تقریباً د لمر د سطحې تودوخې سره برابره ده.

دغه داخلي تودوخه (mantle convection) د وولکانو، لاو، او د ځمکې د تکتونیکي خوځښتونو اصلي علت دی.

د ۲۰۲۳ او ۲۰۲۴ نوې څېړنې د ژور حرارت جریان (Geothermal Flux)په اړه وايي:

🔬 “The Earth’s mantle continuously releases heat towards the surface, contributing to global thermal balance and seasonal variations.”

(Nature Geoscience, 2023; Earth and Planetary Science Letters, 2024)

يعنې:

منټل په دوامداره ډول خپل حرارت د ځمکې سطحې ته رسوي — دا عمل د موسمونو په توازن او د تودوخې د ژورې او سطحې اړیکې کې رول لري.

که دا تودوخه د اتموسفیر د حرارت له زیاتېدو سره یوځای شي( لکه د اوړي په اوږدو ورځو کې) ، نو دا د سخته ګرمي یا“ فیح جهنم ”په شان احساس ورکوي.

علمي څېړنو ثابت کړي دي چې:

د اوړي په موسم کې د لمر د وړانګو انرژي د ځمکې په سطحه کې جذبیږي؛

دغه انرژي بیا د حرارتي فشار له امله د منټل د بهراس پورته کېدو ته زمینه برابروي؛ د ځمکې د داخلي او سطحې د حرارت ګډ عمل، د شدیدې ګرمي سبب ګرځي.

نو کله چې رسول الله ﷺ فرمايي:

«شِدَّةُ الحَرِّ مِنْ فَيْحِ جَهَنَّمَ»

( سخته ګرمي د جهنم د بهراس څخه ده)

نو دا تشريح د ځمکې د داخلي اوري تودوخې سره مطابقت لري ــــ هغه تودوخه چې د ځمکې له ژورې برخې( له" سجين "لاندې ) پورته راځي او د طبيعي تودوخې او موسمي بدلونونو يوه برخه ګرځي.

تفسير او د مفسرينو اقوال

۳ :د «سِجِّين» موقعيت

ابن عباس، مجاهد، ضحاک، او عمر رضي الله عنهم وايي:

«سجين د اوومې ځمکې تر ټولو لاندې برخه ده.»

اللباب في علوم الكتاب( ج ۲۰، ص ۲۱۲:)

«سجين هغه ځای دی چې د کافرانو روحونه پکې ساتل کيږي، او له همدې ځايه به د قيامت په ورځ اور راوړل کيږي چې سمندرونه به په اور بدل کړل شي، خو دا يوازې ددې امکان لري چې سجين د ځمکې اوومې طبقې لاندې دی، نور تفصيل يې" د اسلام اعجاز" لومړي ټوک درسره وګورئ.»

له همدې ځايه څرګنده ده چې د ځمکې لاندې حرارتي زېرمه

(Core + mantle) د دوزخ د موقعيت له تشبيه سره عجيبه همغږي لري ــــد قرآني بيان معجزه.

د ځمکې مرکز (inner core) د ۶۰۰۰ °C تودوخه لري د جهنم بړاس د اوړي ګرمي ده د لمريز حرارت + ځمکې داخلي حرارت ګډ اغېزد جهنم ساړه د ژمي يخ دی د اتموسفير موسمي بدلونونه د انرژۍ د توازن له مخې د

سختې ګرمي پر مهال د لمانځه ځنډول د بدن د حرارتي فشار د کمېدو علمي توصیه

🌋علمي او ایماني نتیجه

دا حدیث نه یوازې روحاني پیغام لري، بلکې یو علمي رمز هم ورسره تړلی دی:

د ځمکې دننه تودوخه او د جهنم برېاس ترمنځ د تړاو یادونه؛

د طبیعي موسمونو د تغیراتو علمي اساس؛

او د پیغمبر ﷺ د علم د نبوت ثبوت، چې هغه مهال هېڅ انسان د ځمکې دننه د ۶۰۰۰ درجې تودوخې په اړه نه پوهېده.



## د بحر لاندې اور او د اور لاندې بحر

د رسول الله ص يو علمي معجزه حديث چې اوس ساينس ورته حيران دی!

حديث شريف:

رسول الله ص وفرمايل:

<«سمندر ته دې هېڅوک سفر نه کوي، مګر حاجی، معتمر، يا مجاهد؛ ځکه چې د سمندر لاندې اور دی، او د اور لاندې بيا سمندر دی.»

[ سنن ابو داوود، حديث :۲۴۸۹]

د جنين انسان مرحله :په دې مرحله کې د انسان صورت بشپړ کيږي او ځيرې، لاسونه، پښې او نور اعضا ځرګنديږي .دا مرحله د درېيم ټرمستړ (د دريمې درې مياشتو) په توګه پيژندل کيږي.

د تخليق دا درې مراحل هر يو ځانګړې اهميت لري او په هر مرحله کې ځانګړي فزيکي او جوړښتي بدلونونه راځي .قرآن د تخليق په دې مرحلو کې د جنين د پرمختګ د بېلابېلو مرحلو توضيح ورکړې، چې د دې پيچلتياوې يوازې د اوسني ساينس له لارې معلومې شوې دي.

د تخليق علمي حقايق:

کله چې قرآن د جنين د مرحلو په اړه معلومات ورکوي، دا يوازې د علمي معلوماتو يو ځلانده بيلګه نه ده، بلکه دا د الله ج لخوا ورکول شوی وحی ده .د دې معلوماتو هيڅ علمي بنسټ شتون نه درلود، نه د قرآن کريم د نزول په وخت او نه هم د هغه وروسته په صديو کې .تر دې مخکې هيڅ داسې ساينسي وسيله يا ميکروسکوپ شتون نلرلو چې د دې معلوماتو د تشريح وړتيا ولري.

د قرآن له مخې، د جنين په پرمختګ کې د عضلاتو جوړول وروسته له هډوکو څخه پيليږي، کوم چې په ټوله تاريخ کې يوازې د وروستيو ساينسي کشفونو وروسته تاييد شو.

پايله:

قرآن کريم د جنين د پرمختګ په اړه چې په دريو تيارو کې ترسره کيږي، دقيق ساينسي معلومات وړاندې کوي .دا معلومات په هغه وخت کې چې انسان په دې اړه هيڅ علمي پوهه نه درلوده، د معجزې په توګه ښکاري .د دې ټولو

مرحلو سره، قرآن کریم انسان ته د خپل تخلیق پروسې په اړه ژوره پوهه ورکوي، او دې کې د الله ج حکمت او علم څرګند دی.



**منی – یو ترکیبي مرکب:**

د انسان د پیدایښت په اړه د قرآن اعجاز

وَقَوْلُهُ تَعَالَى:

(إِنَّا خَلَقْنَا الْإِنسَانَ مِن نُّطْفَةٍ أَمْشَاجٍ نَّبْتَلِيهِ فَجَعَلْنَاهُ سَمِيعًا بَصِيرًا)

[سورة الإنسان :٢]

ژباړه:

بېشکه مونږ انسان د یوې ګډې اوبه څاڅکي نه پیدا کړی، تر څو یې وازمیو، نو مونږ هغه اورېدونکی او لیدونکی ګرځولی دی.

دا آیت شریف د انسان د پیدایښت د پیل د مرحلې یو ډېر ژور او اعجازناک حقیقت بیانوي .الله تعالی فرمایي چې انسان مو د یوې «نُطفَةٍ أَمشَاجٍ» یعنې د یوې «ګډې اوبه» نه پیدا کړی .دلته د" امشاج "کلمه د «مخلوطو» یا

«ترکیبي» موادو معنا لري، او دا یو داسې حقیقت دی چې د ساینس له پرمختګ سره وروسته تثبیت شو.

علمي کشف :منی یو مرکب دی

د مایکروسکوپ د ایجاد او پرمختګ سره، ساینس پوهانو وموندله چې منی یو ساده مایع نه دی، بلکې یو پیچلی مرکب دی .دا مرکب د لاندې موادو څخه جوړ دی:

سپرم حجرې :(Spermatozoa) د انسان د نر نسل وړونکې حجرې.

غذایي پلازما :(Seminal Plasma) یو غذایي مایع چې د سپرم حجرې پکې لامبي.

د پروسټیټ غدې ترشحات

د منوي بوجیو (Seminal Vesicles) ترشحات

د نورو غدو ګډ مواد

د منی مهم کیمیاوي ترکیبات عبارت دي له:

سټرېک اسید، پروستاګلانډین، فلاوین، اسکاربیک اسید) ویټامین(C ، فروکتوز، فاسفوریل کولین، کولیسټرول، فاسفولیپیدونه، فبرینولایسین، زنک، اسید فاسفټېز او نور.

ساینس همدا اوس دا تاییدوي چې سپرم یوازې نه دی، بلکې د یو شمېر نورو موادو او ترشحاتو سره ګډ وي – عینًا لکه څنګه چې قرآن کریم ۱۴ پېړۍ وړاندې ویلي :«نُطفَةٍ أَمْشَاجٍ»!

قرآني اعجاز

د دې آیت نه څرګندیږي چې:

قرآن کریم د انسان د پیدایښت پیل داسې تشریح کوي چې نننۍ ساینسي ژبه ورته «ترکیبي جنسي مایع» وایي.

دا ډول علمي دقت، نه په هغه زمانه کې ساینس درلود او نه چا تصور کولی شو.

که چیرې دا قرآن د انسان له لوري وای، نو هېڅکله به یې د" امشاج " (مخلوط) کلمه نه کاروله – ځکه دا مفکوره له علمي کتنې پرته د تعبیر وړ نه ده.

نو دا یو روښانه دلیل دی چې قرآن الهي وحي ده، او دا ډول دقیقو علمي حقایقو ته یوازې خدای خبر دی.




## د انسان د تناسلي غړو (توليدي اعضاؤ) ریښنې

"نو انسان دې فکر وکړي چې له څه شي نه پیدا شوی دی !هغه له یو ځاځکي څخه پیدا شوی دی چې اچول کیږي، داسې ځاځکی چې د ملا د هډوکو او د سینې د هډوکو ترمنځ څخه راځي .بېشکه چې الله قادر دی چې هغه بېرته ژوندي کړي".

(سورة الطارق :۵–۸)

د قرآن کريم ساینسي نښې:(Scientific Signs of the Holy Qur'an)

د انسان د تناسلي غړو (توليدي اعضاؤ) ریښنې د هغو هډوکو تر منځ دي چې قرآن یادونه کړې، یعنې د" شا هډوکي (مهرهجات) "او" سینههډوکي "ترمنځ.

د جنیني پرمختیا په مراحلو کې، د نارینه او ښځینه تناسلي غړي، یعنې خصي (testicles)او هګۍ جوړوونکي غړي(ovaries) ، د مهرهجاتو او یوولسم و دولسم سینېهډوکو ترمنځ سیمې کې جوړیږي .وروسته دا غړي ښکته راکوزیږي .د ښځو غړي د ښځینه رحم سیمه کې تم کیږي، خو د نارینه خصي د زیړون نه مخکې د کشاله ران له چینل (inguinal canal) څخه تېریږي او شخصي کڅوړې (scrotum) ته راکوزیږي.

حتی که وروسته هم دا تناسلي غړي ښکته شوي وي، بیا هم د هغوی د عصبي اړیکو، وینې رګونو او اکسیجن رسونې سرچینه هغه سیمه وي چې د شا هډوکي او سینههډوکو ترمنځ ده .دا رګونه له abdominal aorta څخه راځي، چې دا هم د هماغې سیمې (شا او سینه) تر منځ موقعیت لري.

د خصیو وینه رسوونکې اصلي لاره (testicular artery) له abdominal aortaنه رېښه اخلي، چې د انسان د سینې هډوکي یې مخې ته او د شا مهرې یې شا ته دي .دا artery د سپرم لپاره وینه، اکسیجن او غذايي مواد رسوي . همدارنګه، د seminal vesicles او ejaculatory ducts تغذیه هم له همدې ځایه کیږي .د وینې شریان، وېنځې او لمفاوي سیستم ټول له همدې سرچینې سره اړیکه لري.

د جنین د جوړښت (embryogenesis) په بهیر کې، هم تناسلي غړي او هم پښتورګي (kidneys) د منځنې mesoderm څخه جوړېږي، او دا برخه د شاهډوکي او د راتلونکو سینههډوکو تر منځ واقع ده.

پایله:

د قرآن مجید دا اعجازي آیتونه، چې ۱۴ پېړۍ مخکې نازل شوي، د انسان د جوړښت ډېر دقیق، ژور او علمي توضیح وړاندې کوي .دا بیان د معاصر Anatomy(د بدن جوړښت) او Embryology (جنینپوهنې) سره سمه تطابق لري، او دا بېساری د خدای د کتاب اعجاز دی




## د ماشوم د زيږون لپاره د لارې اسانه کول

– د قرآن اعجاز

وَاللهُ يَقُوْلُ فِي القُرْآنِ الكَرِيم:

(مِنْ أَيِّ شَيْءٍ خَلَقَهُۥ • مِن نُّطْفَةٍ خَلَقَهُۥ فَقَدَّرَهُۥ • ثُمَّ ٱلسَّبِيلَ يَسَّرَهُۥ)

(سورة عبس :۱۸-۲۰)

ترجمه:

"له څه شي نه يې پيدا کړ؟ له يوې نطفې يې پيدا کړ، نو برابر يې کړ .بيا ورته لاره اسانوي".

علمي اعجاز:

دا آيتونه د انسان د پيدايښت له مرحلو څخه تر زيږون پورې د يوې معجزانه پروسې يادونه کوي .په ځانګړي ډول «ثُمَّ ٱلسَّبِيلَ يَسَّرَهُۥ» جمله، ښيي چې الله تعالی د ماشوم د نړۍ ته د راوتلو لاره (د زيږون لاره) اسانه کړې ده .دا خبره د ساينس له نظره د زيږون پر وخت د ښځينه بدن په بدلونونو ډېره ښه تطبيقيږي.

د زېږون پر مهال، د ښځې د بدن بیلابېلې برخې ځانګړي تغیرات تجربه کوي، تر څو ماشوم په طبیعي او اسانه توګه دنیا ته راووځي .دا لاندې بدلونونه شامل دي:

د سرویکس پرانستل :(dilation) سرویکس، چې د رحم ښکته برخه ده، په ابتدايي ډول بند او کلک وي .خو د زېږون پر مهال، د امیندوارۍ هورمونونه دا نرموي، نرۍ کوي (effacement) او پرانیزي، تر څو ماشوم وتلی شي.

د حوض هډوکي نرمېدل :د حوض مفصلونه د زېږون پر مهال نرمېږي، او دا د زېږون لارې پراخېدل اسانه کوي.

عضلاتي نرمښت :عضلات آرامېږي تر څو د ماشوم د راوتلو لاره نوره هم پراخه شي.

امنیوتیک مایع :دا مایع د ماشوم شاوخوا ته موجود وي، چې د غوړتیا په ډول رول لري او د ماشوم د خوځښت اسانتیا برابروي.

دا ټول بدلونونه – د سرویکس پرانستل، د عضلاتو نرمېدل، د حوض پراخېدنه، او د مایع شتون – د ماشوم د دنیا ته د راوتلو لار اسانه کوي، او دا هماغه څه دي چې قرآن یې ۱۴۰۰ کاله وړاندې په دریو کلمو کې بیان کړي : "ثُمَّ ٱلسَّبِيلَ يَسَّرَهُۥ."

پایله:

د زېږون دا علمي تفصیلات، چې نږدې زمانو کې کشف شوي، په قرآن کریم کې د یوې لنډې خو ژورې جملې په بڼه وړاندې شوي .دا د قرآن یو روښانه

اعجاز دی، چې دا الهي کتاب د هغه ذات له خوا دی چې د هر څه خالق او علیم ذات دی.



## او تغذيوي معجزه

وَقَوْلُهُ تَعَالَى:

(قَالَ كَذَٰلِكِ قَالَ رَبُّكِ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ ۖ وَلِنَجْعَلَهُ آيَةً لِّلنَّاسِ وَرَحْمَةً مِّنَّا ۚ وَكَانَ أَمْرًا مَّقْضِيًّا)

(فَحَمَلَتْهُ فَٱنتَبَذَتْ بِهِۦ مَكَانًا قَصِيًّا)

(فَأَجَآءَهَا ٱلْمَخَاضُ إِلَىٰ جِذْعِ ٱلنَّخْلَةِ ۖ قَالَتْ يَٰلَيْتَنِى مِتُّ قَبْلَ هَٰذَا وَكُنتُ نَسْيًا مَّنسِيًّا)

(فَنَادَىٰهَا مِن تَحْتِهَآ أَلَّا تَحْزَنِى قَدْ جَعَلَ رَبُّكِ تَحْتَكِ سَرِيًّا)

(وَهُزِّىٓ إِلَيْكِ بِجِذْعِ ٱلنَّخْلَةِ تُسَٰقِطْ عَلَيْكِ رُطَبًا جَنِيًّا)

(فَكُلِى وَٱشْرَبِى وَقَرِّى عَيْنًا)

[سورة مريم :٢١ – ٢٦]

ژباړه:

[جبرائيل وويل ]:همداسې به وي !ستا رب وايي :دا کار پر ما ډېر اسانه دی، او دا ځکه چې مونږ هغه خلکو ته يو نښه او له لوري مو يو رحمت کړو، او دا يو پرېکړه شوی کار دی.

نو هغې (مريمې) له هغه سره حمل واخيست، او ځان يې يو لرې ځای ته يووړ.

او د ولادت دردونه هغه د يوې خورما ونې تنه ته راويسته، نو ويې ويل :ای کاش !زه له دې مخکې مړه شوې وای او هېره شوې، نه يادېدم.

نو له لاندې نه آواز ورکړ شو :غم مه کوه !ستا رب ستا لاندې يو بهېدونکی چين جوړ کړی دی.

او د خورما د ونې تنه ځان ته راکش کړه، نو له تا به تازه، پخې شوې خورماوې راولوېږي.

نو وخوره، او وڅښه، او سترګې پکې يخوه.

قرآني اعجاز او د زېږون طبي حقيقتونه

۱ .ولادت ته تياری او د بدن خوځښت

نتني ډاکټران او قابلې وايي چې د ولادت پر وخت د بدن کش کول ( pulling motion) د عضلاتو فشار کموي، د رحم پر حرکت مثبته اغېزه لري، او د ماشوم د ښکته راتلو بهير تېزوي .همدا وجه ده چې امروزه د زېږون په خونو کې د ښځو لپاره خاص دستګاوې، چوکې، او ځړند طنابونه نصبېږي تر څو ښځه وکولای شي ځان کش کړي .قرآن کريم ۱۴ پېړۍ مخکې مريمې ته دا مشوره ورکړه:

«وَهُزِّي إِلَيْكِ بِجِذْعِ النَّخْلَةِ»

"د خورما د ونې تنه ځان ته کش کړه".

دا توصیه نه یوازې یو اعجازي امر و، بلکې یو طبي حقیقت هم و چې نن یې ساینس تایید کړی.

۲ .د تازه خوړو معجزه – رطب جنی

الله تعالی مریمې ته امر کوي چې:

«تُسَاقِطْ عَلَيْكِ رُطَبًا جَنِيًّا»

"تازه، پخې شوې خورماوې به درباندې راولویږي".

دا هغه وخت و چې د ښځې بدن وینه، انرژي، منرالونه او قوت ته شدید اړتیا لري .ساینس وایي چې رطب (تازه خورما) داسې یو مېوه ده چې:

د ګلوکوز ډېر لوړ مقدار لري، چې د زېږون پر مهال سمدلاسه انرژي بېرته راولي.

فایبر لري، چې د هاضمې نظام سموي.

پوتاشیم، مګنیشیم، اوسپنه، ویټامین B کمپلکس لري، چې د وینې جوړښت، عضلاتو، او اعصابو لپاره حیاتي دي.

اکسیټوسین ته ورته مواد لري، چې د رحم خوځښت تنظیموي او د وینې بهېدنه راکموي.

داسې خوړو ته نن ساینس دواړه لقبونه ورکوي :غذا او دوا .دا علمي حقیقت قرآن د یوې جملې سره واضح کړی.

۳ .د اوبو جریان – سرِیًّا

په ولادت کې د بدن اوبو ته شدیده اړتیا لري، ځکه چې خوله، خولې، او وینه ډېره ضایع کېږي .الله جل جلاله وایي:

«قَدْ جَعَلَ رَبُّكِ تَحْتَكِ سَرِيًّا»

"ستا رب ستا لاندې یو چین (وبهېدونکی اوبه) ایښی دی".

نن طب وایي، که یوه مور سمه مایعات ونه څښي، ممکن شاک ته ولاړه شي . دا هم یو ستر اعجاز دی.

پایله

قرآن نه یوازې د عیسی علیه السلام ولادت یو الهی معجزه بولي، بلکې دا پېښه د مور لپاره یوه فطري، طبّي، تغذیوي او روحاني اسانتیا ده، چې هره جمله یې نن ساینس تاییدوي .د خورما خوړل، د بدن کشول، د اوبو شربت، او د ارام تاکید – دا ټول هغه اصول دي چې نن ورځ یې د ولادت لپاره د جدیدو روغتونونو لارښودونه جوړ شوي دي – خو قرآن دا حقایق ۱۴ پېړۍ وړاندې بیان کړي وو.



## دا نړۍ د رحم په څېر ده

-او اخرت د اصلي ژوند تمثيل

قوله تعالى:

(وَمَا هَٰذِهِ ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَآ إِلَّا لَهْوٌ وَلَعِبٌ ۚ وَإِنَّ ٱلدَّارَ ٱلْءَاخِرَةَ لَهِىَ ٱلْحَيَوَانُ ۚ لَوْ كَانُوا۟ يَعْلَمُونَ)

[سورة العنكبوت :۶۴]

ژباړه:

"او دا دنيايي ژوند يواځې لوبه او ساعت تېرول دي، او بېشکه د آخرت کور هماغه ژوند دی، که هغوی پوهېدلی وای".

ساينسي-روحاني تأمل

د مور په رحم کې ماشوم ډېر داسې غړي، حواس او قابليتونه لري چې هلته ورته هېڅ ظاهري اړتيا نه ښکاري:

ماشوم سترګې لري، خو د رحم په تیاره کې هېڅ شی نه شي لیدلی.

خوله لري، خو نه پرې خبرې کولای شي، نه خواړه خوړلای شي.

لاسونه او پښې لري، خو محدود حرکتونه پرې کوي.

د تناسل غړي لري، خو هیڅ کار نه پرې شي.

حافظه لري، خو هیڅ یاد نه لري.

که چیرې د انسان ژوند یوازې د رحم تر نهه میاشتو محدود وای، نو دا ټول غړي بېفائدې ښکارېدل.

خو موږ پوهېږو چې ماشوم د رحم نه بهر ژوند ته روان دی .دا ټول غړي او طاقتونه د هغه بل ژوند لپاره جوړ شوي دي – یو ژوند چې ماشوم یې نه شي درک کولای، خو موږ یې پیژنو.

عیناً همداسې، دا دنیا هم زموږ لپاره د رحم حیثیت لري.

موږ هم داسې طاقتونه لرو چې پوره کار نه پرې اخیستل کیږي:

زموږ زړه د تلپاتې مینې او محبت غوښتونکی دی؛

زموږ روح ابدي سکون غواړي؛

زموږ حافظه کولای شي بې‌پایه معلومات وساتي؛

زموږ وجود غواړي چې د غم، ویرې، او مړینې نه پاک ژوند وکړي؛

موږ د داسې حکمت پسې تږې یو چې هېڅ حد ونه لري؛

زموږ روح غواړي له کامل صفاتو سره د الله وصل ترلاسه کړي – د رحمت، جمال، علم، عدل، عزت، بقاء، او نورو سره...

په دې فاني نړۍ کې دا غوښتنې نه شي پوره کېدای .نو دا ځان ښرګندوي چې موږ د ابدي ژوند لپاره جوړ شوي یو – د داسې ژوند لپاره چې هلته محدودیت نه وي، مړینه نه وي، غم نه وي، او وصال وي.

دا دنیا د رحم په څېر ده، او آخرت د انسان اصلي ژوند دی.




**د انساني بدن تر ټولو کږه پیښتۍ**

د انساني بدن په جوړښت کې د حواسو او عقل د پوهې لپاره ډېر حيرانوونکي نښې شتون لري، چې د قرآن او حديثو په رڼا کې يې مطالعه موږ ته د خدای د حکمت په ژوره پوهه ور رسوي .يو له دغو حيرانوونکو جوړښتونو څخه لومړۍ رېب (First rib) ده، چې د انساني بدن تر ټولو پورته رېب او تر ټولو کږه ګڼل کيږي.

۱ :ساينسي تحليل

لومړۍ رېب (First rib) چې تر ټولو پورته ده، تر ټولو کږه او عموماً تر ټولو لنډه د ټولو رېبونو څخه ده؛ دا پراخه او فليټه ده، مخونه يې پورته او ښکته ليدل کيږي، او څنډې يې دننه او بهر ته ځي.

لومړۍ رېب د انساني سينه د پاسنۍ برخې په جوړښت کې تر ټولو ځانګړې ده .دا رېب:

تر ټولو لنډه او کږه ده، د ټولو ۱۲ جوړه رېبونو په منځ کې.

د هغې سر (head) کوچنی او ګرد دی، او يوازې د لومړۍ سينه يي مهرې (T1 vertebra) سره وصل کيږي.

ګردن (neck) يې تنګ او ګرد دی، او ټيوبيرکل (tubercle) يې غټ، څرګند او د عضلاتو د نښلولو لپاره ځانګړی جوړښت لري.

پورته سطحه يې دوه کمې ژورې کټې (grooves) لري چې د وينې رګونو (subclavian vein)او (artery او د brachial plexus د وصل لپاره ځانګړې شوې دي.

د بدن لاندې سطحه نرمه او بې groove ده، او بهرنۍ څنډه يې محدب او غټه ده.

دا ټول جوړښتونه د انساني ژوند د بقا، د زړه د ساتنې او د سږو د خونديتوب لپاره ځانګړې رول لوبوي.

حواله:

https://en.wikipedia.org/wiki/Rib_cage

٢ :د صحيح بخاري په حديث کې راغلي:

له ابو حازم نه روايت دی چې ابو هريرة رضي الله عنه وويل :رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل :«له ښځو سره غوره چلن وکړئ، ځکه چې ښځه له کږې پښتۍ څخه پيدا کړای شوې ده، او په پښتۍ کې تر ټول کږه پښتۍ پورتنۍ ده، که وغواړې چې سمه يې کړې، نو هغه به ماته کړې او که په هغې حالت يې پرېږدې همېشه کږه ده، نو تاسو ته له ښځو سره په غوره چلن سپارښتنه کوم .

صحيح بخاري

دلته رسول الله صلی الله عليه وسلم د انساني بدن د جوړښت له علمي حقايقو په کار اخيستلو سره د ښځو د حقونو او اخلاقو لپاره لارښوونه کړې .د حديث په ژوره معنا کې:

کږه پښتۍ د ښځې د جوړښت استعاره ده چې انساني طبيعت کې يې علمي حقيقت لري.

پورته رېب(first rib) ، چې په انسان کې تر ټولو کږه ده، د همدې حديثي حقيقت سايښسي څرګندونه ده.

۳ :د علمي معجزې تفسير

لومړۍ رېب د انساني ژوند په جوړښت کې د حواسو د محدوديت نښه ده :که موږ يوازې سترګو ته وګورو، د دې رېب کوچنۍ او کږوالی کم ښکاري، خو دقيقې سايښسي مطالعې دا څرګندوي چې دا هډوکی د بدن د بقا لپاره کلک، ځانګړی او دقيق جوړښت لري.

لکه څنګه چې امام غزالي رحمه الله په خپلو اثارو کې يادونه کړې، زموږ سترګې او حواس يوازې ظاهري حقيقت څرګندوي، او د عقل او محاسبې په مرسته موږ د خدای د علم او حکمت د لورې پوهې ته رسيږو.



## د شيطان او د وينې جريان

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

«شيطان د انسان په بدن کې د وينې په څېر ګرځي.»

بخاری ۷۱۷۱

په دې کې د شيطان د وسوسو حرکت د انسان د وينې د جريان سره تشبيه شوی .لکه څنګه چې وينه په بدن کې حرکت کوي، هرې برخې ته رسيږي، همداسې شيطان د فکرونو او وسوسو له لارې د زړه او دماغ اړيکې اغيزمنوي.

۲ :ساينسي اړخ

وينه د انسان د بدن اصلي رسولو وسيله ده :دا اکسيجن، غذايی مواد، هورمونونه او نورو مهمو اجزاو ته د بدن ټولو برخو ته رسوي، او زړه د وينې د پمپ کولو او ټول بدن ته د رسولو وظيفه پر غاړه لري.

ساينس د اوږدې مودې لپاره باور درلود چې عقل يوازې د دماغ وظيفه ده، خو نوې څېړنې دا نظريه ننګوي .اوس ساينس پوهان مني چې زړه خپل عصبي شبکې (Neural Network) لري، چې ورته" زړه وچه مغز (Heart Brain)"وايي.

١ :د زړه خپل مستقل عصبي سيستم:

زړه ۴۰ زره عصبي حجرې (neurons) لري، چې دا ورته د دماغ په څېر د محدودې فيصلې کولو وړتيا ورکوي.

٢ :د زړه او دماغ اړيکه:

ساينس موندلې چې زړه يوازې د دماغ اطاعت نه کوي، بلکې معلومات دماغ ته هم لېږي .د زړه مقناطيسي ساحه د دماغ له ساحې ۵ زره ځله قوي ده، او زړه کولی شي چې دماغ ته د تصميم نيولو لپاره سيګنالونه واستوي.

دماغ د بدن د مرکزي کنترول مرکز دی :افکار، احساسات، تصميمونه، او وسوسې دلته رامنځته کيږي.

عصبي سيستم (nervous system) د دماغ او زړه ترمنځ پيغامونه ليږدوي :کله چې انسان فکر يا احساس کوي، نيورونونه سيګنالونه د زړه او نورو برخو ته رسوي.

٣ :حديث + ساينسي تشريح

په قرآن او حديث کې تشبيه :د شيطان حرکت د وينې د جريان په څير دی.

ساينسي حقيقت :فکرونه او وسوسې د دماغ له لارې د بدن نورو برخو ته رسيږي، په ځانګړې توګه زړه ته، چيرې چې احساسات او تصميمونه اغيزمن کيږي.

۴ :نتيجه

دا يوه ښکاره معجزه ده :۱۴۰۰ کاله وړاندې، پيغمبر صلی الله عليه وسلم د دې ظاهراً ساده تشبيه په وسيله، د انسان د بدن عصبي او رواني سيستم حرکتونه د خلکو لپاره په خورا سمه توګه بيان کړي، چې نن ورځ ساينس د دې حقيقت تاييد کوي.



د ښځينه خشراتو يادونه

ولې الله تعالی د شاتو مچۍ، د مږو، او د عنکبوت، او ماشي ښځينه يادې کړې او نارينه يې نه دي ياد کړي؟

او ولې د عنکبوت کور کمزوری( وهن ) یاد شوی؟

بسم الله الرحمن الرحيم

"وَأَوْحَى رَبُّكَ إِلَى النَّحْلِ أَنِ اتَّخِذِي مِنَ الْجِبَالِ بُيُوتًا وَمِنَ الشَّجَرِ وَمِمَّا يَعْرِشُونَ (۶۸ ) ثُمَّ كُلِي مِنْ كُلِّ الثَّمَرَاتِ فَاسْلُكِي سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلًا يَخْرُجُ مِنْ بُطُونِهَا شَرَابٌ مُخْتَلِفٌ أَلْوَانُهُ فِيهِ شِفَاءٌ لِلنَّاسِ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ( ۶۹")

سورت النحل، آیتونه ۶۸-۶۹

او ستا رب د شاتو مچیو ته په زړه کې واچوله چې په غرونو کې کورونه جوړ کړه او په ونو کې او په هغو ( ځایونو، چوپالونو) کې چې خلق یې لوړ جوړوي

بیا ته خوره له هر قسمه مېوو څخه، نو ته ځه د خپل رب په لارو باندې چې اسانې دي، د دوی له خېټو نه مشروب راوځي چې رنګونه یې مختلف دي، په ده کې د خلقو لپاره شفا ده، بېشکه په دې کې لویه نښه ده د هغه قوم لپاره چې ښه فکر کوي.

(النحل ۶۹-۶۸)

"حَتَّىٰٓ إِذَآ أَتَوۡاْ عَلَىٰ وَادِ ٱلنَّمۡلِ قَالَتۡ نَمۡلَةٞ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّمۡلُ ٱدۡخُلُواْ مَسَٰكِنَكُمۡ لَا يَحۡطِمَنَّكُمۡ سُلَيۡمَٰنُ وَجُنُودُهُۥ وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ"

سورت النمل، آیت ۱۸

تر هغه چې د مېږیانو وادئ ته راورسېدل، یوه مېږۍ وویل' :ای مېږیانو ! خپلو کورونو ته ننوځئ، هسې نه چې سلیمان او د هغه لښکر ( ناخبره ) تاسو تر پښو لاندې کړي"'.

"مَثَلُ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَوْلِيَآءَ كَمَثَلِ ٱلْعَنكَبُوتِ ٱتَّخَذَتْ بَيْتًا ۖ وَإِنَّ أَوْهَنَ ٱلْبُيُوتِ لَبَيْتُ ٱلْعَنكَبُوتِ ۖ لَوْ كَانُواْ يَعْلَمُونَ"

سورت العنکبوت، آیت ۴۱

ژباړه:

د هغو کسانو مثال چې د الله نه پرته یې دوستان نیولي دي، د عنکبوت د مثال په څېر دی چې کور جوړوي، او بېشکه تر ټولو نازک کور د عنکبوت کور دی، که هغوی پوهېدلی وای.

إِنَّ اللَّهَ لَا يَسْتَحْيِي أَنْ يَضْرِبَ مَثَلًا مَا بَعُوضَةً فَمَا فَوْقَهَا ۚ فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا فَيَعْلَمُونَ أَنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَبِّهِمْ ۖ وَأَمَّا الَّذِينَ كَفَرُوا فَيَقُولُونَ مَاذَا أَرَادَ اللَّهُ بِهَذَا مَثَلًا ۘ يُضِلُّ بِهِ كَثِيرًا وَيَهْدِي بِهِ كَثِيرًا ۚ وَمَا يُضِلُّ بِهِ إِلَّا الْفَاسِقِينَ

[البقرة26 :]

ترجمه:

بېشکه الله شرم نه محسوسوي چې مثال بیان کړي، که د یوه ماشي وي یا تر دې پورته څه .نو مؤمنان پوهېږي چې دا د دوی له رب څخه حق دی، خو کافران وایي" :الله په دې مثال څه اراده کړې؟ "په دې سره ډېر خلک ګمراه کېږي او ډېر هدایت مومي، خو یوازې فاسقان پرې ګمراه کېږي.

پوښتنه:

ولې الله تعالی د شاتو مچۍ ښځینه ( اتَّخِذِي، كُلِي، اسْلُكِي)، د مږې ښځینه( قالت نملة)، او د عنکبوت ښځینه( اتخذت )او د ماشو ښځینه یادې کړي، نه نارینه؟

ځواب:

شاوخوا ۱۴۰۰ کاله وړاندې داسې علم نه و چې د حشراتو سلوک وڅېړي، نه پوهان ول چې کوم حشره نارینه ده او کومه ښځینه، او نه یې د هر یوه وظیفه پېژندله.

خو حیرانوونکی دا ده چې قرآن کریم دقت سره همدا ښځینه ذکر کړې، کوم چې وروسته علم ثابت کړ چې دا ښځېنه وو.

۱ :مچیو کې ښځېنه:

ملکه مچۍ تر ټولو مهمه ده.

په یوه ورځ کې تر ۲۵۰۰ هګۍ اچوي.

دا ملکه کنټرول لري چې له القاح شویو هګیو نه ښځېنه، او له غیر القاح شویو نه نارینه پیدا شي.

شغاله مچۍ ( هم ښځینه ) د ټول کار مسؤلې دي :عسل جوړوي، هګۍ ساتي، او نارینه له کندو شړي یا وژني، څکه هغوی یواځې د القاح لپاره وي او وروسته مري.

مچۍ یواځې عسل نه جوړوي:

شمع

شاهي غذاء( غذاء الملكات)

زهر

مچۍ صمغ(propolis)

د ګل دوړې ( حبوب اللقاح)

او دا ټول په طب او درملنه کې کارېږي، آن تر ۵۰۰ ناروغیو پورې.

په یوه نوې څېړنه کې د زاګرب پوهنتون یوې ډلې وښودله چې دا محصولات د سرطاني حجرو پر وړاندې محافظت او درملنه کوي، معافیتي نظام تقویه کوي، او د اکسیجني آزادو رادیکالونو ضرر کموي.

۲ :د مړو ښځینه:

يواځې يوه مړه ملکه القاح کېږي.

نورې ښځېنه ( کارګرانې )ټول کار کوي :خواړه، دفاع، تربيه.

نارينه يواځې د القاح لپاره وي، او ژر مري.

۳ :د عنکبوت ښځېنه:

يواځې ښځينه کور جوړوي.

نارينه هيڅ کور نه جوړوي.

ښځينه د مقاربت وروسته نارينه وژني.

بچيان هم د مور او يو بل وژنه کوي.

ښځينه د نورو حشراتو لپاره دام جوړوي، او هر څوک چې راشي وژني او خوري.

دا کور:

ظاهراً تارونه قوي دي (biological steel) ، خو معنوي لحاظه ډېر کمزورى دى.

هيڅ مينه، رحم، بقا، او ترحم پکې نه وي.

يواځې د وژنې، سازش، توطئې، او غدر پر بنسټ ولاړ وي.

د" وهن "يا کمزورى مطلب څه دى؟

الله فرمايي:

"وَإِنَّ أَوْهَنَ الْبُيُوتِ لَبَيْتُ الْعَنكَبُوتِ ۖ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ"

د کمزورى معنا دلته فزيکي نه، بلکې معنوي ده.

تارونه قوي دي، حتى له فولادو پياوړي، ساينس دا ثابته کړې.

خو کور د مينې، وفادارى، رحم او بقاء څخه تش دى.

سړى، ښځه وژني، بچيان يو بل وژني، کور د فتنې، سازش او مرګ ځاى دى.

نو دا کور:

کمزورې دی ځکه چې اساس يې ظلم، وژنه، خيانت او فساد دی.

لکه څنګه چې خلک د الله پر ځای نورو ته پناه وړي، دوی هم د داسې کمزوري کوره پناه اخلي.

آيتونه او فتنې:

سورت العنکبوت د فتنې يادونه کوي:

"أَحَسِبَ ٱلنَّاسُ أَن يُتْرَكُوٓا۟ أَن يَقُولُوٓا۟ ءَامَنَّا وَهُمْ لَا يُفْتَنُونَ"

د عنکبوت تارونه لکه فتنې دي، يو پر بل تاو، پيچلي، مګر کمزوري.

که څوک الله ته پناه يوسي، نو له ټولو فتنونو خلاصېږي.

خو که غير الله ته ولاړ شي، نو داسې کور ته يې پناه وړې چې وهن يې حتمي دی.

۴ :د ښځينه ماشي

ښځينه ماشي وينه زبېښي :يوازې ښځينه ماشي د وينې تغذيه کوي، نارينه يې د بوټو شربت څښي.

په سر کې يې ۱۰۰ سترګې لري :دا سترګې د مايکروسکوپي لينزونو په بڼه جوړې دي.

په خوله کې ۴۸ غاښونه لري :دا غاښونه د پوستکي پرې کولو لپاره ځانګړي دي.

۳ مستقل زړونه لري :د بدن د بېلابېلو برخو لپاره جلا سيستم لري.

د پوزې ۶ چاقوان لري :دا چاقوان پوستکی پرې کوي، وينه راوباسي، او نور ځانګړي کارونه ترسره کوي.

د هرې وزرې درې برخې لري :د ماشي پرواز يو ډېر پيچلی سستم لري، چې ساينسپوهان يې تر اوسه حيران کړي دي.

د ايکس‌ری ماشين لري :دا وسيله د بنفشي رڼا له لارې د انسان پوستکی تشخيصوي، تر څو مناسب ځای ومومي.

يو ډول طبيعي بې‌حسه کوونکی لري :ترڅو انسان درد احساس نکړي او وينه آرامه راوباسي.

د وينې ازمايښت کوي :مچ ټولې وينې نه خوښوي، بلکې يوازې ځانګړې وينې انتخابوي.

د وينې جريان ګړندی کوي :ترڅو په لږ وخت کې زياته وينه جذب کړي.

پايله:

قرآن کريم ښځينه يادې کړې ځکه کار، مسؤليت او د کور جوړونه د دوی ده.

نارینه په دغو مخلوقاتو کې وظیفه نه لري یا ژر مري.

د عنکبوت کور نه یوازې یو کمزوری کور دی، بلکې دا د فتنې، وژنې او بې رحمۍ سمبول هم دی.

اللهم جنبنا الفتن ما ظهر منها وما بطن




## د قرآن کریم او د اسلام ضد تعصب

د قرآن کریم آیت:49:13

»يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّا خَلَقْنٰكُمْ مِّنْ ذَكَرٍ وَّاُ وَجَعَلْنٰكُمْ شُعُوْبًا وَّقَبَآىِٕلَ لِتَعَارَفُوْا ۚ ـــاِنَّ اَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللّٰهِ اَتْقٰىكُمْ ؕ ـــاِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ خَبِيْرٌ ۝

49-13ای خلقو !بېشکه مونږ تاسو له یوه سړي او له یوې ښځې پیدا کړي یئ او مونږ تاسو څانګې او قبیلې ګرځولي يئ، د دې لپاره چې تاسو یو بل سره

وپېژنئ، بېشکه د الله په نیز په تاسو کې ډېر عزتمن، ستاسو زیات پرهېزګار دی، بېشکه الله ښه پوه، ښه خبردار دی.

اسلام او د تعصب ردول:

اسلام د خپل ټولیز مفهوم سره د ټولو انسانانو تر منځ د ورونه توب ټینګار کوي او د ټولو مصنوعي او انسان جوړ شویو تمیزاتو نه منل ردوي .د قرآن کریم دغه آیت موږ ته ښیي چې د انسانانو ترمنځ د توپیرونو لامل نه باید جنسیت، رنګ، ژبه یا مال وي، بلکې یوازې تقوا او نېک عمل باید هغه معیار وي چې له مخې انسان د الله ج د نزدې والي تر لاسه کوي.

د تعصب تعریف:

تعصب هغه باور دی چې یوه ځانګړې قوم، نژاد یا ګروپ د بل په پرتله لوړ یا ټیټ دی؛ دا چې د انسان ټولنیز او اخلاقي ځانګړتیاوې د هغه د زیږونیو بیولوژیکي ځانګړتیاو له مخې ټاکل کیږي .تعصب هغه باور دی چې بیلابیل قومونه باید جلا او بېل پاتې شي .په اسلام کې دا ډول خیالات او چلند رد شوی دی.

د تعصب پر ضد د قرآن پیغام:

د قرآن کریم آیت 49:13 او د نبوي حدیثونه په واضحه توګه د ټولو انسانانو لپاره د یووالي او همغږۍ پیغام ورکوي، او ټول انسانیت ته په ښکاره توګه یادونه کوي چې د انسانانو تر منځ د توپیرونو اصلي لامل نه باید نژادي او یا کوم بل مصنوعي معیار وي .اسلام د انسانیت پر لوړ ارزښت ټینګار کوي او دا په آخرین خطبه کې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم لخوا هم څرګند شوي چې له لارې یې د ټولې بشریت لپاره د مساوات او ورورګلوۍ پیغام ورکړل شو:

«ټول انسانان د آدم او حوا څخه دي .یو عرب د غیر عرب پر وړاندې هیڅ برترۍ نه لري او نه غیر عرب د عرب پر وړاندې .سپین پوست د تور پوست

پر وړاندې هیڅ برتری نه لري او نه تور پوست د سپین پوست پر وړاندې، پرته له تقوا او نېک عمل.»

اسلام او د نژادي برترۍ ردول:

اسلام د هر ډول نژادي برترۍ په وړاندې یو قوي رد دی، او ټول انسانان د الله ج په وړاندې یو ډول حیثیت لري، یوازې تقوا او نېک عمل هغه څه دي چې د یو انسان په مقام او ارزښت اغېزه کوي .اسلام د نژادي توپیرونو پر ځای د انسانیت پر ګډو ارزښتونو تمرکز کوي.



## د قرآن کریم د خلقت د معجزو په اړه غور:

آیت:32:7

«هغه چې هر څه چې یې پیدا کړي، هغه یې ښایسته کړي دي؛ او د انسان د خلقت پیل یې له ختو نه وکړ.»

دا آیت د الله تعالی د بې مثاله قدرت، پوهې او حکمت یوه نښه ده .هغه څیزونه چې الله تعالی پیدا کړي دي، نه یوازې دا چې د ژوند لپاره اړین دي، بلکې د ښکلا، دقت، او ترتیبو سره هم جوړ شوي دي .د انسان خلقت، چې له ختو څخه پیل شو، د الله تعالی د کامل حکمت او ځواک څرګندونه ده.

د کایناتو او د نړۍ نظام:

هره کلیه باید خپل مشر ولري؛ هره تیزه څنډه باید خپله جوړه کوونکی او لاسي کارګر ولري .او لکه څنګه چې تاسې پوهیږئ، هره لیکه باید یو لیکونکی ولري .څنګه ممکنه ده چې داسې یو منظم او دقیق کاینات چې ټول یې د یوه ځانګړي طریقه پر بنسټ جوړ شوي، هیڅ حاکم ونلري؟ د کایناتو هره برخه د ځانګړې حکمت او ټاکلي ترتیب لاندې کار کوي .که موږ د یوې ښه جوړ شوې ماشین ته نظر وکړو، نو ډاډه یم چې د هغه جوړونکي وجود باید یو مهم حقیقت وي.

د الله تعالی بې حده قدرت:

د کایناتو جوړښت یوازې د یوه خالق (الله) له لوري ممکن دی چې د هر شی جوړولو لپاره بې نهایت قدرت لري .کله چې د نړۍ پر مخ هره پسرلی د بیا ژوند کولو یوه ننداره وي، څنګه د جنت جوړول چې الله تعالی د بې نهایت قدرت څښتن دی، یوه ستونزه شي؟ د الله تعالی د قدرت نښې، چې هر پسرلی د مرګ وروسته د ژوند بیا راګرځونه ښيي، د بیا ژوندي کولو لویه معجزه په توګه شته.

د کایناتو د پیچلتیا او د الله د ځواک نښې :د کاینات هره برخه، له لویو ستورو څخه تر کوچنیو ذراتو پورې، د الله تعالی د حکمت او ځواک یوه څرګنده نښه ده .د الله تعالی بشپړ قدرت د دې لامل شوی چې د نړۍ هره برخه په خپل ځای کې له یوه دقیق ترتیب سره ودرېږي، لکه څنګه چې د یو لوی، بې عیبې ماشین ټولې برخې په ټاکلي ډول سره کار کوي.

الله تعالی د انسانانو، ځارویو، غرونو، سمندرونو، او سیارو خالق دی:

الله تعالی نه یوازې انسانان او ځمکه، بلکې ټول کاینات، د سیارو، سمندرونو، او د ځمکې د غرونو څخه نیولې تر سپوږمۍ، ستورونو او نورو اجرامو پورې، ټول د هغه د قدرت له لوري جوړ شوي دي .د کایناتو دا بې شمېره جزئیات او پیچلتیاوې، او د دې ټولو د دقیق او حکمت ډیزاین نښې د دې څرګندویي کوي چې ټول کاینات د یوې لویې حکمت او ځواک لاندې کار کوي، چې هغه خالق یوازې الله تعالی دی.

پایلې :له دې ټولو څخه دا څرګندیږي چې د کایناتو ترتیب او د ژوند د ټولو موجوداتو جوړښت یوازې د الله تعالی بې شمېره حکمت او قدرت ته منسوب دی .د انسان جوړول، د ځمکې او سمندرونو جوړښت، او د بیا ژوندانه نندارې د الله تعالی د لوی او بې مثاله قدرت یوه ښکاره نښه ده.



## د شکار کوونکو مرغانو (Raptors) په اړه

آیت:22:31

"حُنَفَآءَ لِلّٰهِ غَيْرَ مُشْرِكِيْنَ بِهٖ ؕ وَمَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَكَاَنَّمَا خَرَّ مِنَ السَّمَآءِ فَتَخْطَفُهُ الطَّيْرُ اَوْ تَهْوِىْ بِهِ الرِّيْحُ فِىْ مَكَانٍ سَحِيْقٍ ۝

22-31په داسې حال کې چې الله ته په اخلاص سره غاړه ایښودونکي یئ، له ده سره شریك جوړونكي نه یئ، او هر څوك چې له الله سره شریك ونیسي، نو ګویاكې هغه له اسمان نه راوغورځېده، نو مرغان یې وتښتوي، یا یې هوا (باد) له اوچت ځای نه لرې په ژور ځای کې وغورځوي

د ر aptorsمرغانو شکار کول:

آیت شریف د دې حقیقت څرګندونه کوي چې مرغان چې په منځ هوا کې خپل شکار اخلي، د هغوی ځانګړې طریقه د هغوی د پښو سره ده .کله چې دې آیت ته ځیر شو، دا یې واضح کوي چې مرغان چې انسانان یا شیان په هوا کې اخلي، د هغوی پاخه پښې کاروي نه چې د بل ګوتو یا منقار .دا هغه څه دي چې ساینسي څېړنو وروسته تایید شوې دي، چې "raptors" یا د پوستکي خوړونکي مرغان، خپل شکار د پښو سره نیسي.

د raptors ځانګړتیاوې:

د "raptors" یا د پوستکي خوړونکي مرغانو ځانګړتیاوې له ځینې نورو مرغانو سره توپیر لري .دوی پیاوړي پښې او ټنګ تور پښې لري چې د شکار نیولو او وژلو لپاره غوره شوې دي .همدارنګه، د دوی سترګې د خورا قوي لید سره سمبالې دي ترڅو په اوږده واټن کې خپل ښکار پېژني، او د دوی پیاوړي پزې د ښکار غوښه ټوټه کولو لپاره دي.

د قرآن کریم پیغام:

په قرآن کریم کې ذکر شوی چې" مرغان "په هوا کې یو شی اخلي .که مرغان شکار په هوا کې اخلي  دا څرګندوي چې دوی د پښو په مرسته شکار نیسي، نه د بلوس یا منقار .دا حقیقت چې د raptors مرغان د پښو په مرسته خپل ښکار نیسي، ۱۴۰۰ کاله مخکې په قرآن کې ذکر شوی و، چې نن ورځ ساینسي څېړنو تایید کړی دی.

ساینس او قرآن:

د "raptors" مرغانو د شکار کولو ځانګړې طریقه، چې د پښو سره یې خپل شکار نیسي، د قرآن کریم یوې کلمې سره مطابقت لري .د دې تفصیل په توګه، قرآن د ۱۴۰۰ کلونو مخکې په خورا دقیق ډول دا بیان کړی و چې مرغان خپل ښکار د پښو په مرسته نیسي، او دا حقیقت یوازې وروسته د ساینس له لارې کشف شو.

نتیجه:

د قرآن کريم دا معجزه چې د مرغانو د شکار کولو طريقه يې مخکې له دې چې ساينس يې کشف کړي، د دې حقيقت د بې مثاله او غيب پوهې نښه ده .الله تعالی دا ټولې معلومات د خپل حکمت سره ځرګند کړي، او د دې ټکي ته پام کول د قرآن د ساينسي اعجاز يو بله ځرګنده نښه ده.



**د باغونو روغتيايي ګټې** :د ذهني فشار کمول

آيت:27:60

"اَمَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَاَنْزَلَ لَكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ مَآءً ۚ فَاَنْۢبَتْنَا بِهٖ حَدَآىِٕقَ ذَاتَ بَهْجَةٍ ۚ مَا كَانَ لَكُمْ اَنْ تُنْۢبِتُوْا شَجَرَهَا ؕ ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ؕ بَلْ هُمْ قَوْمٌ يَّعْدِلُوْنَ ؕ

27-60بلکې هغه ذات (بهتر دی) چې اسمانونه او ځمکه يې پيدا کړې دي او تاسو لپاره يې له بره نه اوبه نازلې کړې دي، نو هم مونږ په هغو سره د رونق (او ښايست) والا باغونه زرغون کړل، تاسو لپاره دا طاقت نشته چې تاسو د هغو (باغونو) ونې زرغونې کړئ، ايا له الله سره بل معبود شته؟ بلکې دوی يو داسې قوم دی چې (له الله سره د نورو) برابري کوي

باغونه :د ذهني فشار کمولو طبيعي درمل:

د قرآن په دې آيت کې اشاره شوې چې باغونه د خوښۍ او لذت سرچينه دي . نن ورځ، ساينس پوهان د باغباني په اړه وايي چې دا نه يوازې د خوښۍ سرچينه ده، بلکه د ذهني فشار او خپګان کمولو لپاره هم ګټوره ده .د "Gardening is beneficial for health: A meta-analysis"په يوه مطالعه کې، د باغباني مختلفې ګټې لکه د ژوند رضايت، رواني هوساينه، او د فشار، غصې، سټرېيا او خپګان کمول تاييد شوي دي.

د باغباني روغتيايي ګټې:

د باغباني فعاليتونه د ذهني روغتيا لپاره يوه غوره او ګټوره وسيله ګرځيدلې .د حوزې کاروونې لکه "horticultural therapy" په توګه، دا د ذهني فشار کمولو او د خلکو لپاره چې رواني ستونزې لري، طبيعي درملنه وړاندې کوي . مختلفې څېړنې ښيي چې باغباني سره اړيکه انسان ته خوشحالي او رواني هوساينه ورکوي، او دا د اضطراب، خپګان، او نورو رواني ناروغيو لپاره درملنه ګڼل کيږي.

د قرآن کريم معجزه:

قرآن کريم ۱۴۰۰ کاله مخکې د باغونو خوښۍ او لذت ته اشاره کړې، او نن ورځ ساينس هم د باغونو د رواني روغتيا لپاره ګټې تاييدوي .دا د الله تعالی د حکمت او علم نښه ده چې د دې طبيعي ګټو په اړه معلومات مخکې له دې چې ساينس پوهان يې کشف کړي، قرآن کې وړاندې شوي.

نتيجه:

د باغونو د خوښۍ او لذت په اړه د قرآن کريم څرګندونې، چې د رواني فشار کمولو لپاره طبيعي وسيله ګڼل کيږي، د الله تعالی له علم او حکمت څخه يوه نښه ده .نن ورځ ساينس پوهان د باغباني په اړه هغه ګټې تاييدوي چې قرآن کريم يې له ۱۴۰۰ کاله مخکې ذکر کړې وې.



## ښځینه عنکبوت

د قرآن کریم علمي اعجاز

قرآن کریم د الهي وحی ستر کتاب دی چې د نړۍ د حقیقتونو ډېر ژور او دقیق ابعاد یې افشا کړي دي .له دغو بې سارو اعجازونو څخه یو د" ښځینه عنکبوت "(مانږوکي) په اړه بیان دی، چې په سورة عنکبوت (۴۱:۲۹) کې داسې فرمايي:

**(مَثَلُ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُوا۟ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَوْلِيَآءَ كَمَثَلِ ٱلْعَنكَبُوتِ ٱتَّخَذَتْ بَيْتًا ۖ وَإِنَّ أَوْهَنَ ٱلْبُيُوتِ لَبَيْتُ ٱلْعَنكَبُوتِ ۖ لَوْ كَانُوا۟ يَعْلَمُونَ)

(سورة العنكبوت :۴۱،

ژباړه:

"د هغو کسانو بېلګه چې د الله پرته بل دوستان نیسي، د عنکبوت بېلګه ده چې ځان ته کور جوړوي، او بېشکه د ټولو کورو څخه کمزوری کور د عنکبوت کور دی، که چېرې هغوی پوهېدلی".

په دې آیت کې د عنکبوت (مانوکي) د کور جوړولو عمل د مؤنث فعل "اتخذت "په وسیله بیان شوی دی .د عربي ژبې د قواعدو له مخې، کله چې فعل مؤنث وي، دا څرګندوي چې فاعل هم مؤنث دی .نو، قرآن کریم واضحه کوي چې دا د ښځینه عنکبوت کار دی چې جال جوړوي.

علمي حقیقت:

دا چې قرآن کریم ښځینه عنکبوت د جال جوړولو مسؤله معرفي کړې ده، یو حیرانوونکی علمي حقیقت دی .د عصري بیولوژي له مخې، تقریباً په ټولو عنکبوتي نوعو کې د جال جوړولو مسؤلیت د ښځینه عنکبوت پر غاړه وي . نر عنکبوت ډېر کم جال جوړوي، او عموماً یوازې د جفت اخیستلو یا کوچنیو اړتیاوو لپاره وریښم کاروي.

دا واقعیت د قرآن د نزول له وخته زرګونه کاله وروسته ساینس پوهانو ته روښانه شو، حال دا چې په اوومه پېړۍ کې انساني پوهه د دغسې دقیقو تفصیلاتو څخه بې خبره وه .نو دا علمي سمون، د قرآن د الهي وحی والي یو ښکلی سند دی.

د استعارې ژور مفهوم:

قرآن کریم د عنکبوت د جال بېلګه داسې بیانوي چې دا تر ټولو کمزوری کور دی .که څه هم د عنکبوت جال ظاهراً ښایسته او منظم ښکاري، خو په حقیقت کې بې حده نازک او بې ثباته دی .همداسې، هغه څوک چې د الله پرته نورو ته تکیه کوي، ظاهري ښکلا لري خو بنسټ یې ډېر کمزوری دی.

د ښځینه عنکبوت یادونه د دې مثال د بشپړتیا لپاره ډېر مهم ده، ځکه دا ښځینه عنکبوت ده چې دغه بې ثباته کور جوړوي؛ لکه څرنګه چې انسانان هم کله ناکله د بېاساسه تکیو کورونه جوړوي چې د کمزورتیا پایله لري.

ژبنی اعجاز:

د عربي ژبې د لطافت له مخې، کله کله مؤنث صیغه د نوع لپاره کارول کېږي، خو دلته د نوم (عنکبوت) او فعل (اتخذت) دواړو مؤنث استعمال، دا څرګندوي چې مقصود ځانګړی ښځینه عنکبوت دی، نه عمومي نوع.

دا د قرآن ژبنی دقیقوالي بله بېلګه ده، چې د کلماتو د انتخاب، ترکیب، او د حقایقو د بیان په برخه کې یې بې سارې اعجاز څرګند شوی دی.

---

پایله:

د ښځینه عنکبوت یادونه په قرآن کریم کې، نه یوازې د علمي حقیقت بشپړه څرګندونه ده، بلکې د انساني فکري هدایت لپاره یوه ژوره استعاره هم ده .دا

حقیقت، چې قرآن په داسې یوه تفصیل اشاره کړې، چې د نزول په وخت کې چا ته معلوم نه و، د قرآن کریم د الهی وحی تله لا نوره هم درنه کوي.

سبحان الله!

قرآن حق دی، او دا د الله ج کلام دی، چې هره خبره یې د علم، حکمت، او حقیقت پوره ترجماني کوي.




## د باد او وریځو موقیعت

د ځمکې او اسمان ترمنځ د قرآن معجزاتی حقیقت

الله سبحانه وتعالی په قرآنکریم کې فرمایي:

"په رښتیا سره د آسمانونو او ځمکې په پیدا کولو، د شپې او ورځې په بدلېدلو، په هغه کښتیو کې چې پر سمندر کې د خلکو د ګټې لپاره رواني وی، او په اوبو کې چې الله له آسمان نه کښته کړي، نو پرې یې ځمکه له مرګ وروسته ژوندي کړې، او په هر ډول خوځنده کې چې په ځمکه کې یې خپاره کړي، او

د بادونو په لېږلو، او د اسمان او ځمکې ترمنځ د ورسپارل شوې وريځې په تابع ګرځولو کې، خامخا د عقل لرونکو قوم لپاره نښې دي".

(البقرة :١٦٤)

علمي تحليل:

بادونه او وريځې واقعاً د ځمکې او آسمان ترمنځ په يو ځانګړي طبقه کې حرکت کوي، چې دا طبقه اتموسفير بلل کېږي.

اتموسفير د ځمکې هغه نازک غلاف دی چې له ګڼو طبقو جوړ دی لکه ټروپوسفير، سټراټوسفير، ميسوسفير، او نور.

د باد حرکت او د وريځو شکلونه اصلاً د اتموسفير د داخلي تودوخې توپيرونو، فشار او د ځمکې د دوران له امله منځ ته راځي.

د وريځو طبعي حدونه همدومره دي چې د ځمکې له سطحې نه تر ١٢ کيلومترو پورې محدود دي (په ټروپوسفير کې) .ورپسې طبقات کې نور ډول ډول هوايي پديدې واقع کېږي.

د قرآن اعجاز:

په ١۴٠٠ کاله پخوا د داسې حقيقت بيانول، چې بادونه او وريځې يوازې د ځمکې او آسمان ترمنځ، يعنې په اتموسفير کې کنټرول دي، يو داسې حقيقت دی چې انسانان يې يوازې د معاصر ساينس په مرسته درک کولی شول.

نو قرآن د" آسمان "او" ځمکې "ترمنځ د بادونو او وريځو حرکت ته اشاره کړې، نه د پراخې کهکشاني فضا ته، کومه چې بيرته د معاصر علم له موندنو سره سمون لري.

اتموسفير نه يوازې د ژوند د بقاء ضامن دی، بلکې د بادونو او وريځو د حرکت مسؤل هم دی — لکه څنګه چې قرآن کريم پخوا دا حقيقت څرګند کړی و.

نتيجه:

دا معجزه نه یوازې د قرآن کریم حقانیت ښکاره کوي، بلکې د الله تعالی علم مطلق او زموږ د عقل محدودیت راپه ګوته کوي .څوک چې عقل کاروي، هغوی ته دا ښکاره ښې دي چې قرآن د رب العالمین له لوري دی.



**د بادونو د باروری ځانګړتیاوې**

آیت" :15:22 وَاَرۡسَلۡنَا الرِّیٰحَ لَوَاقِحَ فَاَنۡزَلۡنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَسۡقَیۡنٰکُمُوۡهُ ۚ وَمَاۤ اَنۡتُمۡ لَهٗ بِخٰزِنِیۡنَ ۝

15-22او مونږ هواګانې لیږلې دي، چې بلاربوونکې دي، پس مونږ له بره اوبه نازلې کړې، نو مونږ هغه په تاسو وڅښولې او تاسو دغو (اوبو) لره خزانه کوونکي نه یئ

بادونه او د ژوند لپاره د باروری عمل:

په دې آیت کې د بادونو د باروری او د باران د تولید په اړه ذکر شوی دی .نن ورځ ساینس پوهان دا تاییدوي چې بادونه د نباتاتو د تولید لپاره اساسي رول

لوبوي .بادونه د نباتاتو د توليدي اجزاوو لکه د پولن کوچني ذرات انتقالوي . دغه ذرات د بادونو په مرسته د باران د وريښمو سره يوځای کيږي، چې په دې سره د ژوند لپاره اړين باران توليديږي.

د بادونو د باروری ساينسي وضاحت:

د څېړنو له مخې، بادونه د اوبو بخار د کثافت او د ذراتو له لارې د وريځو جوړولو لپاره اساسي عنصر دي .دا ذرات د اوبو بخار سره يوځای کيږي او وريځې جوړوي .که دا ذرات نه وای، نو ٪۱۰۰ اوبو بخار نه شي کولی چې وريځې جوړې کړي .دغه عمل په دې معنی دی چې بادونه د وريځو جوړولو، د باران د هطولو او د ځمکې د ژوند لپاره لازمي دي.

د بادونو نورې مهمې دندې:

بادونه نه يوازې وريځې جوړوي، بلکې دوی د باران او د ژوند لپاره اړين اوبو د خپراوي لپاره هم عمل کوي .که بادونه نه وای، نو وريځې به نه جوړې شوې وې او باران به هم نه وريږي .له دې امله، په قرآن کريم کې د بادونو د باروری د ځانګړتياوو ذکر، د الله تعالی د کمال او حکمت نښه ده.

نتيجه:

د قرآن کريم په دې آيت کې د بادونو د باروری د ځانګړتياوو ذکر، چې د نباتاتو د توليد، د وريځو جوړولو او د ژوند لپاره اړين باران راوړلو په لړ کې اساسي رول لري، د الله تعالی د حکمت يوه بې ساری نښه ده .نن ورځ ساينس پوهان د دې پروسې د ساينسي څرنګوالي په اړه پوهه ترلاسه کړې، خو دا ټول معلومات قرآن کريم له ۱۴۰۰ کاله وړاندې څرګند کړي وو.



## سجیّل (پومیس) ډبرې

آیتونه :سورۀ الفیل، آیت ۳-۴

(وَأَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْرًا أَبَابِيلَ)

(تَرْمِيهِمْ بِحِجَارَةٍ مِّن سِجِّيلٍ)

ژباړه:

"او (الله) پرې واستول مرغان په ډلو،

دوی به پرې غورځول ډبرې له سجیله".

(سورة الفیل :۳–۴)

ساینسي اعجاز :پومیس – تر ټولو سپکه ډبره په ځمکه کې

علمي موندنې:

پومیس (pumice) یوه داسې آتش فشاني ډبره ده چې ډېرې کوچنۍ سوریې لري او دومره سپکه ده چې حتی پر اوبو هم شنا کولی شي .دا ډبره د آتشفشان له تاوېدونکو موادو څخه جوړېږي، چې د لوړ فشار او حرارت له امله ناڅاپه

هوا ته راووتي وي .د دې جوړښت له امله، پومیس یوازینۍ طبیعي ډبره ده چې په اوبو نه ډوبیږي.

ویکيپیډیا" :پومیس د ځمکې تر ټولو لږ کثافت لرونکې ډبره ده، او پر اوبو شنا کوي".

قرآني اعجاز:

۱۴۰۰ کاله وړاندې، څوک نه پوهېدل چې پومیس څه شی دی او یا دا چې دا ډبره دومره سپکه ده .خو قرآن کریم دا حقایق داسې بیان کړي چې د هغې د سپک والي او د مرغیو لخوا د لېږد وړتیا ته اشاره کوي .شککوونکي به ویل چې مرغان نشي کولای ډبرې پورته کړي، خو نن ورځ علم دا ثابتوي چې سجیّل (پومیس) هغه ډبره ده چې مرغان کولی شي وړې ټوټې یې زرګونه متره انتقال کړي.

"سِجِّيلٍ "توری له لغوي اړخه:

سجیّل یو عجیب ترکیب دی، چې ځینې مفسرین یې د" سجّ "(کلک) او" طین " (خټه) نه اخیستل شوی ګڼي – یعنې پخه شوې خټه، چې د آتشفشاني ډبرې سره ورته والی لري .دا توری همداراز په سورة الحجر، آیت ۷۴ کې هم راغلی، چیرې چې پر لوط علیه السلام قوم د آسمان نه د اورین طوفان ډبرې وورېدې، چې احتمالاً پومیس ډبرې وې.

نتیجه:

د قرآن کریم بیان دا ښیي چې دغه" سجیّل "ډبرې د مرغانو لخوا غورځول کېدې – داسې یو حقیقت چې تر ډېره وروسته ساینس ثابت کړ چې پومیس د نړۍ تر ټولو سپکه ډبره ده، له همدې امله د مرغیو د انتقال وړ ده .دا یو له هغو قرآني اعجازونو څخه دی چې د الله ج حکمت او علمي معجزه پیاوړې څرګندوي.



## د انټي اکسډنټ خاصیتونه د انار او تمره ګانو ګټې

آیت:55:66-68

"فِيْهِمَا عَيْنٰنِ نَضَّاخَتٰنِ ۚ۝

55-66په دغو دواړو کې دوه جوش وهونکې چینې دي

فَبِاَىِّ اٰلَاۤءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ۚ۝

55-67نو تاسو د خپل رب په نعمتونو کې د کوم یوه تکذیب کوئ

فِيْهِمَا فَاكِهَةٌ وَّنَخْلٌ وَّرُمَّانٌ ۚ۝

55-68په دغو دواړو کې مېوې او کجورې او انار دي

د انار او تمره ګانو انټي اکسډنټ خاصیتونه:

۱۴۰۰ کاله مخکې، هيڅوک نه پوهيدل چې انار او تمرې کوم ځانګړي ګټې لري .خو نن ورځ ساينس پوهان تاييدوي چې دا دواړه مېوې انټي اکسډنټونه لري چې د زړه د حملو مخنيوى کوي.

د ساينس يوه مطالعه چې د "Pomegranate-date combo helps prevent heart attacks" تر سرليک لاندې خپره شوې ده، ښيي چې د انار او تمرې مصرف د زړه د حملو د مخنيوي سره مرسته کوي .دا مطالعه وايي چې د انار او تمرې ترکيب کولى شي په زړه کې د غوړيو حجرو د راټولېدو مخه ونيسي چې د زړه حمله يا د مغزو سټروک لامل ګرځي .د انار او تمرې ترکيب په علمي توګه ښيي چې دا انټي اکسډنټونه د وينې شريانونو ته د غوړيو د ډکيدو او د زړه د خطر کموالي کې مرسته کوي.

د انار او تمرې انټي اکسډنټونه:

انار او تمرې د قوي انټي اکسډنټونو سرچينې دي .انټي اکسډنټونه هغه مواد دي چې د بدن د زيان رسوونکو راډيکالونو سره مبارزه کوي او د مختلفو ناروغيو، په ځانګړې توګه د زړه ناروغيو مخنيوي کې مرسته کوي .په دې توګه، د انار او تمرې ګټې د قرآن په دې آيت کې مخکې له دې چې ساينس يې تاييد کړي، څرګندې شوې وې.

د قرآن کريم معجزه:

د قرآن کريم کې د انار او تمرې د غوره مېوو په توګه ذکر چې په جنت کې به شتون ولري، د دې حقيقت تاييد دى چې د دغو مېوو انټي اکسډنټي ځانګړتياوې د الله تعالى لخوا وړاندې شوي، کوم چې نن ورځ د ساينسي څېړنو له لارې کشف شوي دي.

نتيجه:

د انار او تمرې په اړه دا ساينسي پوهه چې دوى د زړه د ناروغيو مخنيوي کې مرسته کوي، د قرآن د معجزې يو ځل بيا تاييد دى .دا د الله تعالى د علم او حکمت يوه نښه ده چې په قرآن کې وړاندې شوې معلومات ۱۴۰۰ کاله مخکې هغه وخت کې معلوم نه وو.




## د ځمکې درزونه(Fault Lines)

آیت شریف :سورة الطارق – آیت ۱۲

(وَٱلْأَرْضِ ذَاتِ ٱلصَّدْعِ)

ژباړه:

"او قسم دی په ځمکه چې درزونه لري"

(الطارق :۱۲

ساینسي اعجاز :د ځمکې درزونه یاFault Lines

علمي وضاحت:

په عصري جیولوجي کې "fault lines" هغه درزونه دي چې د ځمکې د قشر د خوځښت له امله منځ ته راځي .دا درزونه د تکتونیکي تختو ترمنځ د ټکر یا خوځښت پایله ده، او ډېر زلزلط هم له همدې سیمو څخه راپیدا کیږي.

تاریخي حقیقت:

تر دویم نړیوال جنګ وروسته، ساینسپوهانو د سمندر لاندې سیمو څېړنه پیل کړه، ترڅو معدني زیرمې ومومي .هغوی حیران شول چې د سمندر تلونه له

پراخو درزونو او ترکونو (faults) څخه ډک دي .دا کشف د "Plate Tectonics"تیوري یو مهم اساس شو.

قرآني اشاره:

۱۴۰۰ کاله وړاندې، قرآن کریم د ځمکې د درزونو یادونه وکړه، داسې حال کې چې نه د تکتونیکي خوځښتونو نظریه موجوده وه، نه هم د سمندرونو ژورې څېړنې شوي وې.

آیت وایي" :وَٱلْأَرْضِ ذَاتِ ٱلصَّدْعِ – "یعنې :قسم دی په هغه ځمکه چې لري درزونه.

دا" صدع "لفظ په عربي کې د ژور شکاف یا درز معنا لري – چې نه یوازې د زلزلې ځایونه توضیح کوي، بلکې د لویو قشرونو ترمنځ د درزونو علمي مفکوره هم رانغاړي.

نتیجه:

قرآن کریم د ځمکې په ژورو درزونو قسم یادوي، یو حقیقت چې ساینس‌پې له زرګونو کاله وروسته کشف کړ .دا د قرآن د علمي اعجاز ښکاره نمونه ده – داسې علمي حقیقت چې د انسان له وسې وتلی و، خو د الله ج له علمه څرګند و.

سبحان الله !قرآن د هستۍ رازونه د حکمت او اعجاز له لارې بیان کړي



## ځمکنۍ درزونه(Sinkholes)

آیت شریف :سورة القصص – آیت ۸۱

(فَخَسَفْنَا بِهِ وَبِدَارِهِ ٱلْأَرْضَ فَمَا كَانَ لَهُۥ مِن فِئَةٍ يَنصُرُونَهُۥ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلْمُنتَصِرِينَ)

ژباړه:

"نو موږ هغه او د هغه کور مو له ځمکې سره ښخ کړل، نو نه و هغه ته هېڅ کوم لښکر چې مرسته یې ورسره وکړي له الله پرته، او نه وو دی له خپلو ځان ژغورونکو څخه".

(القصص :۸۱)

ساینسي اعجاز :د ځمکې ښویېدنه یاSinkhole

علمي معلومات:

Sinkholeیا" ځمکنۍ ښویېدنه "هغه طبیعي پدیده ده چې ناڅاپي سره ځمکه لاندې ناستیږي او ډېر وخت ټول کورونه یا ودانۍ له ځانه سره لاندې کوي .دا پدیده د ځمکې لاندې د خالي ځایونو له امله رامنځته کیږي، او کله نا کله بې له کوم اخطار څخه ښکاریږي.

د ویکي‌پیډیا له مخې:

Sinkholes"له ۱ متره څخه تر ۶۰۰ مترو (۳.۳ تر ۲،۰۰۰ فټه) پورې قطر او ژوروالی لري .دا ښویېدنې ځینې وخت ورو او ځینې وخت ناڅاپه منځ ته راځي".

ژورنالېستي راپور:

سی‌اېن‌اېن، ۲۰۱۸:

"په ګواتیمالا ښار کې یوې طوفاني باران د سړک اندازه لوی سوری (sinkhole)رامنځته کړه چې درې پوړیزه ودانۍ او یو کور پکې ښکته شول".

قرآني اعجاز:

۱۴۰۰ کاله وړاندې، قرآن کریم د قارون د کور له ناڅاپي ښخ کېدو یادونه کوي – داسې یو حقیقت چې نن ورځ ساینس ورته sinkhole نوم ورکړی دی .قرآن داسې الفاظ کاروي" :فَخَسَفْنَا بِهِ وَبِدَارِهِ الْأَرْضَ "چې معنا دا ده :موږ هغه او د هغه کور له ځمکې سره ښخ کړل.

شک‌کوونکي به ویل چې دا کیسه ده یا دا ښخېدل د ځمکنو حیواناتو یا نورو عواملو له امله وو .خو نن ورځ، ساینس تصدیق کوي چې ځمکه کولی شي په ناڅاپي ډول وخوځي او ودانۍ ښکته کړي – لکه څنګه چې دا آیت بیانوي.

نتیجه:

د قارون د کور ناڅاپي ښخ کېدل یو له هغو قرآني معجزو څخه دی چې د الله تعالی له خوا بیان شوی، او نن علمي ساینس یې تشریح کوي .دا ښيي چې قرآن د طبیعي پېښو دقیق تفصیل وړاندې کوي – داسې تفصیل چې انسان ته یې وروسته لا علمي وضاحت ممکن شو.

سبحان الله !قرآن نه یوازې روحاني لارښود دی، بلکې یو علمي اعجاز هم دی.




## مېچایل هارټ ولې محمد صلی الله علیه وسلم د نړۍ تر ټولو اغېزناک انسان وباله؟

"زما دا پرېکړه چې محمد (صلی الله علیه وسلم) د نړۍ د تر ټولو اغېزناکو کسانو د لست په سر کې کښېږدم، کېدای شي ځینې لوستونکي حیران کړي او نور پرې شک وکړي، خو هغه یوازینی انسان و چې په تاریخ کې هم د دیني او هم د دنیاوي اړخونو په دواړو کې بېساری بریالی و.

محمد (صلی الله علیه وسلم) له ساده او عاجز ژوند څخه راوتلی و، خو داسې یو دین یې بنسټ کېښود او خپور یې کړ، چې نن ورځ د نړۍ له سترو دینونو څخه شمېرل کېږي، او هغه نه یواځې یو روحاني مشر و، بلکې یو ډېر اغېزناک سیاسي مشر هم و .نن، د هغه له وفات وروسته، چې څه باندې ۱۳ پېړۍ تېرې شوې دي، لا هم د هغه اغېز ژور، ژوندي او پراخ دی.

د دې کتاب ډېری شخصیتونه په داسې متمدنه چاپېریال کې زیږېدلي او لوی شوي دي چې هلته سیاست، علم او تمدن غوړېدلی و؛ خو محمد (صلی الله علیه وسلم) په ۵۷۰ میلادي کال د عربستان په مکه ښار کې زیږېدلی و، چې هغه مهال د نړۍ له شاته پاتې سیمو څخه وه .یتیم شو، شپږ کلن و، په عاجز چاپېریال کې یې روزنه وشوه .د اسلامي روایتونو له مخې، هغه لیک لوست نه و زده .کله چې پنځه ویشت کلن شو، یوه شتمنه کونډه (حضرت خدیجه رضی

الله عنها) يې په نکاح کړه، چې اقتصادي وضعيت يې پرې ښه شو، خو د ځلوېښت کلنۍ پر مهال هم داسې ښکاره نښې نه وې چې دا انسان به دومره ستر شخصيت شي.

هغه مهال ډېر عربان بوت پرستان وو .يوازې يو څو يهوديان او عيسويان په مکه کې اوسېدل، چې غالباً له هغوی سره د اړيکو له لارې، محمد (صلی الله عليه وسلم) د يوه واحد، قادر مطلق خدای د تصور سره اشنا شو .کله چې ځلوېښت کلن شو، هغه دا باور پيدا کړ چې دا يو خدای، چې الله نومېږي، ده ته خبرې کوي او هغه يې د انسانانو د هدايت لپاره استولی دی.

محمد (صلی الله عليه وسلم) درې کاله يوازې خپلو نږدې دوستانو ته دعوت ورکاوه .بيا شاوخوا ۶۱۳ ميلادي کال کې، يې د عامو خلکو تبليغ پيل کړ .د مکې مشرانو هغه خطرناک وګاڼه او ځورونه يې شروع کړه .په ۶۲۲ کال کې، د خپل ځان د خونديتوب لپاره، محمد (صلی الله عليه وسلم) مدينې ته هجرت وکړ، چيرې چې خلکو هغه ته سياسي واک ورکړی و .دا هجرت، چې هجرت بلل کيږي، د هغه ژوند ستر بدلون و .په مکه کې لږ پيروان درلودل، خو په مدينه کې يې ډېر ملاتړي وموندل او ډېر ژر يو پياوړی مشر شو.

د هجرت وروسته، محمد (صلی الله عليه وسلم) او د مکې مشرانو ترمنځ جنګونه پيل شول .بالاخره، محمد (صلی الله عليه وسلم) په ۶۳۰ ميلادي کال کې بريالی شو او د فاتح په توګه مکې ته راستون شو .تر وفات مخکې دوه نيم کاله کې، د عربو قبايلو ډېره برخه اسلام ته داخله شوه .کله چې محمد (صلی الله عليه وسلم) په ۶۳۲ کال وفات شو، نو هغه د ټوله جنوبي عربستان مؤثر مشر و.

عربان، که څه هم جنګي قوم و، خو شمېر يې کم و او ډېر وختونه يې خپلمنځي جګړې کولې .خو محمد (صلی الله عليه وسلم) هغوی سره يو کړل او د توحيد په عقيده يې متحد کړل .دا کوچني، خو عقيدوي ځواکمن فوځونه ډېر ژر د فارس او روم ستر ځواکونه مات کړل .تر ۶۴۲ ميلادي پورې، مصر د روم له امپراتورۍ ووت، او فارس هم د قادسيې او نهاوند په جګړو کې مات شو.

دا فتوحات یوازې د محمد (صلی الله علیه وسلم) د نږدې ملګرو لکه ابوبکر او عمر په مشرۍ دوام وکړ، او دا لړۍ تر هسپانیا ورسېده، چیرته چې مسلمانانو د ویزیګوت سلطنت ته ماتې ورکړه.

که څه هم د ۷۳۲ کال د تورس جګړه کې، مسلمان فوځ مات شو، خو یوازې په سل کاله کې، مسلمانانو د هند تر پولو څخه تر اتلانتیک سمندر پورې ستر اسلامي خلافت جوړ کړ، چې تر هغه وخته پورې دومره ستر سلطنت نه و لیدل شوی .او هر چیرته چې فوځونه بریالي شول، هلته خلکو اسلام ومانه.

البته دا فتوحات ټول دایمي نه وو .فارس خپل سیاسي استقلال بېرته ترلاسه کړ، او په هسپانیا کې عیسویانو د اوو پېړیو جګړو وروسته بېرته ولکه ټینګه کړه، خو مصر، عراق او شمالي افریقا لا هم اسلامي دي.

اوس راځو دې پوښتنې ته چې :د محمد (صلی الله علیه وسلم) اغېز پر بشریت څومره و؟ لکه څنګه چې هر دین د خپلو پیروانو پر ژوند ژور اثر لري، همداسې اسلام هم لري .او دا ځکه چې د دین بنسټګر تل د تاریخ په پاڼو کې ستر شخصیتونه بلل کېږي .که څه هم د عیسویانو شمېر له مسلمانانو دوه چنده ډېر دی، خو ما ولې محمد (صلی الله علیه وسلم) تر عیسی علیه السلام لوړ مقام ورکړ؟

لومړی، محمد (صلی الله علیه وسلم) د اسلام په جوړولو کې تر عیسی علیه السلام ډېر رول درلود .عیسی علیه السلام که څه هم اخلاقي اصول راوړل، خو د عیسویت دیني جوړښت، تبلیغ او لیکلي تعلیمات (لکه نوي عهدنامه) د پولس لخوا تکمیل شول .خو محمد (صلی الله علیه وسلم) نه یواځې دیني اصول راوړل، بلکې د دین تبلیغ، احکام او حتی د قرآن متن هم ده ته نازل شوی .نو قرآن، د هغه د عقایدو او وینا یوه نږدې دقیقه انځور ده .دا خصوصیت، د عیسی علیه السلام تعلیماتو کې نشته.

دوهم، محمد (صلی الله علیه وسلم) یواځې دیني مشر نه و، بلکې سیاسي مشر هم و .هغه یو داسې مشر و چې له ده پرته، د عربو فتوحات ناممکن ښکاري . دا فتوحات د چنګېز خان د فتوحاتو سره پرتله کېدای شي، خو هغه فتوحات

پایدار نه وو، خو د محمد (صلی الله علیه وسلم) تر مشرۍ لاندې فتوحاتو تلپاتې بدلون راوست.

د قرآن کريم آيت فرمايي:

(فَعَتَوْا عَنْ أَمْرِ رَبِّهِمْ فَأَخَذَتْهُمُ الصَّاعِقَةُ وَهُمْ يَنْظُرُونَ (۴۴) فَمَا اسْتَطَاعُوا مِنْ قِيَامٍ وَمَا كَانُوا مُنْتَصِرِينَ (۴۵)

[الذاريات :۴۴-۴۵]

ژباړه" : خو هغوی د خپل رب له امر څخه سرغړونه وکړه، نو برېښنا ونيول، په داسې حال کې چې هغوی ګوري .نو نه يې د پاڅېدو وس درلود او نه يې مرسته پيدا کړه".

په دې آيت کې الله تعالی فرمايي چې هغوی ته برېښنا ولګېده، او هغوی ونه شو کولای چې پاڅېږي.

نن سبا ساينس دا کشف کړې ده چې کله چاته برېښنا ولګېږي، نو ممکن انسان د لنډ وخت لپاره فلج شي، چې دې ته Keraunoparalysis وايي .دا فلج اکثرآ د پښو يا لاسونو حس او حرکت له منځه وړي، خو عموماً دا حالت په څو ساعتونو کې بېرته ښه کيږي.

د وېکيپېډيا د ۲۰۲۰ معلوماتو له مخې:

"برېښنا چې انسان ته ولګي، نو د keraunoparalysis په نوم يو موقتي فلج رامنځته کوي .د دې نښو کې د نبض نشتوالی، د بدن شينوالی، او د

لاسونو او پښو حس یا حرکت له لاسه ورکول شامل دي .خو دا حالت معمولاً په څو ساعتونو کې له منځه ځي".

د قرآن کریم په دې آیت کې چې فرمایي" :فَمَا اسْتَطَاعُوا مِنْ قِيَامٍ "یعنې : "هغوی ونه‌شو کولای چې پاڅیږي ,"نن موږ پوهیږو چې دا حالت د بریښنا له امله رامنځته شوی یو موقتي فلج و، چې ۱۴۰۰ کاله وړاندې قرآن کریم یې یادونه کړې وه، په داسې حال کې چې انسانان لا له دې طبیعي پدیدې نه وو خبر.



## د اسلام نه ختمېدونکی آواز

اذان – د وختونو، ځایونو او هستۍ یو ژوندی معجزه

اذان یوازې د لمانځه اعلان نه دی، بلکې دا د اسلام د ژوندیوالي او د ځمکې د گردش له نظام سره همغږی شوی آسماني غږ دی .دا غږ د ورځې پنځه وخته د نړۍ هرې برخې ته د توحید پیغام رسوي .هر کله چې دا غږ په یوه سیمه کې پای ته رسي، په بل ځای کې پیلېږي .دا لړۍ هېڅکله نه پرې کېږي، نه بندېږي، نه غلې کېږي.

ځکه چې ځمکه د خپل محور پر شاوخوا په ۲۴ ساعتونو کې ۳۶۰ درجې تاویږي، او هره درجه ۴ دقیقې وخت لري، نو که موږ دا محاسبه وکړو:

۳۶۰ درجې × ۴ دقیقې = ۱۴۴۰ دقیقې = ۲۴ ساعته

یعنې د هرې دقیقې په تېرېدو سره په یوه سیمه کې اذان کېږي !نو په دقیقه توگه ویلای شو چې د ځمکې پر مخ اذان ۲۴ ساعته پرته له وقفې روان وي.

د اذان پنځه وخته – د ځمکې پر مخ پنځه معجزاتي سفرونه

اذان الفجر

کله چې سهار راخیژي، دا اذان د آسیا له ختیځه( اندونیزیا، مالیزیا، فیلیپین، آسټرالیا )څخه پیلیږي، او بیا مخ پر لوېدیځ، هند، افغانستان، عربستان، افریقا، اروپا، او امریکا ته انتقالیږي.

اذان الظهر

د ورځې له منځ څخه، کله چې لمر تر زوال تېر شي، دا اذان بیا د ځمکې پر مخ د ظهر وخت د اعلان غږ ګرځي.

اذان العصر

د ماسپښین نه وروسته، دا غږ بیا له یوې سیمې بلې ته حرکت کوي، او د لمانځه بل دعوت خپروي.

اذان المغرب

د لمر لوېدو سره، دا معجزاتي غږ د ماښام اذان د اعلان په بڼه، د نړۍ د افقونو ترمنځ روان وي.

اذان العشاء

په وروستي پړاو کې، د شپې د پیل اذان د شپې خاموشۍ ته د الله د عبادت غږ ورکوي، او دا غږ هم ۲۴ ساعته دوام کوي.

د اذان تسلسل – د ځمکې د حرکت سره یو الهي نظم

د اذان دا تسلسل د ځمکې د طبیعي حرکت له نظام سره پوره برابر شوی دی:

ځمکه پر خپل محور تاویږي؛

د هرې سیمې لمر موقعیت د اذان وخت ټاکي؛

اذان د وخت له حرکت سره یوځای له یوه ځایه بل ته انتقالیږي؛

د هر اذان غږ، بل غږ ته لاره ورکوي؛

او دا تسلسل هیڅکله نه دریږي!

دا غږ، دا دعوت، دا ناره، د نړۍ له یوه ګوټ نه بل ته، د آسمانونو تر منځ، د هوا څپو کې د توحید آواز ګرځي.

پایله – اذان :د اسلام ژوندی اعجاز

اذان یوازې یو شعار نه دی، دا د الله د عبادت اعلان دی، او دا اعلان د ځمکې د تاو، د وخت د جریان، د فضا د قانون، او د توحید د حقایقو سره داسې همغږی شوی دی، چې هر عاقل انسان ته وایي:

اسلام مړ شوی دین نه دی – بلکې یو ژوندی، بیدار، فعال او الهي نظام دی!

اذان د وخت، ځای، فضا او انسان ترمنځ د توحید د اړیکې یو نه ختمېدونکی آواز دی — یو الهي غږ، چې موږ ته وایي:

"الله اکبر، الله اکبر – "الله تر هر څه ستر دی!



## د اذان عددي اعجاز

د اذان کلماتو شمېر ۵۰ دی.

پنځه وخته لمونځونو ته د ثواب په اعتبار سره پنځوس ثوابونه ورکول کيږي، ځکه چې په اسلام کې هر نېک عمل لس چنده حسابيږي[ .دليل :سورة الأنعام، آيت ۱۶۰؛ همداراز بخاري حديث :«إنها خمس صلوات ولكنها خمسون في الأجر»]

د اذان کلمه د خپلو مشتقاتو سره په قرآن کريم کې د پنځه وخته لمونځونو په شمېر( ۵ ځله)ياده شوې.

د عربي ژبې ټول ټال حروف ۲۸ دي.

په اذان کې يوازې ۱۷ مختلف حروف کارول شوي دي.

۱۷ هم د پنځه وخته لمونځونو ټولټال رکعتونه دي.

د معراج پېښه د الاسراء سورت کې ياده شوې چې دا سورت هم ۱۷م نمبر لري.

قرآن کريم د رمضان مياشتې په ۱۷مه نېټه نازل شوی و.

علمي څېړنې وايي چې اذان د ځمکې پر مخ هيڅکله نه بنديږي، بلکې ۱۲ مياشتې، ۲۴ ساعته دوام لري.

د اذان جملهيې تکرارېدونکې جملهګانې هم ۱۲ دي .دا پدې معنا ده چې الله تعالی غواړي وښيي :اذان هيڅکله نه بنديږي، اسلام د کال په هره لحظه کې ژوندی او حاضر دی .نو اې مؤمنه، په سکون سره ژوند وکړه !

د کال مياشتې هم ۱۲ دي، لکه څنګه چې الله تعالی فرمايلي دي:

(إِنَّ عِدَّةَ الشُّهُورِ عِندَ اللَّهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا)[ التوبة :۳۶]

د اذان وروستۍ جمله دا ده:

لا إله إلا الله

د دې جملې حروف هم ۱۲ دي.

سبحان الله !الله وايي :ټول ژوند دې پر توحيد تير کړه.

همداراز :محمد رسول الله هم ۱۲ حروف لري.

نو:

لا إله إلا الله = ۱۲ حروف

محمد رسول الله = ۱۲ حروف

کال = ۱۲ مياشتې

الله وايي :خپل ژوند پر دې دوو غوره جملو تېر کړه!

ته اذان کال کې تر ۱۸۰۰ ځلو زيات اورې!

ايا کله دې فکر کړی چې دا دومره لوی پيغام څومره پياوړی توحيد لري؟

نبي ص فرمايلي :تر ټولو غوره کلمې چې پېغمبرانو ويلي، هغه دا ده :لا إله إلا الله( بخاري)

د اذان لومړۍ کلمه" الله "ده

د اذان وروستۍ کلمه هم" الله "ده

تر ټولو ډېر تکرارېدونکی نوم په قرآن او اذان کې هم" الله "دی

د" الله "کلمه په قرآن کريم کې ۲۶۹۹ ځله راغلې، او په اذان کې ۷ ځله

د شمېره ۷ په تکرار د پوهېدو لپاره دا وګوره:

https://www.facebook.com/634907663357506/posts/1978214575693468/

۲۶۹۹ یو طاق عدد دی، یعنې یوازې په خپل ځان وېشل کېږي ـــ او الله تعالی یکتایي خوښوي

د" الله "کلمه په اذان کې ۱۱ ځله راغلې ـــ او ۱۱ هم نه وېشل کېږي، مګر پر ۱

نو اذان هم له الله ځخه دی، هغه یوائینی او ریښتینی معبود

" الله "کلمه یوازې له ۳ حروفو جوړه ده( :ا، ل، هـ)

" لا إله إلا الله "هم همدغو دریو حروفو سره لیکل کېږي!

د" الله "کلمه لومړی ځل په قرآن کې د فاتحه سورت کې راغلې

وروستی ځل بیا د اخلاص سورت( ۱۱۲ )کې راغلې :قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ

په اذان کې د الف( ا )حرف = ۴۷ ځله کارول شوی

د لام( ل )حرف = ۴۵ ځله

د ها( هـ / هاء )حرف = ۲۰ ځله

47 + 45 + 20 = 112

دا عدد( ۱۱۲ )هماغه د اخلاص سورت شمېره ده

نو دا هم یو عددي اعجاز دی!

اذان کې" الله "کلمه ۱۱ ځله راغلې، چې ۱۱ نه وېشل کېږي، مګر پر ۱

نو دا ثابتوي چې اذان له یکتا، واحد، او بې سارې ذات ـــ الله ـــ ځخه دی

هېڅ مخلوق نشي کولی چې د خپل نوم له حروفو سره داسې پوره کلمه جوړه کړي چې تر ټولو غوره جمله شي

" الله "د الله له ټولو نومونو غوره نوم دی ـــ ډېر عالمان وايي دا د اسم اعظم دی، چې که په دعا کې وکارول شي، الله قبولوي

الله اکبر!

اسلام اوس مهال تر ټولو چټک خپرېدونکي دین دی

تر ۲۰۵۰ پورې به ټوله اروپا اسلامي شي، ان شاءالله

که څه هم اوس خو هېڅ توره نه کارېږي!

د اسلام قوت خپلواک دی، مورږ ته څوک د دفاع لپاره پکار نه دي

په جاپان او اروپا کې د مور او پلار نافرماني ډېره عامه ده —— او د زړو خلکو د ساتنې کورونه حکومت ته میلیارده تاوان رسوي

خو په اسلام کې د خپلو خویندو، میندو، پلرونو پالنه د هر انسان ذمه واري ده

الحمد لله رب العالمین

یادونه:

الله قرآن نه دی پیدا کړی، بلکې وینا کړې یې ده

ملایکه لکه جبرائیل علیه السلام دا قرآن د لوح محفوظ نه لیکلی دی



## د سورة النساء آیت ۱۲ اعجاز او د موروثاتو د ۱۲ وارثانو عددي رابطه

لومړی :د وارثانو شمېر – ۱۲ کسان

اسلامي شريعت د مړي لپاره ۱۲ شرعي وارثان ټاکلي دي، چې دا کسان داسې دي:

۴ نارينه:

پلار

نيکه( صحيح نيکه = د پلار له خوا نيکه)

ورور د مور له خوا( أخ لأم)

مېړه( زوج)

۸ ښځې:

مور

نيا( صحيحه نيا = د مور له خوا نيا)

لور

د زوی لور( او که څومره لاندې نر نسل وي)

خور د پلار او مور له خوا( أخت شقيقة)

خور د پلار له خوا( أخت لأب)

خور د مور له خوا( أخت لأم)

ښځه( زوجة)

دويم :څنګه آيت ۱۲ دا ټول وارثان ياد کړي دي؟

په دې آيت کې الله ج ځينې وارثان په ښکاره( صراحت )سره ياد کړي دي، لکه:

زوج( مېړه)

زوجة( ښځه)

أخ لأم( ورور د مور له خوا)

أخت لأم( خور د مور له خوا)

او نور پاتې وارثان الله ج په اشاره( تلميح )سره ياد کړي، چې دا اشاره د "کلالة "له کليمې سره شوې ده.

" کلالة "څه ته وايي؟

"کلالة "هغه شخص ته ويل کيږي چې:

نه پلار لري( يعني :پلار، نيکه نه وي ژوندي)

نه زوی لري( يعني :لور يا د زوی اولاد هم نه لري)

پس کله چې الله تعالی د کلالة له ميراث نه خبرې کوي، نو:

دا اشاره کوي چې دلته د پلار، نيکه، مور، نيا، لور، او د زوی لور ته هم اهميت ورکړل شوی دی، ځکه همدوی د" اصول "او" فروع "وارثان دي.

او بيا چې آيت د کلالة د ورثې په شکل د" الإخوة( "ورونه )يادونه کوي، نو که څه هم اکثر مفسرين وايي دلته هدف د مور له خوا ورونه دي، خو د لغوي لحاظه" إخوة "ټول ډولونه رانغاړي، يعني:

خور د پلار او مور له خوا

خور د پلار له خوا

په دې ترتیب سره، آیت د هغو ۱۲ وارثانو یادونه کوي چې په اسلامي شریعت کې د موروثاتو حق لري.

عددي اعجاز:

آیت ۱۲ د ۱۲ وارثانو یادونه کوي .دا یو حیرانوونکی نظم دی:

آیت نمبر = د وارثانو دقیق شمېر

دا یو داسې نظم او اعجاز دی چې یوازې الله جل جلاله یې کولای شي، ځکه د قرآني آیت محتوا، د هغې عددي موقعیت، او د اسلامي فقهي تفصیل ټول سره مطابقت لري.



## ښکاره او پټ عددي اعجاز

د انسان د پټو او ښکاره کړو خبرو د الله ج علم اعجاز – د آيتونو عددي نظم

الله تعالی د خپلو بندګانو پټې او ښکاره خبرې، نيتونه، او اعمال ټول په برابر ډول ښه پېژني او پرې خبر وي .دا حقيقت په قرآن کريم کې په ډېرو ځايونو کې ياد شوی، چې ځينې يې دا دي:

سورت البقره – آيت ٣٣:

"وأعلم ما تبدون وما كنتم تكتمون"

ژباړه :زه پوهېږم په هغه څه چې تاسې يې ښکاره کوئ او هغه څه چې پټول مو.

سورت الأعراف – آيت ٥٥:

"ادعوا ربكم تضرعاً وخفية"

ژباړه : خپل رب ته عاجزي سره او پټه( په زړونو کې )دعا وکړئ.

سورت البقره – آيت ٧٧:

"أولا يعلمون أن الله يعلم ما يسرون وما يعلنون"

ژباړه : ايا دوی نه پوهيږي چې الله هغه څه ښه پېژني کوم چې دوی پټوي او کوم چې ښکاره کوي؟

سورت المائدة – آیت ۹۹:

"والله يعلم ما تبدون وما تكتمون"
ژباړه :الله پوهېږي په هغه څه چې تاسې يې ښکاره کوئ او څه چې پټوئ.

سورت الأنبياء – آیت ۱۱۰:

"إنه يعلم الجهر من القول ويعلم ما تكتمون"
ژباړه :بېشکه هغه د خبرو ښکاره کول هم پېژني او څه چې پټوئ هم.

د اعجاز نکتې:

ليکوال وايي چې دا آيتونه نه يوازې معنايي لحاظه يو مشترک پيغام لري، بلکې د آيتونو عددونه هم پکې يو خاص نظم او اعجاز لري:

د سورت البقره آیت ۳۳ → له دوه ۳ ګانو جوړ دی.

د سورت البقره آیت ۷۷ → له دوه ۷ ګانو جوړ دی.

د سورت المائدة آیت ۹۹ → له دوه ۹ ګانو جوړ دی.

د سورت الأنبياء آيت ۱۱۰ ← دلته هم د عددونو ترمنځ همغږي ده.

د سورت الأعراف آيت ۵۵ ← له دوه ۵ ګانو جوړ دی.

دا ټول آيتونه په دې تأکيد کوي چې الله پاک ته د انسان پټ نيتونه او ښکاره اقوال يو شان دي، لکه څنګه چې:

عددونه يو له بله سره برابر او متشابه دي،

همداسې الله ته هم پټ او ښکاره اعمال يو شان دي، هېڅ يو تر بل نه پټ پاتې کيږي.



## د حضرت نوح عليه السلام د ۹۵۰ کلونو د پاتې کېدو او د آيت ۱۴ ترمنځ عددي اړيکه

د حضرت نوح علیه السلام له خپل قوم سره د ۹۵۰ کلونو پاتې کېدو د شمېرې او د سورة العنکبوت د ۱۴م آیت ترمنځ یوه عددي او اعجازي اړیکه بیانوي، چې الله تعالی پکې فرمايلي دي:

(وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖ فَلَبِثَ فِيْهِمْ اَلْفَ سَنَةٍ اِلَّا خَمْسِيْنَ عَامًا ۗ)

او يقينًا يقينًا مونږه نوح خپل قوم ته( رسول )لیږلی و، نو هغه په دوی کې پنځوس کاله کم زر کاله تېر کړل

(سورة العنکبوت، آیت :۱۴)

د دې آیت شمېر( ۱۴ )یو حسابي اختصار دی د ۹۵۰ شمېر لپاره، ځکه د ۹۵۰ شمېر عددي مجموعه ۱۴ کیږي:

۹ + ۵ + ۰ = ۱۴

دا د آیت هماغه شمېر دی، چې پکې د نوح علیه السلام د کلونو ذکر شوی.

په همدې طریقه موږ د ۹۵ او ۵۹ عددونو اړیکه له هغو دوه مقدسو عددونو سره هم څرګندوو چې د نبي محمد صلی الله علیه وسلم د نوم عددي ارزښتونه دي :۴۱ او ۱۴.

خو دلته زه د قرآن مجید د هغو آیتونو عددي ارتباط ته اشاره کوم، چې شمېر يې ۹۵ یا ۵۹ وي، او دا شمېره له هماغو دوه ارزښتناکو عددونو( ۴۱ او ۱۴ ) سره معنوي او عددي رابطه لري .دا ځکه چې، لکه مخکې مو وویل، ۹۵ که اختصار شي( ۹ + ۵ = ۱۴ )کیږي.

د بېلګو لپاره:

سورة الجن، آیت ۱۴:

(وَأَنَّا مِنَّا الْمُسْلِمُونَ)

دا یو ښکلی تأیید دی د اسلام پیروانو ته.

سورة الحجرات، آیت ۱۴:

(وَلَٰكِنْ قُولُوا أَسْلَمْنَا)

دلته هم د تسلیمۍ موضوع راغلې، چې له عدد ۱۴ سره عددي رابطه لري.

سورة الحجر، آیت ۹۵:

(إِنَّا كَفَيْنَاكَ الْمُسْتَهْزِئِينَ)

پدې آیت کې الله تعالی خپل نبي محمد صلی الله علیه وسلم ته ډاډ ورکړی دی.

سورة المؤمنون، آیت ۹۵:

(وَإِنَّا عَلَىٰ أَنْ نُرِيَكَ مَا نَعِدُهُمْ لَقَادِرُونَ)

یو بل تأکید، چې د الله وعدې به حتماً واقع کیږي.

سورة النساء، آیت ۹۵:

پکې راغلي :(...أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ)

چې د الله او رسول اطاعت پکې امر شوی.

سورة التوبة، آیت ۵۹:

(وَلَوْ أَنَّهُمْ رَضُوا مَا آتَاهُمُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ...)

دلته د الله او رسول رضا ته اشاره شوې ده.

سورة الأحزاب، آیت ۵۹:

(يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ...)

دا هم د نبي محمد صلی الله علیه وسلم د امرونو په اړه یوه واضح آیت دی.



## سورة مريم د قرآن كريم

نولسمه( ۱۹م )سورت ده، او دا سورت د" کهیعص "په حروفو پیل شوی، چې دا د ټولو هغو ۲۹ سورتونو له منځه چې د حروفو په فاتحه پیل شوي، تر ټولو اوږده فاتحه ده، ځکه چې پنځه حروف لري .دا خبره موږ هڅوي چې د دې حروفو راز درک کړو.

د" کهیعص "حروف په سوره مریم کې د لاندې شمېر سره تکرار شوي:

ک = ۱۳۷ ځله

ه = ۱۷۴ ځله

ي = ۳۴۲ ځله

ع = ۱۱۷ ځله

ص = ۲۶ ځله

ټول تکرارونه :۷۹۶ ځله

خو حیرانوونکې دا ده چې د“ مریم(چې د سورې نوم دی او همداراز د حضرت عیسی علیه السلام د مور نوم دی )حروف هم په همدې سورت کې همدومره ځله تکرار شوي:

م = ۲۸۷ ځله

ر = ۱۶۷ ځله

ي = ۳۴۲ ځله

ټول تکرارونه :۷۹۶ ځله

او دا شمېر ۷۹۶ یوازې پر درېو عددونو قابل د تقسیم دی :۲، ۴، او ۱۹۹.

یعنې :۷۹۶ = ۱۹۹ × ۴

عجیبه دا ده چې عدد ۱۹۹ یو اولي عدد دی( یعنې یوازې پر ځان او پر یو تقسیمېږي )او دا د اولي عددونو په لړ کې ۴۶م عدد دی.

نو څه معنا لري دا؟

عدد ۲ اشاره کوي دوو شخصیتونو ته :حضرت مریم او حضرت عیسی علیهما السلام

عدد ۴ اشاره کوي هغو څلورو شخصیتونو ته چې د سورت مریم کیسه پرې ولاړه ده :مریم، عیسی، زکریا، او یحیی علیهم السلام

عدد ۱۹۹ چې د دواړو حروفو( کهیعص او مریم )د تکرارونو مجموعه ده، او چې د څلورو کسانو پر شمېر ویشل شوې، دا هم ځانګړی معنا لري

عدد ۴۶( د ۱۹۹ ترتیب د اولي عددونو په لړ کې )هغه شمېره ده چې د انسان د کروموسومونو عمومي شمېر دی .یو انسان ۴۶ کروموسومه لري، چې ۲۳ له پلار او ۲۳ له مور څخه راځي.

نو معجزه چیرته ده؟

معجزه دلته ده :حضرت عیسی علیه السلام بې له پلار نه پیدا شوی، خو د انسان د کروموسومونو مکمل شمېر یعنی ۴۶ یې درلود.

حال دا چې یوه مور یوازې ۲۳ کروموسومه ورکولی شي، او دا یوازې د ژوند لپاره نه بسېږي .نو له کومه شول پاتې ۲۳؟

دا یو الهي معجزه ده!

پایله:

دا یو ژور عددی اعجاز دی چې موږ ته ښیي څنګه قرآن کریم د الفاظو، حروفو، او عددونو له لارې داسې حقایق ښیي چې یوازې د انسان عقل ترې حیران پاتې کېږي .دا هڅه د پخوانیو علماو له اجتهادونو سره یوځای شوې، او الله( جل جلاله )ښه پوه دی.



## د الله ج په خلقت کې د بدلون هڅې

وَلَأُضِلَّنَّهُمۡ وَلَأُمَنِّيَنَّهُمۡ وَلَأٓمُرَنَّهُمۡ فَلَيُبَتِّكُنَّ ءَاذَانَ ٱلۡأَنۡعَٰمِ وَلَأٓمُرَنَّهُمۡ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلۡقَ ٱللَّهِۚ
وَمَن يَتَّخِذِ ٱلشَّيۡطَٰنَ وَلِيّٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِ فَقَدۡ خَسِرَ خُسۡرَانٗا مُّبِينٗا(١٢٠)يَعِدُهُمۡ وَيُمَنِّيهِمۡۖ
وَمَا يَعِدُهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ إِلَّا غُرُورًا(١٢١)أُوْلَٰٓئِكَ مَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُ وَلَا يَجِدُونَ عَنۡهَا مَحِيصٗا

"زه به هغوی خامخا لار ورکي کړم، زه به هغوی په هیلو کښې لتاړ کړم .زه به هغو ته امر وکړم او هغوی به زما په امر د څارویو غوږونه څیري کړي . او زه به هغو ته امر وکړم او هغوی به زما په امر په خدایي جوړښت او پیدایښت کښې رد و بدل راولي ".چا چي دا شیطان د الله پر ځای خپل دوست او سرپرست ونیوی، هغه په ښکاره زیان کښې وغورځېدی.

هغه له دې خلکو سره وعدې کوي، او په هیلو کښې یې اچوي، خو له دوی سره د شیطان ټولې وعدې له غولولو پرته نور څه نه دي.

ددې خلکو استوګنځی دوږخ دی چي له هغه څخه به دوی د ژغورني هیڅ لاره ونه مومي".

تفصيلي تشريح او عصري تطبيق:

د" فَلَيُبَتِّكُنَّ آذَانَ الْأَنْعَامِ "معنا:

د ظاهري تفسير له مخې، دا د جاهلي دور د بتپالو يو رواج و، چې به يې د قرباني ځارويو غوږونه غوڅول، لکه علامت يا د بتونو لپاره نذر.

مګر دا تشريح يوازې تاريخي بُعد لري .نن ورځ، دا آيت حيرانوونکې نوې معنا لري:

د استنساخ علم کې، ساينسپوهان د ځارويو يا انسانانو له غوږونو څخه حجرات (cells) اخلي، ځکه چې دا ځاى له اسانه لاسرسی او د نسج باثباتي برخې څخه دی .دا حجرات بيا د DNA استخراج لپاره کارول کيږي، تر څو له هغې وروسته يو نوی ژوندی موجود د DNA کاپي سره جوړ کړي .دا عمل د خُلق الله( الله تعالی خلقت )بدلون بلل کيږي.

2 د" فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ اللَّهِ "معنا:

د آيت دې برخې ته اوسني عصري حقايق حيرانوونکې وضاحت ورکوي:

د خُلق الله تغيير يعنې:

د طبيعي توليد پر ځاى مصنوعي توليد.(cloning)

د انساني جينونه له حيواناتو سره ګډول.(chimera)

د انسان بدن د غړو جوړول چې بیا له منځه یوړل شي.(spare parts)

د جنیاتي جوړښت تخریب، تر څو انسانان د تجربو لپاره وکارول شي.

استنساخ یوه دروغجن امید دی :لکه څنګه چې آیت وایي:

(يَعِدُهُمْ وَيُمَنِّيهِمْ وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطَانُ إِلَّا غُرُورًا)

(شیطان هغوی ته وعدې ورکوي او امیدونه، خو دا ټول دروغجن فریبونه دي).

❸د نبوي حدیث رڼا کې( استنساخ غړو مشروعیت:)

حدیث:

عَنْ عَرْفَجَةَ بْنِ أَسْعَدَ :«...فَأَمَرَهُ النَّبِيُّ ص أَنْ يَتَّخِذَ أَنْفًا مِنْ ذَهَبٍ.»

(رسول الله ص ورته امر وکړ چې د سرو زرو پوزه وکاروي).

دا حدیث څرګندوي چې بدن ته مصنوعي غړي یا ترمیمات روا دي، که چیرې دا د ضرر دفع یا فایده وي.

نو د استنساخ غړو( نه د انسان ټول بدن )جوړول که د معالجې لپاره وي، دا جواز لري، او د انسان ژوند ژغورلو کې کارېدلی شي.

د غوږ د نسج څخه د ژوو کلون جوړول او علمي پایلې یې

د آلمان د فدرالي کرنيز څېړنيز مرکز يوه راپور داسې وايي:

د نسج راټولولو مرحله ډېره لنډه او ساده ده .کله چې يو حيوان پيدا او کنټرول شي، نو د غوږ يو ټوټه د ثانيو په اندازه وخت کې اخيستل کېږي .همداراز، سوماتيک حجرې( يعنې غير جنسي حجرې )د ټولو حيواناتو څخه اخيستل کېداى شي .د غواګانو، خوګانو، پسونو، وزو، شترو او لياماو لپاره يو واحد او يو شان طريقه کارېږي، چې په هغې کې د غوږ نه د" نوچر "وسيلې په مرسته د نسج ټوټه اخيستل کېږي — دا هماغه وسيله ده چې د غوږ د نښان لګولو لپاره هم کارېږي.

په واضحه توګه، د ټولو حيواناتو لپاره د ليمفوسايت( سپين وينه حجرې ) کارول هم ممکن دي، خو د غوږ نه د سوماتيک حجرو اخيستل اسانه او غوره طريقه ده[^1].

د غوږ د نسج څخه د کلون جوړولو ځينې مشهورې تجربې:

د روېټرز د ۲۰۰۲ کال د مې لومړۍ نېټې راپور له مخې، د برازيل د ساو پالو پوهنتون څېړنيز وترنر" جوز ويزنتين "د يوې بالغه غوا د غوږ د نسج څخه حجرې واخيستې او د لومړي ځل لپاره يې د کلون جنينونه جوړ کړل[^2].

د بي‌بي‌سي د راپور پر اساس، د سويلي کوريا ساينس‌پوهانو يو سپی (Snuppy)د دريو کلونو عمر لرونکي افغان هونډ له غوږ نه د حجرو اخيستلو په مرسته کلون کړ .دغه حجرې په يوه خالي تخم حجره کې کېښول شوې، او بيا يې د ويش له لارې جنين جوړ کړ[^3].

یو بل بی‌بی‌سي راپور ښيي چې د فرانسې د INRA مرکز ډاکټر ژان‌پال رینارډ له بالغه غوا د غوږ د نسج څخه حجرې واخیستې او نوی کلون يې جوړ کړ[^4].

د Human Genome Project رسمي ویب‌پاڼې له مخې، د ACT بایوتکنالوژۍ شرکت ساینس‌پوهانو په ۲۰۰۲ کال کې د غوا د غوږ د پوستکي حجرې کارولې وې ترڅو یو کلون شوی جنین جوړ کړي[^5].

د Associated Press د ۲۰۰۰ کال د جنورۍ ۲۴ نېټې راپور وايي چې جاپاني ساینس‌پوهانو د یو کلیون شوي خوسي له غوږ څخه د پوستکي حجرې واخیستې، کله چې دا خوسی څلور میاشتنی و، او له دې حجرو څخه يې بیا یو بل کلون جوړ کړ[^6].

د کلون جوړولو له خطرونو څخه عمومي راپور:

د ناکامۍ لوړ تناسب :د بریا کچه یوازې ۰.۱٪ – ۳٪ ده، یعنې له هر ۱۰۰۰ تجربو څخه تقریباً ۹۷۰ تر ۹۹۹ ناکامېږي[^9].

د ودې ستونزې :کلون شوي حیوانات چې ژوندي پاتې شي، اکثره يې داخلي غړي غیر عادي لوی وي، چې له امله يې د تنفس او وینې جریان کې ستونزې، خراب پښتورګي، مغزي اختلال او کمزورې دفاعي سیستم رامنځته کیږي.

د جینونو غیر نورمال فعالیت :که څه هم چې DNA یو شان وي، خو د کلون جنین کې د حجرې هستوي پروګرام د طبیعي جنین سره توپیر لري .یعنې DNAنشي کولای چې اړین جینونه په سمه طریقه او مناسب وخت فعاله کړي .د بېلګې په ډول، د ویني، هډوکو، عصبي، او پوټکي حجرې ځانګړي پروګرامونه لري، خو دا پروګرامونه د کلون جنین کې سمه فعاله نه وي.

د ټیلومیر ستونزه :د حجرو د وېش پر مهال د کروموزومونو په پای کې DNAبرخه( ټیلومیر )هر ځل کمه کېږي، او دا د عمر له نښو څخه ده .کلون شوی حیوان د پیل څخه لنډ ټیلومیرونه لري، لکه دا چې مخکې زاړه وي . ځکه چې دا حجرې د بالغ موجوداتو له نسج اخیستل شوې وي، خو بیا هم په لابراتوار کې" مصنوعي القاح "پرې کېږي .دا د الله ج له خوا د ټاکل شوي تولید نظم څخه انحراف دی، او له همدې امله نامالومې ناروغۍ، ودې نیمګړتیاوې او وختي مرګونه پېښېږي.

دا ټولې ستونزې او خطرونه چې نن ساینس یې له کلون جوړونې سره تجربه کوي، ۱۴۰۰ کاله مخکې د قرآن کریم په اشاراتو کې ذکر شوي، چې دا د قرآن مجید الهي کتابتوب ته څرګند دلیل وړاندې کوي.

انساني-حیواني کیمرا (Chimera) تجربې:

په یوه نړیوال ساینسي پرمختګ کې، ساینسپوهانو لومړی ځل د انسان-حیوان کیمرا جوړولو بریالیتوب اعلان کړ .د خوګ جنین ته د انسان حجرې پېل کې داخلې شوې، او دا جنین تر څلور اونیو پورې وده وکړه .دا تجربې چې د Salkانسټیټیوټ لخوا شوي، هدف یې دا دی چې د انسانانو لپاره د بدن غړي د حیواناتو دننه وده ورکړي، تر څو د عضوي پیوند اړتیاوې پوره شي.

هر لس دقیقې یو نوی ناروغ د عضوي پیوند انتظار لیست ته داخلیږي، او هره ورځ ۲۲ تنه مړه کیږي ځکه چې اړتیا وړ عضوه نه پیدا کیږي .ساینس پوهان هڅه کوي چې د داسې حیواناتو دننه د انسان لپاره ځانګړي جوړ شوي عضوي سیستمونه وده ورکړي.

خو دا ډول تجربې له اخلاقي او دیني پلوه ډېرې لانجمنې دي، ځکه چې دا انساني طبیعت سره لوبې دي، او خالص انساني هویت او حرام حلال توپیرونه پکې مبهم کیږي.

یادښت:

دا ټول پرمختګونه او ستونزې، که څه هم د انسان د پوهې څرګندونه کوي، خو همداراز د هغه حدونه هم ښیي چې انسان یې نشي او باید نه شي تېریدای . د قرآن کریم هدایت او الهي نظام له دې ټولو مصنوعي هڅو او تجربو نه خورا پاک او باثباته دی.

پایله:

قرآن کریم یو ژوندی معجزه دی، چې هر دور ته خطاب کوي .د" فلیبتکن آذان الأنعام "تشریح د استنساخ له لارې نن ورځ راڅرګنده شوه .شیطان د خلقت الله بدلون ته هڅوي، خو دا" غرور "دی، فریب دی، او د انسان تباهي ده.

خو که همدغه علم د خیر لپاره وکارول شي — لکه د بدن غړو ژغورنه — نو دا له اسلامي رحمت سره موافق کار دی.

حوالي:

[^1]: German Federal Agricultural Research Center

[^2]: Reuters, 1 May 2002

[^3]: BBC News, Snuppy report

[^4]: BBC News, Jean-Paul Renard report

[^5]: Human Genome Project official site, 2002

[^6]: Associated Press, 24 January 2000

[^9]: General risk statistics of cloning, scientific journals



## قلم به ښکاره شي :د قیامت له نښنو څخه

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«(د قلم ښکاره کېدل )...د قیامت له نښو څخه دی»

[رواه أحمد]

دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم له هغو ویناګانو څخه ده چې په ښکاره ډول د قیامت د نږدې والي نښې څرګندوي .نن ورځ موږ ګورو چې لیکل، خپروني، او د معلوماتو انتقال د قلم په واسطه نه، بلکې د کمپیوټرونو، ورځپاڼو، مجلو او کتابونو له لارې په ملیونونو پاڼو باندې کېږي – او دا هره ورځ!

یعني «قلم» یوازې د رنګ یا کاغذ وسیله نه ده، بلکې دا ټول هغه څه دي چې د لیکلو لپاره کارېږي، او نن یې عصري بڼه د کمپیوټر، ټایپ، پرنټر، او الکترونیکي رسنیو له لارې تجلي شوې ده.

خو سوال دا دی:

څوک و چې نبي محمد صلی الله علیه وسلم ته یې دا معلومات ورکړل، هغه مهال چې د مکې په ټول ښار کې یوازې لږ شمېر خلک د لیکلو توان درلود؟

یقیناً، دا یو روښانه ثبوت دی چې محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله له خوا یو رښتینی پیغمبر دی .هغه خبرې یې وکړې چې د خپل وخت نه ډېر مخکې وې – او نن ساینس، ټکنالوژي او ژورنالیزم دا خبرې ثابتې کړې.



## د فحشا بربنډتوب

:د قيامت د نښو اعجازي خبرتيا

حديث شريف:

عن عبدالله بن عمرو قال :قال رسول الله ص:

«لا تقوم الساعة حتى يتسافد الناس في الطريق تسافد الحمير».

فقال :يا رسول الله، وإن ذلك لكائن؟ قال :«نعم، ليكونن».

ژباړه:

عبدالله بن عمرو رضي الله عنه روايت کوي، وايي :رسول الله ص وفرمايل:

"قيامت به تر هغه قائم نه شي، تر څو چې خلک به په لارو کوڅو کې يو له بله سره د خرو په شان زنا( جماع )کوي".

عبدالله وویل" :ای د الله رسوله !ایا دا به واقعاً وشي؟"
آنحضرت ص وفرمایل" :هو، خامخا به کیږي"!

حوالې:

صحیح ابن حبان :حدیث6767
-شعیب الأرناؤوط ویلي" :إسناده صحیح"

مسند البزار :حدیث2353

مصنف ابن أبي شیبة :حدیث38432

الشیخ الألباني :په سلسلة الأحادیث الصحیحة( حدیث )481 کې وویل : "صحیح"

الوادیعي :الصحیح المسند( حدیث" :)796 صحیح"

په حدیث شریف کی چې اشاره ورته شوي نن ورځ په اکثره عربي هیوادونو کې همجنس بازان د سرکونو او واټونو پر سر دا ډول عمل ترسره کوي چې ختی هیڅ دوی ته دا شرم نه ښکاري لکه په څه ډول چی حدیث مبارک کی راځي لکه د خرونو په شان او د سرکونو پرسر ورته ځایونو جوړ شوي.

خو نن ورځ موږ دا صحنې په خپلو سترګو وینو:

په ځینو لوېدیځو هیوادونو کې خلک په ښکاره، په سړکونو، پارکونو، سینماګانو، او ساحلي سیمو کې داسې اعمال ترسره کوي چې پخوا تصور یې هم نه کېده.

د "Public Indecency" یا "Public Sex" نومې پدیدې دومره خپرې شوې دي چې حتی قانون یې نه شي کامل کنټرولولی، بلکې ځینې هیوادونه یې قانونی ازادي هم ورکوي.

دا کار نه یوازې «عادي» شوی، بلکې په فلمونو، سریالونو، او سندرو کې تشویقیږي.

د افسوس خبره:

افسوسناک ټکی دا دی چې ځینې مسلمان هیوادونه هم دا لوېدیځ کلتور تقلیدوي:

د بېحیایۍ خپرونې، فیشن، نااخلاقي فلمونه، او ټولنیزې شبکې دا فضا خپروي.

ځینې خلک دا فکر کوي چې دا پرمختګ دی، حال دا چې دا د ایمان، غیرت او اخلاقي ارزښتونو تباهي ده.

پوښتنه:

څوک و چې نبي محمد صلی الله علیه وسلم ته یې دا معلومات ورکړل؟

نه خو هغه پوهان درلودل،

نه رسنۍ،

نه انټرنیټ،

او نه هم سفرونه د نړۍ ګوټ ګوټ ته.

ځواب:

دا ټول معلومات الله جل جلاله هغه ته د وحی له لارې ورکړل.
الله فرمايي:

(وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ • إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ)
"او هغه د خپل نفس له مخې خبرې نه کوي؛ دا خو یوازې وحی ده چې هغه ته رالیږل کیږي".
—[ سورة النجم :۳–۴]



## سړي به د ښځو په څیر شي او ښځې به د سړیو

حدیث:

روایت يې امام بخاري رحمه الله کړی دی.

وَعَنْهُ قَالَ :قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

«لَعَنَ اللَّهُ الْمُتَشَبِّهِينَ مِنَ الرِّجَالِ بِالنِّسَاءِ، وَالْمُتَشَبِّهَاتِ مِنَ النِّسَاءِ بِالرِّجَالِ».

مشكاة المصابيح حديث.4429

ژباړه:

رسول الله ص وفرمایل" :الله تعالی لعنت کړی دی پر هغو نارینه‌وو چې د ښځو سره مشابهت کوي، او پر هغو ښځو چې د نارینه‌وو سره مشابهت کوي".

رسول الله ص وفرمایل:

«من علامات الساعة أن يُشبّه الرجال بالنساء وتُشبّه النساء بالرجال»

الأولياء وطبقات الأصفياء (3/358) "ابو نعيم.

ژباړه:

"د قیامت له نښو څخه دا ده چې سړي به د ښځو په څېر شي، او ښځې به د سړیو په څېر شي".

(روایت :ابو نعیم)

تشریح او تحلیل:

دغه نبوي حدیث یوه داسې پدیده تشریح کوي چې نن‌سبا یې موږ ښکاره مظاهر وینو:

نارینه چې د ښځو لباس، میک‌اپ، سټایل او حتی حرکات خپلوي( فیمینن چلند.)

ښځې چې د نارینه‌وو جامې، ویښتو سټایل، سګریټ، درانه غږ او نارینه‌و ته ځانګړي چلندونه خپلوي.

د جنسیتي ګډوډۍ (Gender Dysphoria) زیاتوالی.

همجنس وادهونه (Gay marriages) چې نن يې په لسګونو هيوادونو کې قانوني حيثيت موندلی.

د ټرانسجينډر، غير دوديز جنسي هويت، او نورو مفاهيمو پراخوالي، چې له فطرت او ديني اصولو سره ټکر لري.

دا ټول هغه څه دي چې په تاريخ کې بېساري او نامعقوله ګڼل کېدل، خو نن يې دنيا عادي بولي.

ايا دا نبوت نهدی؟

داسې دقيقو نښو ته که وګورو، دا پوښتنه پيدا کيږي:

چا کولی شول چې ۱۴۰۰ کاله مخکې دا ډول عجيب او نادرې پيښې د راتلونکي لپاره وښيي؟

نه د وخت ساينسي وسايل موجود وو؛

نه داسې ټولنيز حرکتونه پيژندل شوي وو؛

نه هم انساني فکر دې مرحلې ته رسېدلی و.

يوازې هغه څوک کولی شي دا معلومات ورکړي چې علم الغيب لري — او دا الله تعالی دی.

نو دا بېشکه د نبوت یو واضح دلیل دی چې رسول الله ص ته دا وحی شوی و.



**سندرغاړي او د موسیقۍ الاتو ډیروالی**

سيكون في آخر الزمان خسف وقذف ومسخ، إذا ظهرت المعازف والقينات، واستُحِلَّت الخمر.

رواه الطبراني، وصححه الألباني في" صحيح الجامع( "رقم.)3665 :

ژباړه:

"په آخره زمانه کې به خسف( ځمکه کې ډوبېدنه)، قذف( د آسمان له خوا ویشتل/عذاب)، او مسخ( د انسانانو بڼه بدلېدل )واقع شي، کله چې موسیقي آلات ښکاره شي، نڅا کوونکې ښځې عامې شي، او شراب حلال وبلل شي".

–روایت :طبراني

–تصحیح :امام الباني رحمه الله، په صحیح الجامع کې( حدیث نمبر)3665 :

د نني حالاتو تطبیق:

نن ورځ موږ په ټوله نړۍ کې د موسیقۍ پراخ خپرېدنه وینو:

زرګونه ښځینه سندرغاړې او نڅا کوونکې،

لسګونه زره تلویزیوني او ستلایټ چینلونه چې ورځ شپه سندرې او نڅاوې ښیي،

موسیقي د ژوند یوه عامه برخه ګرځېدلې.

دا پدیده نه یوازې د رسول الله ص په زمانه کې نه وه، بلکې هېڅ دا تصور هم نه شو کولی چې یو وخت به دا کارونه دومره عام شي.

دا حدیث یوه بله روښانه نښه ده چې رسول الله ص د الله ج له لوري استول شوی دی، ځکه دا ډول دقیقې وړاندوینې یوازې یو پیغمبر کولای شي وکړي، څوک چې الهي وحې ورسره وي.



## د انسان شکل بدلول

سیکون في آخر الزمان خسف وقذف ومسخ، إذا ظهرت المعازف والقينات، واستُحِلَّت الخمر.

رواه الطبراني، وصححه الألباني في" صحيح الجامع( "رقم.)3665 :

ژباړه:

"په آخره زمانه کې به خسف( ځمکه کې ډوبېدنه)، قذف( د آسمان له خوا ویشتل/عذاب)، او مسخ( د انسانانو بڼه بدلېدل )واقع شي، کله چې موسیقي آلات ښکاره شي، نڅا کوونکې ښځې عامې شي، او شراب حلال وبلل شي".

نن مونږ دا هر څه خپلو سترګو سره وینو، او د شکلونو بدلول – که د جراحي له لارې وي، که د تخیلي او شیطاني تمایلاتو له امله – دا هم د همدغه" مسخ " یوه معاصره بڼه ده.

نن ورځ د نړۍ په ګڼو برخو کې خلک د جراحي عملیاتو له لارې خپل شکلونه بدلوي .یو نارینه غواړي ښځینه شي، او ښځینه نارینه کېږي .دا

عملیات ډېر لګښت لري، ځیني خلک سلګونه زره ډالر مصرفوي، یوازې د دې لپاره چې خپل فطري جوړښت بدل کړي.

دوی خپلې سترګې، پوزه، ژامه، غاړه، حتا ټول وجود داسې بدلوي چې د اصلي خلقت نښه هم پکې پاتې نه وي .ځیني خلک غواړي ځانونه د حیواناتو، افسانوي موجوداتو، یا شیطاني څېرو په بڼه واړوي.

دا کار یوازې یو فزیکي تغییر نه دی، بلکې د الله ج پر خلقت، فطرت، او قانون یو ښکاره بغاوت دی.

الله ج فرمایي:

(وَلَآمُرَنَّهُمْ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ اللَّهِ)

(النساء)119 :

ژباړه" :او زه به حتماً هغوی ته امر وکړم، نو هغوی به د الله خلقت بدل کړي".

دا آیت همدا نننۍ فاجعه ښیي — شیطان انسان دې ته اړ باسي چې خپل خلقت بدل کړي، او له فطرت سره جګړه وکړي.

ایا دا نه ده د قیامت له نښو څخه یوه نښه؟

ایا دا نه ده هغه" مسخ "چې رسول الله ص یې خبر ورکړی؟



## شرابو مختلف نومونه

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«ځینې خلک به شراب حلال وبولي، او دوی به پرې مختلف نومونه کښېږدي.»

روایت :احمد

ژباړه او وضاحت:

نن موږ وینو چې شرابو ته مختلف نومونه ورکړل شوي، د شرابو مشهور نومونه او ډولونه:

1. Beer (بیر)

2. Wine (واین – )سور یا سپین شراب

3. Whisky (ویسکي)

4. Vodka (ووډکا)

5. Rum (روم)

(جن6. Gin )

(برانډي7. Brandy )

(ټکيلا8. Tequila )

(شامپين9. Champagne )

(سايډر10. Cider )

(مخلوط شوي شراب11. Cocktails )

(ليکور12. Liqueur )

(ايل13. Ale )

(شنپس14. Schnapps )

(ابسنت15. Absinthe )

(ميډ16. Mead )

(بوربن17. Bourbon )

(سکاچ18. Scotch )

يادونه:

هر هغه مايع چې سکر( نشه )راولي، نو هغه شراب دي – که هر څه ورته نوم ورکړل شي.

<«يشرَبُ ناسٌ مِن أُمَّتي الخَمرَ يُسَمُّونَها بِغَيرِ اسمِها»

(ځيني خلک به زما له امت څخه شراب وڅښي، خو ورته به بل نوم ورکړي.)

[رواه أحمد، وصححه الألباني]

او نور ډول ډول براندوونه .دا ټول هغه نومونه دي چې د رسول الله ص په زمانه کې نه پېژندل کېدل.

نو پوښتنه دا ده:

څنګه يې رسول الله ص ۱۴۰۰ کاله مخکې خبر ورکړی و؟

هغه څوک و چې دا راتلونکی حال يې ورته ويلی و؟



## د وخت تيز تيريدل

نبوي حديث( ترمذي ۲۳۳۲:)

عن أنس بن مالك، قال :قال رسول الله ص:

«لا تقوم الساعة حتى يتقارب الزمان، فتكون السنة كالشهر، والشهر كالجمعة، والجمعة كاليوم، واليوم كالساعة، والساعة كاحتراق السعفة».

ژباړه:

رسول الله ص وفرمايل:

"قيامت به نه راځي تر څو چې زمانه لنډه شي، کال به د مياشتې په شان، مياشت د جمعې( اونۍ )په شان، جمعه د ورځې په شان، ورځ د ساعت په شان، او ساعت د اور د چمک په شان وي".

ساينسي تفسير:

سرچينه:

Scientists discover why time appears to move faster as we age

خلاصه:

دا ساينسپوهان وايي چې د وخت لنډوالي حس د انسان د مغز د پروسس د کمېدو سره تړاو لري .د عمر زياتېدو سره زموږ عصبي فعاليت ورو ورو کيږي، او دا زموږ لپاره وخت لنډ ښکاري .همداراز، ټکنالوژي، موبايلونه، د کار بوختياوې، ټولنيز فشارونه او مجازي مصروفيتونه انسان دومره بوخت کړي چې وخت لکه د اور چمک تېريږي .دا هغه حقيقت دی چې پيغمبر ص ۱۴۰۰ کاله مخکې ويلی و.

۱۴ پېړۍ وړاندې رسول الله ص د قيامت له نښو يوه دا بيان کړه چې" :وخت به لنډ شي ".نن ورځ ساينس دا تاييدوي، او انسانان دا په خپلو سترګو ويني

چې ورځې، اونۍ، او میاشتې داسې تېرېږي لکه یو ساعت، بلکې لکه د برق چمک .دا نبوي پیشګویي، د وحی له لارې ورکړل شوې، نن ساینسي او عامي دا حقیقت ټول مني.



## د ټیکنالوجۍ اړوند

لومړی حدیث – د مسند احمد روایت:

«لا تقوم الساعة حتى تظهر الفتن ويكثر الكذب وتتقارب الأسواق ويتقارب الزمان ويكثر الهرج .قيل :وما الهرج؟ قال :القتل.»

ژباړه:

رسول الله ص وفرمایل:

قیامت به تر هغه را نه شي، ترڅو:

فتنې ښکاره نه شي،
دروغ زیات نه شي،
بازارونه یو له بله سره رانږدې نه شي،
زمانه( وخت )نږدې نه شي،
او" الهرج "زیات نه شي.
یوه صحابي پوښتنه وکړه :یا رسول الله، الهرج څه شی دی؟
نو هغه ص وفرمایل :قتل، وژنه.

دویم حدیث – د صحیح البخاري روایت:

عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ رضي الله عنه قال:
كَانَ رَسُولُ اللَّهِ ص مِمَّا يُكْثِرُ أَنْ يَقُولَ لأَصْحَابِهِ:
إِنَّ الرَّجُلَ لَيَغْدُو مِنْ بَيْتِهِ، فَيَكْذِبُ الْكَذْبَةَ، تَبْلُغُ الآفَاقَ.

ژباړه:

حضرت سمره بن جُندب رضي الله عنه روایت کوي:
رسول الله ص به ډېری وخت خپلو صحابه کرامو ته ویل:
په حقیقت کې، انسان به له خپل کوره سهار ووځي، یو دروغ به ووایي، خو دا دروغ به تر" افاقو( "یعني د ځمکې هر کونج )پورې ورسېږي.

تحليل او وضاحت :د انټرنېټ او حديثونو ترمنځ اړيکه

د" تبلغ الآفاق "مانا:

يعني دا دروغ يا خبر د ټولې دنيا تر ليرې ليرې برخو پورې رسېږي – تر افقونو پورې.

پوښتنه دا ده :آيا د تاريخ په اوږدو کې کومه وسيله شته وه، چې يوه خبره دې دومره ژر، تر ټولو نړۍ رسېدلې وي؟

يواځينۍ ممکنه وسيله يې:

انټرنېټ، ټولنيزې رسنۍ، ټلويزيون او ماهواره ده، چې نن سبا يو انسان کولای شي په څو ثانيو کې داسې دروغ خپور کړي، چې ټوله نړۍ ترې ډکه شي.



## عجیب اختراعات،او د نبي کریم ص اعجاز

نن ورځ نړۍ د حیرانتیا حد ته رسېدلې ده .هره ورځ یو نوی اختراع، یو نوی کشف، او یوه نوې پېښه انسان حېرانوي .خو آیا ته پوهېږې؟ دا ټول شیان ۱۴۰۰ کاله وړاندې د الله تعالی د پیغمبر محمد ص لخوا بیان شوي وو!

رسول الله ص فرمایلي:

«قیامت به تر هغه را نه شي، ترڅو چې تاسو ځینې داسې لوی شیان ووینئ چې نه مو مخکې لیدلي وي، او نه مو کله پخپلو کې پرې خبرې کړې وي.»

[رواه الإمام أحمد،]

کتاب : الفتن نویسنده : نعیم بن حماد ج 1 : ص19 :

سبحان الله !دا عین هغه څه دي چې نن سبا یې ګورو:

انټرنیټ :چې له لارې یې ټوله نړۍ سره نښلول شوې ده؛

موبایلونه او ټلویزیون :چې انسان یې د سترګو په وړاندې د دنیا منظرهویني؛

اتومي وسلې او ډرون ټیکنالوژي :چې په یوه بټن سره ښارونه له منځه وړي؛

عصري الوتکې، جیټې، هیلیکوپټرې دا ټول هغه لوی لوی شیان دي چې انسان یې په اړه فکر نشو کولی؛

نوې ساري ناروغۍ لکه ایډز(AIDS) ، خوګـزکام(Swine Flu) ، کرونا (COVID-19)؛

مصنوعي ذکاوت (Artificial Intelligence) او روبوټونه چې انسان ته ورته فعالیت کوي؛

فضا ته سفر او سپوږمۍ ته رسېدل؛

جین ایډیټنګ او د انسان په ژنونو کې مداخله.

آیا دا ټول هغه" شیان "نه دي چې رسول الله ص پرې خبر ورکړی و؟

پیغمبر ص څنګه خبر و؟

یوه مهمه پوښتنه دا ده :څنګه یو اُمي( نالوستی )انسان د ۱۴۰۰ کالو مخکې دا وړاندوینې وکړې؟

جواب یوازې یو دی:

هغه د الله ج له لوري پیغمبر و .هغه څه یې ویل، هغه څه یې خبر ورکاوه، د خپلې خوا نه وو، بلکې د خدای وحی وه.

(وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ، إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ)

[سورة النجم :آیت ۳-۴]

ژباړه :«او هغه( محمد ص) له خپل هوا نه خبرې نه کوي؛ دا خو يوازې وحې ده چې ورته رالیږل کیږي.»

يو روښانه حقيقت :محمد ص د الله پيغمبر دی

د دې ټولو اختراعاتو، ناروغيو، او ټکنالوژۍ وړاندې خبر ورکول يوازې هغه څوک کولای شي چې د عالَمونو خالق ورسره رابطه ولري .نو دا ټول حقايق په ښکاره توګه دا ثابتوي چې:

محمد ص د الله استازی دی، او قرآن کريم د هغه خدای کتاب دی، چې پر هر څه خبر دی!

سبحان الله وبحمده، سبحان الله العظيم!



## اعمال به د قيامت په ورځ حاضر وي

قرآني آيت:

(وَوَجَدُوا مَا عَمِلُوا حَاضِرًا)

[الكهف :۴۹]

ژباړه:

«او دوی به هر څه چې يې کړي وو، مخامخ حاضر ومومي.»

قرآني پيغام:

دا آيت بيانوي چې د قيامت په ورځ به انسان ټول خپل اعمال" حاضر"، يعنې مخامخ او څرګند ويني، داسې لکه چې ليدل کېږي .دا يو ژور او حيرانوونکی تصور دی.

علمي اشاره – د وخت مفهوم او نظريه نسبيت:

نسبيت تيوري څه وايي؟

د آينشتاين د نسبيت خاصه تيوري (Special Relativity) وايي:

که یو جسم د رڼا د سرعت (km/s۳۰۰،۰۰۰ ) سره حرکت وکړي، نو د هغه لپاره وخت ورو کیږي.

که فرضاً یو انسان د رڼا د سرعت نږدې حرکت وکړي، ده ته وخت تېر نه ښکاري، خو نورو ته شاوخوا وخت تېریږي .دا ته time dilation وایي.

که څوک د رڼا له سرعته چټک حرکت وکړي نو ده ته به تېره شوې پېښه هم بېرته معلومه شي .دا ته time reversal یا retrocausality وایي.

د وخت ثبات نښته

په فزیک کې وخت یو مطلق شی نه ګڼل کیږي، بلکې د مشاهده کوونکي له حرکت سره بدلیږي .دا مانا لري چې:

پېښې شونې ده ثبت شي،

یا، د وخت په یو ځانګړي حالت کې بېرته وکتل شي.

فزیکي تشبیه – لکه فلم یا ډیتابېس

نن موږ کولای شو:

یو فلم یا ویډیو ثبت کړو

چې يې هر وخت، هر صحنه له سره وګورو

دا تکنالوژي موږ ته ښيي چې انساني عملونه، که ثبت شي، لکه په DNA کې نوکولای شو وروسته يې وګورو .دا يو کوچنی مثال دی د قيامت د هغې صحنې لپاره، چې الله تعالی فرمايي" :هر عمل به حاضر وي".



## د ګوګل سمارټ بوټان او ګرځنده موبايل

اپليکيشنونه – د نبوي حديث تحقق

نبوي حديث:

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه، قَالَ:

قال رسول الله ص:

«لَا تَقُومُ السَّاعَةُ ...حَتَّى تُكَلِّمَ الرَّجُلَ عَذَبَةُ سَوْطِهِ، وَشِرَاكُ نَعْلِهِ، وَيُخْبِرُهُ فَخِذُهُ بِمَا أَحْدَثَ أَهْلُهُ بَعْدَهُ»

[ سنن الترمذي، حديث | 2181 :الحاكم، المستدرک – 4/541 صحيح على شرط الشيخين]

ژباړه:

رسول الله ص وفرمایل:

قیامت به تر هغه وخته نه قائمیږي تر څو چې ښکاریان له خلکو سره خبري ونه کړي او تر هغه وخته پوري چې د سړي د څټکي او د بوټانو تړانګه ورسره خبري ونه کړي او ورون یې له هغه وروسته خبر نه کړي چې د هغه له کورنۍ سره د هغه وروسته څه شوي دي.»

ساینسي اعجاز:

نن ورځ موږ ګورو چې:

1. د ګوګل سمارټ بوټان(Google Assistant, Siri, Alexa, Bixby)

دا داسې مصنوعي ذهانت لرونکي غږیز بوټان دي، چې د انسان غږ پېژني، پوښتنو ته ځواب ورکوي، او د هرې وسلې سره وصل کیدای شي.

انسان ورته وایي, "Hey Google! What happened at home?" :
نو بوټ ورته وایي :

کور ته څوک راغلي وو.

څوک دروازې ته ولاړ دي.

څوک حرکت کړی، او چا څه شی فعال کړي.

دا بوټ د معلوماتو خبرې کوونکی او ذکي همکار ګرځېدلی، چې دقیقا د حدیث تعبیر دی :

«يُخْبِرُهُ بِمَا أَحْدَثَ أَهْلُهُ بَعْدَهُ»

دا عین هماغه خبره ده چې رسول الله ص ۱۴۰۰ کاله مخکې کړې وه، پداسې حال کې چې خلک به د اوښ پر شا ګرځېدل.

## 2. ګرځنده موبایلونه او اپلیکیشنونه (Mobile Phones & Smart Apps)

نن ورځ هر انسان د خپلې کوړې پر ځای یو موبایل فون لري، چې له هغې سره خبرې کوي.

اپلیکیشنونه لکه :

– Google Home کور کنټرولوي.

– SmartThings د کور سامانونه وصلوي.

– CCTV Live Viewکورنۍ ښاري، ثبتوي، او خبر ورکوي.

– Notification Alertsهر خبر ژر انسان ته استوي، حتی که په بل هېواد کې وي.

د حدیث دا جمله:

«تُكَلِّمَ عَذَبَةُ سَوْطِهِ، وَشِرَاكُ نَعْلِهِ»

یعنې هغه وسایل به خبرې کوي چې له ده سره وي — دا نن موبایلونه، سمارټ واچونه، او غږیز بوټان دي، چې هر وخت زموږ سره وي.

عقلي دلیل:

دا ټوله پرمختیا، چې نن یې انسان حیران کړی، د اسلام ستر پیغمبر ص ۱۴ پیړۍ وړاندې د قیامت له نښو څخه ګڼلې .که دا خبرې یوازې اټکل وای، نو باید ناسمو ته روان وای، نه دا چې یو له بل پس راښکاره شي.

پایله:

د ګوګل سمارټ بوټان او د موبایل غږیز اپلیکیشنونه نن له انسان سره خبري تعامل کوي، داسې چې هغوی ته وایې، هغوی ځواب درکوي، او ستا د کور حالات درسره شریکوي.

دا د نبوت واضح اعجاز دی، چې په بې علمه، بې وسایلو زمانه کې یې داسې ساینسي، تخنیکي، او ژور پیشګویي کړې، چې نن یو یو تحقق مومي.

آیا دا تصادف دی؟ که دا د هغه ذات له خوا وحی ده چې عالم الغیب دی؟

(وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ * إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ)[ النجم]4-3 :

(محمد ص له خپلې غوښتنې خبرې نه کوي، دا خو یوازې وحی ده چې ورته کیږي.)



## مخبراتي ټيکنالوجۍ

(وَإِذَا ٱلنُّفُوسُ زُوِّجَتۡ)

ژباړه:

"او کله چې خلک سره يوځای کړای شي ".(القرآن ۸۱:۸)

د قرآن کريم ساينسي نښې

د عصري مخابراتي سيستمونو اعجاز

دا ايات که څه هم د قيامت ورځې بيان دی خو په نن عصر کی يي قرآن اعجاز ته هم اشاره کړي،لکه چټک ترانسپورتي وسايل، تليفون، سټلايټي سيستمونه او انټرنيټ انسانان دومره سره نږدې کړي چې نن ورځ د قرآن کريم د حقانيت پخلی کوي.

که د قران کریم هر یو ایات ته او هرې یوې جملې ته په ژاور نفوظ وګورو نو هر یو خروف یې اعجاز ګڼلی شوی دی، څکه نن ورخ موږ هغه څه وینو چې قران کریم ۱۴۰۰ کالهمخکې په خپلو الفاظو کې رانغښتي دي،او نه یې چا اړوند تصور کولی شو.



## په DNA کې د الله تسبیح

حمض نووي (DNA) څه شی دی؟

DNA (حمض نووي) یو کیمیاوي سلسله ده چې په بدن کې د هر ژوندي موجود د جوړښت، وده، او فعالیتونو لارښود وي .دا د یوه کتاب په څېر دی، خو نه د کاغذ پاڼې لري او نه لیک .بلکې دا معلومات پکې د څلورو حرفونو په بڼه ثبت دي:

A (Adenine)

T (Thymine)

C (Cytosine)

G (Guanine)

دا څلور" حرفونه "سره يو ځای کيږي، او دا ترکيبونه د انسان جسد ټول معلومات ذخيره کوي .نو لکه څنګه چې موږ د کلمو لپاره توري لرو، بدن هم د ژوند د پيغام لپاره دا څلور حرفونه کاروي.

٢ .دا DNA څنګه سره تړل شوی؟

DNAداسې تصور کړه لکه دوه ځنځيرونه (double helix) چې سره تاو شوي دي .دا دواړه ځنځيرونه د ځانګړو پلونو يا جسورونو له لارې سره نښلول شوي دي.

دا جسورونه د سلفر يا ګندک (sulfur) له موادو جوړ شوي، او دا ترتيب يې ثابته بنه لري:

10 ماليکولونه → يو جس

5 ماليکولونه → يو جس

6 ماليکولونه → يو جس

5 ماليکولونه → يو جس

يعني دا تسلسل داسې دی:

10 – 5 – 6 – 5

۳ .دا اعداد څه معنا لري؟

دلته حيرانونکی ټکی دا دی :دا شمېرې هماغه دي چې د پخواني ابجدي (Numerical Alphabet)سيستم مطابق د خدای نوم ته اشاره کوي.

په ابجدي ترتيب کې:

ی10 = (Y)

هـ5 = (H)

و6 = (W)

هـ5 = (H)

نو دا حروف سره يوځای شي :ي هـ و هـ = يهوه(YHWH)

دا نوم" يهوه "د الله تعالی نوم دی، چې په تورات کې هم د خدای نوم بلل شوی.

په اصل کې دا نوم همغه" الله "دی، خو د پخوانيو ژبو په لهجه او رسم الخط.

۴ .دا ولې مهم دی؟

کله چې ساینس‌پوهان د DNA ترتیب وڅېړي، دوی دې ته متوجه شي چې د انسان په ژنوم کې، د الله نوم د یو ثابت ترتیب سره ښکارېږي.

لکه څنګه چې قرآن فرمايي:

وَإِن مِّن شَيْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِ

«او نشته هیڅ شی، مګر دا چې د هغه د حمد تسبیح وايي.»

(الاسراء :۴۴)

یعني حتی د انسان د بدن داخل ژور ژور جوړښت هم د الله په نوم تسبیح وايي .دا نه یوازې یو دیني حقیقت دی، بلکې ساینس یې هم تأییدوي.

پایله:

هر حجره، هرDNA ، او د بدن هره برخه، یوازې یو پیغام لري:

خالق یوازې الله دی.

او لکه څنګه چې قرآن وايي:

سَنُرِيهِمْ آيَاتِنَا فِي الآفَاقِ وَفِي أَنفُسِهِمْ...

«ژر به موږ دوی ته خپلې نښې وښیو، په آسمانونو کې او د دوی په نفسونو کې...»(فصلت :۵۳)




## امام مبين اوDNA

(إِنَّا نَحْنُ نُحْيِي الْمَوْتَىٰ وَنَكْتُبُ مَا قَدَّمُوا وَآثَارَهُمْ ۚ وَكُلَّ شَيْءٍ أَحْصَيْنَاهُ فِي إِمَامٍ مُّبِينٍ)[ يس]12 :

ژباړه:

بېشکه موږ مړو ته ژوند ورکوو، او موږ ليکو هغه څه چې هغوی مخکې کړي، او د هغوی آثار (هم)، او هر شی مو په واضح امام (کتاب) کې شمېرلی کړی دی.

د تفسير او علمي تحليل تفصيلي ژباړه:

ډاکټر غلوش وايي :موږ ټول پوهېږو چې زموږ اعمال ليکل کيږي، ساتل کيږي او احصا کيږي .خو دا" کتاب "کوم دی چې زموږ اعمال پکې ليکل کيږي .هغه کتاب د انسان DNA (د انسان وراثتي کوډ يا د وجود کيمياوي ژبه) دی.

علم ثابت کړې ده چې د DNA وراثتي دنده يوازې ۲٪ ده .يعنې زموږ د بدن ژنتيکي ميراث يوازې لږه برخه جوړوي .نو پاتې ۹۸٪ څه کوي؟ دا برخه ډېر مهم معلومات ساتي، لکه:

ستا فکرونه، نيتونه، احساسات، حتی هغه څه چې په زړه دې تېر شوي، خو نه دي ترسره شوي؛ ټول په DNA کې ثبتېږي.

دا برخه د نورو جينونو تنظيموونکی دی :ځوک به فعال وي، ځوک به بند وي؛ دا په مستقيم ډول ستا د افکارو، چاپېريال، خوراک، توتر، ژوند طرز، حتی د نيا او مور له ژوند څخه اغېزمنېږي .دا علم ته "Epigenetics" وايي.

د امام مبين معناوې او د DNA سره تطبيق

امام هغه څوک وي چې مخکې روان وي، لارښود وي .نو د" امام مبين "معنا دا ده :يو داسې مخکښ کتاب چې ستا ټول تقدير، افعال، فکرونه، او اينده پکې مخکې ثبت شوې ده .دا دقيقاً هماغه DNA دی چې ستا جوړښت هم ترې پيل شوی دی.

دا" امام "ټول انتخابونه لري:

ستا د وجود جينونه ټول صفات لري :صداقت، دروغ، خيانت، امانت؛ خو ته يې پخپله فعالوې .يعنې د هرې لارې دروازه شته، خو ته ټاکې چې کومه خلاصه کړې .دا علم ته Epigenetics وايي – ته دروازې پرانيزې يا بندوې.

نو ځکه دا کتاب امام دی :ځکه ته خپل اعمال، خپل صفات، خپل شخصیت ترې اخلي؛ هغه مخکې دی ستا له اعمالو نه، ته یې تعقیبوې.

"مبین "څه معنا لري او ولې الله دا صفت وکاراوه؟

مبین یعنې واضح، څرګند، پټوالی پکې نشته.

کله چې ته دروغ وایې، ته پخپله پوهېږې چې دروغ دې ویلي، ځکه دا انتخاب دې ستا له DNA څخه کړی دی، نو نه شي کېدای چې ووایې" :زه نه پوهېږم"!

مبین داسې څه ته هم وایي چې جلا کېږي او بیا یوځای کېږي.

دا د DNA ځانګړنه ده :لکه یو پټه زولنه، یا ضفیره، یوځای کېږي، بیا جلا کېږي، د معلوماتو د لوستلو لپاره.

مبین داسې څه هم دی چې بې‌پایانه اوږدوالی ولري.

د انسان ټول DNA که وغځوو، نو اوږدوالی یې ۸۰۵ میلیونه کیلومتره کېږي؛ یعنې شاوخوا ۶۰۰ ځله شاته او مخکې د ځمکې او لمر ترمنځ فاصله!

مبین همداراز د مفاهیمو روښنوالی، شفافیت، او د انتخاب څرګند والی لري .
هر جین لکه دروازه ده چې صفات پرې لیکل شوي، ته پوهېږې چې دا

دروازه که خلاصه کړې، څه نتیجه به ورکړي .دا د الله له خوا د عدل نهایي تجلي ده.

نو پایله دا ده:

دا" إمام مبین "د انسان DNA دی — یو معجز کتاب، چې:

ستا وجود پکې کوډ شوی،

ستا تقدیر، انتخابونه، افکار، نیتونه پکې ثبت دي،

د ژوند نه وروسته هم دا پاتې کېږي (په" عَجْبِ الذَّنَب "کې چې حدیثونه یې ذکر کوي)

او ستا له مړینې وروسته هم آثارت (د خیر یا شر) پکې لیکل کېږي،

دا دومره دقیق، ثابت، او نه تغییرېدونکی دی، چې الله حساب پکې اخلي.

یوه روحاني خبره په پای کې:

قرآن داسې خزانه ده، چې یوازې هغه کسان یې درک کولی شي چې تأمل، علم، او تقوی ولري .دا آیت د یو ستر علمي، روحاني او فلسفي حقیقت

 څرګندونه ده، چې نن ساينس تازه درک کړی، خو قرآن ۱۴۰۰ کاله وړاندې واضح بيان کړی و.




## د کتابونو خپرېدل

بسم الله الرحمن الرحيم

(وَإِذَا ٱلصُّحُفُ نُشِرَتۡ)

(سورت التکوير، آيت :۱۰)

ژباړه:

«او کله چې کتابونه خپره شي.»

تفسيري وضاحت:

الصحف :جمع ده د" صحیفه "څخه، چې معنا یې ده لیکلي اسناد، پاڼې، کتابونه یا اعمالنامې.

نشرت :معنا یې ده خپارول، پراخول، یا ویشل.

په تفسیرونو کې بیان شوی چې دا آیت د قیامت پر مهال د خلکو د اعمالو صحیفې ته اشاره لري؛ خو که له بلې زاویې نه وګورو دا ایات دا معنا هم ورکوي چې کتابونه او علم به خپور شي

علمي نښه :د کتابونو خپرېدل – یو حیرانوونکی اعجاز

که څه هم دا آیت اصلاً د قیامت له نښو څخه دی، خو دا هم له هغو آیتونو څخه شمېرل کېږي چې ظاهراً د دنیا له حیرانوونکو تحولاتو سره ژور تړاو لري.

په همدې آیت کې یوه بله نښه هم راښکاره کېږي :د انسان لیکلي اسناد او کتابونه به خپرېږي، عامېږي، او پراخېږي – چې دا د چاپخانې د اختراع، د کتابونو چاپ، او د علم پراخ خپرېدو ته اشاره کوي، دا یوه داسې نښه وه چې ۱۴ پېړۍ مخکې بیان شوې وه، هغه مهال چې:

لیکل ډېر کم و.

کتابونه په لاس لیکل کېدل.

د علمي اسنادو خپرېدل تقریباً ناممکن وو.

عام خلک د لیک، لوست او کتاب سره بلد نه وو.

چاپخانه

په ۱۵مه میلادي پېړۍ کې کله چې «ګوتنبرګ» د چاپ ماشین اختراع کړ، د علم، کتاب او لیک فرهنګ کې یو ستر بدلون راغی .دا وخت د دې آیت د ظاهري معنا یو ژور تحقق هم و.

نن ورځ:

کتابونه په ملیونونو کاپي خپرېږي.

د PDF او ای-بکونه هر سړي ته د موبایل له لارې لاسرسې لري.

علمي لیکنې، ژورنالونه، او بلاګونه هر ځای خپرېږي.

دا ټول د دې آیت یو موازي تحقق ګڼل کېږي، که څه هم دا د قیامت نښه ده، خو د دنیا په تحولاتو کې هم یو اعجازي مصداق نن ورځ لري.



## ډیجیټل کتابونه

(وَمَا أَدْرَاكَ مَا عِلِّيُّونَ ۝ كِتَابٌ مَّرْقُومٌ ۝ يَشْهَدُهُ الْمُقَرَّبُونَ)

(سورت المطففين، آيتونه ١٩ــ٢١)

ژباړه:

«او ته څه پوهیږې چې" علییون "څه شی دی؟ دا یو ثبت شوی کتاب دی . هغه ته نږدې شوي وګړي ګوري.»

د قرآن کریم علمي نښه:

"ډیجیټل کتابونه – "د کاغذي کتابونو ځایناستي

موږ پوهیږو چې دا ایات مبارک د الله سبحان وتعالی د مقربو بنداګانو د کتاب علییون اړوند خبرې کوي، خو دا چې قران کریم د نښانو کتاب دی نو قرآن

کریم ۱۴۰۰ کاله مخکې داسې یو حقیقت بیان کړی، چې هغه وخت هیڅ امکان نه درلود، خو نن یې علمي تحقق شوی :یو ثبت شوی، شمېرل شوی کتاب، چې خلک یې وایي نه، بلکې ګوري .دا د هغو ډیجیټل کتابونو صفات دي، کوم چې نن سبا موږ لرو او کاروو یې.

د آیت علمي تحلیل:

«كِتَابٌ مَرْقُومٌ»:

دا جمله معنا لري" :یو ثبت شوی کتاب."

عربي لغت" مرقوم "د" رقم "له ریښې څخه اخیستل شوی، چې معنا یې ده : شمېره شوی، ثبت شوی، یا کوډ شوی.

نن سبا، موږ" رقمي "(Digital) سیستمونه لرو، چې د معلوماتو ثبتول په صفرونو او یوونو (0s and 1s) سره ترسره کېږي.

قرآن کریم پخپله شمېرل شوی دی (سورې، آیتونه، برخې، اعداد).

خو دلته الله تعالی وایي :«وما أدراك ما عليّون؟» یعنې" :ته نه پوهېږې چې علیيون څه شی دی؟"

دا اشاره کوي چې دا کتاب د انسان د هغه وخت له عادي فهم نه ډېر پورته دی .یعنې دا نه یوازې یو شمېرل شوی کتاب دی، بلکې یو داسې ډیجیټل ثبت شوی تاریخ دی، چې له هغه څخه نور خلک" ګوري"، نه دا چې یوازې یې لولي.

«يَشْهَدُهُ الْمُقَرَّبُونَ»:

